د غلام محی الدین افغان شپیتم تلین

www.libtool.com.cn

د غلام محی الدین افغان افکار او آثار

د کابل پوهنتون خپرونی

۱۳۶۰

د غلام محی الدین افغان شپیتم تلین

د
غلام محی الدین افغان
افکار او آثار

خپروونکی

کابل پوهنتون

PROPERTY OF ACKU 1509

د ژبو او ادبیاتو پوهنځی

۱۳۶۰

ناست له ښي خوا: محمد ابراهيم، حاجي گل احمدخان، فتح محمدخان، محمد امين خان، قمرالدين خان لغمانی، ميرزا سرخان
ولاړ له ښي خوا: ميرهاشم لغمانی، شير احمدخان، عبدالسلام خان، عبدالهادي خان داوي، عبدالحي خان جبارخيل

یاد ښت

د شلمې پېړۍ له پیل سره نړیواله پانګواله (سرمایه سالاري) خپل لوړ ستونځ (امپریالیزم) ته په رسیدو کې وه او په دې توګه یې د رابرڅولو لپاره پاتکېزه (طبقاتي) او خپلواکیزه ژوند جګړه په نړیواله کچه ورځ تر ورځ تودیده او توندیده. د اروپایي او بیا په تیره د انګریزي ښکیلاکګرې او ځبېښاکګرې پانګواکۍ (امپریالیزم) پنځګونې لوټوچې او په ځانګړې توګه اسیا، افریقا او لاتینه امریکا په خپلو تورو منګولو کې نیولې وې او په دې ډول یې د ځمکې غونداري پرېوې څلورمې واکمنې او یادار ي چلوله. په هماغوشپو ورځو کې چې دغه خونړي تالانګر او نورسره په خپلو منځو کې د لاسکتوو (محکومو)، ښکیلاونیم ښکیلو هیوادو پرویش او انحصاریو بل ته ګوابنیدل او له دې سره د نړیوالې انسان د ښمنې پانګواکۍ په دننه کې د ضد و بډ او مقابل زرې ورو ورو سررا واهه او وده یې موندله. پاتکېزو او ژغورنده ملې پاڅو نونو او غورځنګونو پر له پسې زور اخیست او دغه ویش او انحصار په لار کې یې ورته درنې درنې کړکېچ اچولې. ترڅو د لومړۍ نړیوالې جګړې اوربل شو او د لاسبرو خپل منځې اخ و ډب او د لاسکتوی تېنګاریزا (مقاومتي) غورځنګونه سره یو لاس شول، له دې سره نړیوالې وینې څښونکې پانګواکۍ د رانسکورېدو بهیر (پروسې) پیل وموند او پر ځای یې د یوه نوي نیاومن ټولنوتیزا (اجتماعي ـ اقتصادي) نظام بنسټ په ټینګیدو شو.

د ((اسیا بیداري)) دلیکوال خبره هغه تاریخي شیبه رارسیدلې وه چې په متمدنه او پرمختللې اروپا له خپل پرمختللې او ځلاند تخنیک، شتمن او هراړخیز فرهنګ او مشروطیت سره سره د یوه ستر نړیوال تاریخي ونج له ویرې د منځنیو پېړیو د ټولو وروسته پاتې او وروستو نظامونو ملاتړ وکړي او مخ پر ځوړ ې او زوال بورژوازي یې د مزدورې مریتوب د ساتنې په هڅه له ټولو زوال شویو او زوالیدونکو ځواکونو سره لاس یو کړي.

د نړیوالې پانګوالې او د روسیې د ۱۹۰۵ کال غورځنګ اسیا له درانه خوبه راویښه کړه په سلو میلونو ناپوهې ځپلو وګړو چې د منځنیو پېړیو په تورتم کې یې تېراوې وهلې،

www.libtool.com.cn

د نوي ژوند · د لومړنيو انساني حقوقو او ديموكراسي لپاره راپاڅيدل · د نـړۍ
د پرمختللو هيوادو كارګران په پوره شوروشوق او تلوسه له تولو بنسو سره د ځمكې
غونډاري په تولوبرخو كې ننړيوال ژغورندوه غورځنګ د دغـسې پيارې ودې څارو وو ·
د اروپا بورژوازي چې د كارګري غورځنګ له زوره په ويره كې وه · ځان د ارتجـاع،
پوځيانو، كشيشانو او جهل پالو په غيږ كې وا چاوه · مګر د اروپايي هيوادو پرولتـاريا
اودآسيايي هيوادو ځواني د يموكراسۍ چې پر خپلو ځواكونو او وګړنيو پرګنو يې ډ ا ډ
او باور درلود · د هغې پر له پسې ور ستيـدونكې بورژوازي ځاى نيوه · د اسيا ويښتيـا
اود اروپا د پرمختللو كارګرانو د واكمنۍ لپاره د مبارزې پيل د نړۍ د تاريخ د يوه نـوي
څپركي نښانه وه چې د شلمې پيړۍ په سركې پرانيستل شو ·

www.libtool.com.cn

سړى اټكل كولاى شي چې د جهاني پينليك په داسې نازكو شيبو كې په د اسيـا
پر زړه څه تيريدل دغلته د اخونړي امير عبدالرحمن (۱۸۸۰–۱۹۰۱) ترغيوږ الـى
زورواكي لاندې د افغان اسكيرلي او زارځپلي ولس ساستوني ته راغلي اود اسيايـى
استبداد هغه بد ترينه بيلګه پرې ازميل شوې وه ·

له بهره د نړې يخورو انګريزي پانګواكانو اوله دننه د ځبيناګرونيو الانو نادودو —
اوناخوالو له اده باده ايستلى او كنكال ونكال كړې و · هيواد وران ويجـار
او انسانيت پكې زموك زموك اولتار لتار و ·

ترڅو تري خداي خونړۍ امير واخيست او پر ځاى يې ورته د امير حبيب الله خا ن
(۱۹۰۱–۱۹۱۹) غونډې يو چرچه مار امير وربه برخه كړ اوداكابو پيدا شـو ه
چې ننل شوي اوشړل شوي حنګياليان · سوبمنان اوروښاندان بيرته خپلـى
پلرنۍ خاورې ته راستانه شي اود دوغبرګونو ځبيناګرو (اميرا او انګريز) په وړ اندې
خپله ژغورنده غبرګونې جګړه پيل كړي · نوكه د جلاد عبدالرحمن خان مريـنـه
تصادفي وه مګر ترڅنګيه يې تولې نړيوالې پيښې تصادفي نه وې · نړيواله ژغورنـده
پاڅيزه اوخپواكيزه ژوند جګړه يوه غوغ پړاو ته رانژدې كيده · اسيا په راويښيدو وه ا و
زړه يې په بوز نيده و · يوخواته لوتماري اوجګړه ماري انګريزي پانګوالي د خپل ژوند پـه
وروستيو سلګيو كې تريل هروخته د دغسې خاورې پر اوسيدونكو ظلم وزور راوستى ؤ نـو
له بل لوري په ويږ شمالي ګاونډي هيواد روسيه كې د ښخاري پانګواكي جرړې هـم
په غوڅيدو وې او له ستې څخه يې د يوه نوي سوله دوست او انساندوست نظـام
غوړ كې او تانونه په رازرغونيدو وو ·

په دې توګه له يوې خوا له شماله د ښخاري پانګواكى له دننه پاڅيزوا وله بلې خـوا
له ختيځ اوسويله د انګريزي پانګواكي له دننه ژغورندوملي غورځنګونواغيزو د افغـا ن

ولس غبرګوني ژوند جګړه ورځ په ورځ تود وله او توند وله . له عثماني تورکيې نه نيولــی تربرتانيي هنده پورې دفرارشويو روښاند و زده کړه والو افغانانو بيرته راستيد نــــی د دغې ژوند جګړې لار او لورې تـوره هم ورسيخوله او هغې ته يې پر له غبنتـــی بنهـه ورکوله او بيا په تيره چې دغو مخکښو انقلابيانو شاهي دربارته لارموندله او د محمود طرزي غوندې يوه روښـانـدي انقلابي سرغندوي شخصيت يې لارښوونه کوله .

www.libtool.com.cn

دغـسې يوه رښتيني افغان بچي وکړای شول دخپلوۍ له لارې په دربارکـــــی ځای ونيسي اوله هماغه دربار او نورو کورنيو اوپهرنيو ناخوالو پرضــــــد نورجنګياليان او فرهنګياليان له ځان سره ملګري کړي . نورنود افغان ولس دخپلــی غبرګوني ژوند جګړې لپاره دتورې اوقلم غبرګوني درستې پرکار اچولې وې . سراج الاخبار اوسراجيه دارالمعلمين دنوي انقلابي پښت دروښانـــوني او روزنې لپاره دبلومشالونو او بلسيندو په څير يو پربل پسې منځ ته راغلل اودناپوهۍ دتورې شپې په زړه کـــی د سپيدې چاود پيلامه شوه .

د دغه ولس د تورې او غيرت ژبې پښتو دخپرونو اوکتابونو ژبه شوه اوپه دې توګه يـــی د نوي ادبي او علمي ژوند بنسټ کيښوول شو . د هيواد دمطبوعاتو پلار ، محمود ــ طرزي د سراج الاخبار د پښتوليکوالو اوشاعرانو په لړکې لمستغنی ، داوي ، صالح محمد کندهاري ، عبدالسلام ، محسن کندهاري ، ملامحمدعرض بيګی ، عبدالرسول محمــدزي ، ملاعبدالباقي اوبيا ترټولو دمخه دمحی الدين افغان غوندې پياوړي همکاران پيدا کړل . محی الدين افغان له نوي زده کړې اونويو انقلابي افکاروسره له برتانيي ـــ هندوستان څخه خپل هيواد ته راستون شوی و . دخپلې مينې اووګړو وژغورنې تودولوـ لوبې په زړه کې غځونې کولې اوويل به يې :

زړه زما پك د ی له مينې د وطن
خپل وطن ماته عزيزدي له خپل تن

له يوې خوابه يې په خپلو هيوادپالو اوانقلابي ترانو د سراج الاخبار پاڼـی رنګينولې اوله بلې لورې به يې د سراجيه دارالمعلمين له لارې دځوان ځواك په انقلابي روزنه کې برخه اخيسته . په کوراوکلوب کې يې د سياسي سازمانو رلانبوونه اوسرغندوبې کولــــه او په ديوان اودوترکې به يې ملې اوعلمي خبرې اترې اومرکې .

دکورنې نيوواكي اوپهرنی امپرياليستي واکمنۍ دځبيښناك اوښکيلاك په وړاندې په توده مبارزه کې دغلام محی الدين افغان هراړخيزه ونډه بنه پوره څرګنده اوجوته وه . ده دميوند له سوبمنانو سره دخپل تبعيدلوزده کړې په وخت کې دانګريز ې

باداري پرضد له هندي او په ځانګړي ډول له پښتني ژغورند و ملي مبارزينـــــو څخه ډ يره پوهه او ازمينښت ترلاسه کړی ؤ اوبه دې چمونوښه پو هيدہ چې څنګه پـــه خپل هيوادکی سياسی مبارزه په پرله غبتني (منسجم) اوسازمانی توګه دود کـــړي اوپرمخ يې يوسی ·

دمشروطه غو ښتني اوبياخپلواکۍغوښتني په غورځنګ کې د نورو همسنګرانو ښې مټ ؤاو داکومه هيښنده خبره نه وه چې په جنازه کې يې لوی ملی او ملي خلک ګډون وکــــړي او نوم يې تل لپاره دافغان ولس دملي ، سياسئ علمی او ادبی غورځنګونو تــاريـــخ کی په زرينو ليکــو کښلی پاتی شی ، نوځکه ورته وايو :

ته پرتنګه وې ولاړ په ننګه کې مړ شوې
هم پر ننګه دې په ننګه کاځان جار !

کله چې دافغان شپيتم تلين د نمانځنې لپاره مو مقدماتی کاربيل کړ · نود مشورتي کميسيون په پريکړه داوستيله شوه چې پـــه سراج الاخبارکی د ده خواره واره خپاره شوي شعرونه اوليکنی او نورې ليکنی راټولی شیٔ دغه کار دژبو او ادبياتو د پو هنځـــی درياست له خوا زلمی هيوادمل ته وسپارل شو · نوموړی دغه کار وکړ ، د ده منظـــوم او منثور آثار اونوري ليکنی يې راټولی کړې ، اويوه سريزه يې هم پرولیکله · ماتــــه داکاررا سپارل شوي و ، چې په سراج الاخبارکی دپښتو په ونډه يو ه مليکنه وکـــړم چی د دغی مجموعی په پيل کی چاپيږي · موږ دوارو خپلی راسپارل شوې چــــاري سرته ورسولی ، اودغه مجموعه مو تياره اوچاپ کړه ·

دکابل پوهنتون د دژبو او ادبياتو پوهنځی ته دادډ ير ويا ړ اوخوښی وړ خبره ده چې دافغانستان دخلکو ديموکراتيك انقلابی ګوند اوديموکراتيك وګړنی جمهوري دولـــت له پرمختللی او انقلابی فرهنګی کړنلاري سره سم دغلام محی الدين افغان غوښتـــــي د داسی يوه نوميالی جنګيالی او فرهنګيالی افغان بچی شپيتم تلين نمانځی اودهغــــه داندوژوند په باب دغه ګټور اثر دملی او فرهنګی تاريخ مينو هيـــوادوالوته په مينـــــه وړاندې کوي ·

تلپاتی دې وي د پرمختللی تيرملی فرهنګ بلی ډيوې !

پو هاند دوکتور مجاور احمدزيار
دژبو او ادبياتو پوهنځی رئيـــــــــس
کب ــ ۱۳٦۰

www.libtool.com.cn

په سراج الاخبار

کې

د پښتو نلبه

ليکوال

پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار

کله چی په یوه تولنه کی پاتکیمزار پیچونه خپل پخوالی او سختوالی ته ورسیږي او زیږ ندو په ځوا کونه یی دبی نیاوو زیږ ندو یوار یکوله نا خوالو نه په تنگ او بیا ور سره په جنگ شی ، نو هرو مرو دهغی تولنی ځند نی بشپړ تیا یی بهیر بیرنی کوي او دیوه ښستیز او خرنگیز او ښتن په درشل کی یی دروي · له یوه دغه را ز یو واریز او ښتون یا تولنیز انقلاب سره د تولنی رو ښانده (روشنفکر) پوړ دهو لار ښود او سرغندوي ځواك په توگه دکم یو هو زیږ ندو یانو او زیاکښانو لار ښوونی ته را دانگی ، او مو خن (هدفمن) بهیر ته یی ورسیخوي · دهغوي دپاتکیزي او سیاسی ځانخصری‌لپاره ترهر څه دمخه دښوونی او روزنی لاری چاري پلتی او فرهنگی ودی یی په پام کی نیسی چی په دې لړ کی خپرونی او تولیزی رسنی (رسانه هاي گروهی) ددغو تولو هڅو په سرکی ځاي نیسی او دیوې بلینډي اوبلی ډیوې په څیر ورته زیات ارزښت ورکول کیږي ·

موږ گورو چی په افغانستان کی دتیرې پیړی په پاي او د دغی پیړی پیل کی سیاسی ځواك له پلوه نژدي یونیم سل کلن واکمن فیوډالی نظام دخونړي امیر عبدالرحمن له زورواکی سره خپلی لوړې پوړی ته رسی او له دي سره یی دراپرځولو لپاره هاندوهڅه پیل کیږي · په تیره د ښکیلا کگراو تالانگر انگلیسی امپریالیزم لاسپوڅی امیرحبیب الله له منځ ته راتگ سره چی ترخپل هیواد پلوري پلار په پرتله یی دومره واك او ځواك نه درلود · په هیوادکی دپاتکیزي جنگ جگړې دیوې پیلامی په توگه یو سیاسی غورځنگ رامنځ ته شو چی زموږ په سیاسی تاریخ کی د ((مشروطه غوښتنی)) په نامه یادیږي او له دې سره تر ((شمس النهار)) وروسته ((سراج الاخبار)) نومی ۱۵ ورځپاڼه د هیواد دمهالنیو خپرونو یا تولیزو رسنیو پرهسك راوځلیده · له پرمختللی نړی څخه محمود طرزي او غلام محی الدین افغان غوندې هیواد ته دراستانه شو وروښاندو او پرمختللو هیوادمینو افغانانو په سیاسی او فرهنگی هلو ځلو داوونیزي ښه ورو ورو له دربار څخه تولنی ته را خکولماو دملی کتیو په کانه یی کانیله · ترڅو چی یی پښتو هم یکی ورننه ایسته او په دې توگه یی پر یوه دوه ژبیزه مهالنۍ بدله کړه · وایی کله چی لومړی ځل یکی پښتو چاپ شوه ، پر امیر باندې خپل انگریزي باداران سخت را وپاریدل

PROPERTY OF ACKU 1509

سره کرښه یې ترې راگرځلی او د یوه گوانښ په توګه یې ورته پرمخ ویشتلی وه . ځکه د هغو ښکیلاکګرو په اند دغه کار د لازیاتی ملی او سیاسی ویښتیا اوویښیارۍ یوه پیلامه انګیرله او د زغورنده ملی غورځنګ یوه سره نښانه . دغه راز ((ماویلی تاویلی)) ښایې د مولوي صالح محمد د شعر په سر له را پیدا شو یو ستونزو ځخه سرچینه اخیستی وي چې وروسته پر رڼا اچول کیږي .

www.libtool.com.cn

د هیواد د مطبوعاتو پلار محمود طرزي د داسی گوانښونو پر خلاف ((پښتو)) د یوې ملی مسأ لی په توګه په سراج ا الاخبارکی پرله پسی رامخ ته کوله او لاس یې ترې نه اخیست که په څه هم د دغه اوونیزي په تمبنت او بند بنت هم پر یو ته .

محمود طرزي ته پښتو له خپل ادیب پلار غلام محمد طرزي ځخه راپاتی وه چې پسه دري او پښتو یې شعرونه ویل اوله خپلو کندهاریانو او نورو پښتنو سره پښتوغږ یده . پخپله محمود طرزي هم پر پښتو پوره لاسبري درلود . دده له خپل یو نلیك (سیاحت نامی) ځخه داخبره په لاس راغلی ده چې په ۲٦ کلنی کی یې د ۱۸۹۱ د جون پر یوویشتمه د یوه افغانی پو هاند ملا جلندر اخند له شاګردانو سره د فلسطین په یافا کی په پښتومرکه کړې وه .

محمود طرزي د سراج الاخبار د دویم خپرنی کال د ۱۲۹۱ د سلواغی په نهمه ګڼه کی د پښتو ژبی مسأ له د ((زبان افغانی اجداد زبان هاست)) ترسرلیك لاندې ځیرلي او د توركی اخځونو له مخی د هغې آریانی توب او مورینتوب جوتوي . په سراج الاخبارکی تردغی لیکنی وروسته د پښتو خبرې له یو کلن ځنډ سره مخامخیږي ، مګر پر ۱۲۹۳ اکال یکی د پښتو خپریدنی نابېره پیل کیږي چې دغه لومړي پړ ك څه د پاسه یو کال پاینت مومی او د سیاسی پیښو له کبله یکی نوره بیا وتــه راځی .

د ۱۲۹۳ کال د چنګانبن پرخلورمه د سراج الاخبار د دریم کال په شلمه ګڼه کی عبدالرحمن لودین داسی لیکی :

سراج الاخبار بزبان فارسی طبع ونشر میشود . چون همواره مساعی درنشرواشاعت علوم ومعارف است ، بالسنهٔ مروجهٔ افغانستان . لهذا سراج الاخبار افغانیه ، این شماره وشماره هاي بعد خودرا بزبان ملی خود نیز تزئین میدهد .

اینست که درین مرتبه ، محصول یك قصیده از جناب یك جوان بیدار دانشمند هموطن ما . جناب صالح محمد خان که یکی از مدرسین مکتب حبیبیه میباشد ، کامیاب امده . در ذیل به طبع ونشرآن پرداختیم . درخصوص عدم موجودیت حروف افغانی که معذوریم ، از قارئین کرام رجای عفو داریم :

داخه عجب دوران دی — چې راغلی پر افغان دی
رنگارنگه ترقـــی ده — خه عجب محبوب عنوان دی ...)).

محمود طرزي له هغه را وروسته په تینګه وبتییله چې نور د سراج الاخبار ګڼې بې پښتو چاپ نشي د پنځلس ورځنیوه بل همکار (محرر) ((عبدالهادي داوي)) ښه غو بښتنــه وکړه چې په دغه کې مرسته وکړي . په دې توګه د ۱۲۹۳ کال دزمري په دویمه ګڼه کـــی د ((احتیا ج واخبارته)) ترسرلیك لاندې دداوي یو شعر خپور شو چې پیل یې داد ي :
اخبار هرملت ته ، جانه ، ضروري دی واوره مانه !
دتلی میاشت په ۱۳ ګڼــه کی دمولوي صالح یو بل شعر خپریز ي چې پکی دامیرستاینه دافغانستان دخپلواکۍ په ار یکه کوي :

قندهار ، مزار ، هرات هم بدخشان مې خپل دی
شکرشکر باغمو خپل ، باغبان می خپـــــل دی

د سراج الاخباریه دغه پړ اوکی دیوه تکړه شاعر پښتو شعرچا پیږ ي چې هغه ۲۸کلن ځوان عبدالعلی مستغنی و . د دغه شاعر دري شعر د پنځلس ورځنۍ د ۱۲۹۰ کال دمرغومــی په دیرشمه ګڼــه کی خپورشوی و . دزنکوګرافی له دودید وسره پکی دمستغنی عکس هــم په چاپ رسیدلی اوپه دې توګه یې په دري شعرونو کی پوره نوم ګټــلی و . دده پښتــو شعر د ۱۲۹۳کال دلړ م په ۲۸ مه ګڼــه کی په دې ډول خپورشوي و :

داخبار رنګین ګلزارد ي ، اخبارنه دی
چې هزاریې زه یم ، ولی ګلزار نه دی ؟
مستغنی یم زمانم عبدالعلی دی
زه پښتون یم پر بل قوم می کارنه دی
فارسی شعرمی مشهور دی په جهان کی
په پښتو ژبه می شعر شعارنه دی

په همدې ګڼــه کی د (م . ص.) اولنډ نوم ((افغان)) یوه بله پښتو منظومه هم راغلی وه چې په زیات احتمال یې په مولوي صالح محمد اړه درلوده . دسربیت یې داو :
خه احوال دی پر دنیا
عبرت واخله اي دانـــا
په دې توګه هغه مهال په سراج الاخبارکی زیاتره خپرید ونکو شعرونو په صالح محمد کندهاري اړه درلوده او دهیواد په مطبوعاتو کی لومړ ي نکاهی ډوله شعریه همده پوري اړه لـــري

چې دهماغه کال (۱۲۹۳) دلیندۍ په دیرشمه گڼه کې چاپ شوی دی او هغه په دې ډول پیل کیږي:

په کابل کې چې استیږي، باره ورې دصندلي
که له لوږې هلاکیږې، غم به خورې دصندلي

www.libtool.com.cn

مولوي صالح محمد له سراج الاخبارسره پر ټینگې همکارۍ سربیره دخپلې ملي ژبې دپرمختیا اودود تیاره په تعلیمي برخه کې هم له هیڅ راز هاندوهڅې څخه نه ژغوره اوپه هماغه سراجیه دوره کې یې چې پښتو لومړی ځل په تعلیمي نصاب کې ورگډه شوه، هم دپښتو لوست کتابونه کښل او هم یې دښوونکي په توگه دهغې تدریس کاوه. په هماغو شپو ورځو کې چې دغه تکړه پښتو شاعر، لیکونکي او ښوونکي دکابل له ساره ژمي څخه سرټکاوه. دافغانستان په بهرنیو اړیکو کې ستړي لوبونه رامنځ ته شول. لومړۍ نړیواله جگړه پیل شوې وه، انگریزانو له دې ویرې څخه چې عثمانیه دولت دآلمان او اوتریش سره ددوی پر ضد ملاتړلې وه. دهند دوایسرای له لارې دافغانستان امیرته داسې له غوږه تیره کړې وه چې:

((دلته دجهاد خبره نشته برتانیا دنړۍ دمسلمانانو ترټولو ستردوست او ځواک دی!))

او داهیله یې ترې کړې وه چې له خپلې ژمنې سره سمه خپله بې پلوي دپخواغوندې ټینگه وساتي. ځکه دسراج الاخبارله لیکو څخه لږ و ډېره داسې څرگندیده چې دعثمانیه دولت پرخوا دی او دا دبرتانیې هند حکومت ته گرانه پریوته. همدغسې یو څو پر سیاسي اکر (حالت) وو چې د ۱۹۱٦ کال داپریل پر شپاړسمه داخبار په ۲٦ گڼه کې دصالح محمد کندهاري یو شعر چاپ شو او سم دم یې انگریزان وپږول او هغه داو:

ته گوره دعمکې گوره	نظر وکه زما ور و ور ه
دنیا ده پر شوروغلی	توریدلی قهریدلی
لوی دول چې پردنیا دي	پریووپ که پر ایشیا دي
ټول په جنگ سره اخته دي	په سرو وینو اغشته دي
جرمن دي خدای گمارلی	روس، انگریزته شکارلی
انگریزان په ویراخته دي	پر مغمم خورا خپه دي
همت گوره دتورکانو	درومیانو عثمانیانو
ښه فرصت دي خدای راکړی	ښه موقع دی پیدا کړی
چې کفارسره اخته دي	په سرو وینو اغشته دي
شکر یې وکړی چې شي زیاد	کافران ټول شي برباد

دا دوییزه (مثنوي) توله او با بیته وه او کله یې چې انګلیسي ژباړه انګریزانو ته ورسیده سیاسي اکړې یې پر بله شو . اوس په دغه باب د هند په ملي ارشیف کې د هند دوایسراې او د افغانستان د امیر ردوبدل شوي لیکونه خوندي دي د هغو په لړ کې د ۱۹۱۵ کال دمې د شپږمې نیټې یو لیك چې د صوبه سرحد چیف کمیشنر سرروس کپل د برتانیې هند سکرتري ته لیږ ل شوی دی په دې مضمون دی : یوه تن صالح محمد نومي د کابل له شاهي ښوونځي څخه داسې یو شعر چاپ کړی دی چې خدای المان دانګریز پر ضد را پارولی دی . څنګه چې شعر په پښتو دی او په سرحد کې یې خپریدل خطر لري نو انګریزي ژباړه یې رالیږل شویده . په کار دي د برتانیې هند په اویجه کې د سراج الاخبار د اپریل ۱٦ مې ګڼې ته د خپرید و اجازه ورنکړ شي . انګریزي واکمنان په تونس شول . فارن سکرتري د سي . ای . دي (استخباراتو) مشر سرچارلس کلیفلند وکښل چې د سراج الاخبار سرلیکونکی د امیر ورمونه نه دي منلی او بیا یې هماغه پخوانۍ لیار نیولی ده . هغه ورته په ځواب لیکلي وو چې د هغه په ګروهه د افغانستان امیر د برتانیې پر ضد د خپل ملت لاس نه نیسي . هغه وو چې مولابخش نومي سړي ته لار ښوونه کیږي چې د شعر انګریزي ژباړه وګوري او تصدیق یې کړي او نتیجه یې داشوه چې وایسرای امیر ته دمې پر شلمه یو شکایت لیك راواستاوه او تړي یې وغوښتل چې د سراج الاخبار زیږه لهجه دې سمه شي ، او امیر ورته د جون پر دویمه لیکلي ځواب ورکوي چې د اخبار مدیر ته دغه یادونه شویده .

نورنو په سراج الاخبار کې تریوه کاله پورې د صالح محمد شعرونه خپاره نه شو ل .

د همدغه کال د سپتمبر پر اوویشتمه د هنیتنګ فون په سیاسي مشرۍ او نیدرمایر په نظامي مشرۍ یو آلماني هیأت کابل ته راغی ، سراج الاخباران د داسې یوه ستر خبر د خپرولو توان هم نه درلود . له دغه هیأت سره د هندرا پرتاب او مولوي برکت الله غوندې هندي آزادۍ غوښتونکو مشران او عثماني استازي کاظم بیك هم ملګري وو .

د ۱۹۱٦ د جنوري په ۲۴ مه د افغانستان او هغه هیأت ترمنځ یو تړون لاسلیك شو . په با بر بڼ کې د آلماني ، عثماني او هندي آزادي غوښتونکو د هیأت څومیاشتې استوګنې پر سراج الاخبار زیات بندیزونه راوستل .

همدغه مهال ؤ چې یوه بل پښتو شاعر د مولوي صالح محمد پر ځای میدان ته را ودانګل او هغه غلام محی الدین افغان و . د ده لومړي پښتو شعر د ۱۲۹۴ د ثور په لسمه ګڼه کې چاپ شو چې لومړي بیتونه یې دادي :

زړه زما ډك دی له مینې د وطن
خپل وطن ماته عزیزدی له خپل تن

www.libtool.com.cn

هر یو گل می د وطن پرما د پرگران دی
ترکشمیره ، ترباریسه ترلنــــــــدن

د هماغه کال د تلی په اتلسمه گڼــه کی یی یوه بولله داسی پیل موی :

امید مکره چی همیش به یی خوشــال
په د نیاکی دی هرڅه لره ز و ا ل

www.libtool.com.cn

او د مرغوس په یوه گڼــه کی یی یو غزل چاپیږي چی وایی :

په عالم کی څه غوغاده نه پو هیږم
چی د روغ د مکه رښتیاده نه پوهیږم

محمود طرزي او همکارانو یی کلاسیك پښتو ادب هم له پامه نه غورځاوه اود ۱۲۹۴ کال د تلی په اتلسمه گڼه کی یی د خوشال خان پیژند گلوي اوپښتو اودري شعرونــــــه خپروي .

د لومړی نړیوال جنگ خبرونو د سراج الاخبارلیکوال او لوستونکی راپاروڵی وو اومحمود طرزي ته دغلام محی الدین د دغه شعر چا پول کیدونی وریښید ل :

زما زړه له وینو ډك دی بیقــرار
نن ستم دکافرانو شو بسیـــــــار

پر دغه کال د وږي د شلمی نیتی په گڼه کی د پښتو ونده بنه تراخرگنده شوه اود ډا ورځو لیکونکی عبدالهادي (داوي) یکی خپل داشعرخپور کړ :

پښتو ژبه ده شیرینــه
هم فصیحه هم متینــه

اوپه همدغه گڼه کی محمود طرزي د پښتو ژبی د تدریس پر ار تیا یوه لیکنه چاپ کړه . د ه په دغه لیکنه کی پردې زوراچولی دی چی ((باید افغانی ژبه وساتو اوپه سنبت اوپرمختیا کی یی ټینگه هڅه وکړو .)) یواځی افغانی ژبو ته نه بلکی د افغان ولس تولوبیلا بیلوتبرونو ته په کارده چی خپله وطنی او ملی ژبه پښتو زده کړ ي)) محمود طرزي دیو هنی تولنــی (انجمن معارف) ته سپارښتنه کوي چی د پښتو د تدریس موضوع په پام کی ونیسی اود هغی د زده کړي لپاره تعلیمی کتابونه جوړ اوچمتو کړ ي اودفنی او صنعتی کلمو د زده کـــــړ ي لپاره زیار وباسی .

په پای کی وایی :

((اي د وطن د بڼ نویو نیالگیو !

خپله ملی افغانی ژبه ونمانځی او مینه ورسره ولری او به زده کړه کی یی ډیره هانـــد وکړی، خپله سیاسی او رسمی پارسی ژبه هم په مینه زده کړي)) .

په دي توګه محمود طرزي سره له دي چی دهند وایسراي دافغانستان امیرته لیکونه رالیږل خپل غوره مطالب یی چاپ ته سپارل او دخپلی موخی دڅرګندونی لپاره یـــی له هرکیدونه (امکانه) ګټـه اخیسته . په دي هم بسیاپاتی نه شو اوبه پای کی یـــی د ((حی علـی الفـلاح)) ترسرلیک لاندي دبرتانیا پرضد دمرغوبی پرشپاړ سمـــه دآزادي غوښتنی پوزوزندہ مضمون خپور کړ اوخبره دي ځای ته ورسیده چی دامیـــر حکومت د۱۵ ورځنیو هغه پانی ضبطی کړي اومحمود طرزي دي ته اړ شو دهغی لیکنـــی پرځای په نوروليکنو دجریدي مخونه ډك کړي . ترډغی ښینبی وروسته دیوي څه مو دي لپاره دپښتو لیکوخپریدنه کوزته ودریده چی په دي توګه د ۱۲۹۴ کال په ژمی اوړیـــ ـ پسرلی کی سراج اللاخبارنه پښتوشعراولیکنه خپره کړه او نه کوم غوره سیاسی مضمون .

له دي سره په سراج الاخبار کی دپښتو دونډي لوړي پړاك پاي ته ورسیـد اومتی د ۱۲۹۵ کال دوري دمیاشتی پر ۲۹ مه یکی یی ددویم پړك پیل ته لاره اواره شوه .

محمود طرزي او همکارانو یی د ۱۲۹۵ په پسرلی کی دمقصد څرګندونی لپاره درازراز لارو چارویه لټه کی شول . لومړی یی داهڅه وکړه چی دصالح محمدخان دشعرونودپیا چا پولو لپاره دامیر ستاینه سریزه کړي اوامیریی کی هیڅ ونه شی ویلاي ، چی لومـړی نیم بیتی یی داو :

اطاعت داولی الامرفرض‌عین دي

دغبرګولی د ۱۳ می نیټی په ګڼه کی یی د رحمان بابا پرغزل یوه پنځیزه(مخمـــس) خپریږي :

د ی یوعمر تمناکوي ترکمه !

په‌همدي وزن یی دسلواغی په ګڼه کی یوغزل چا پیږي :

ته چی زلفی دیارمشک وعنبر بولی
په داچین کی به خطاکوي ترکمه ....

دزمري میاشتی په ګڼه کی دخوشال خټك دمستوشعرونواهزنی (انتخابات) خپریدنه مومی لکه :

پښتانه که آدم زاددي ....

دکابل دعبدالرسول محمدزي یوه بولله دلیندۍ‌دپنځمی نیټی په ګڼه کی له چاپه وځی :

مینه راشه پر سر واړوه ګلګون ساغر....

د ۱۲۹۵ کال دوزي داتمی په ګڼه کی دمحی الدین افغان پرغزل دمیرزاعبدالرحیم یوپنځیزه خپریږی .

پیر شنا دخپل مولاکرم چی او طان می خپل دی ۰۰۰

د لیندې د نومسی نیتی په گټه کی دملامحمدخان عرض بیگی (افغانی نویس) د اشعـــر راغلی دي :

افغانستان خلك زمري دي په افكاره شی

خیال بدو ورته مكري ۰ نكونساره شی

په همدغه گټه کی درحمان بابا پرغزل دغلام محی الدین افغان یوه پنځیزه چاپ شوي ده:

څوك چی وزك له خپل وطن دي ۰۰۰۰

او همدارنگه دافغان یوجلا غزل هم ورسره خپورشوي دی چی وایی :

بی کمال دباکمال کله همسردي

هم قیمت کله گوهرسره حجر دي

دلړم دشپږمی نیتی په گټه کی دافغان هماغه پول یوه بله پنځیزه خپره شوي ده :

جاردي شم ترنامه راشه راشه

په هجران کی یم ناکامه راشه راشه

دمرغوبی په شلمه گټه کی بی یو شعر خپریږي چی دهغه مهال دروښاند ومسلمانانو دگروهی ښکارندوي دی :

موږ که بنه تعلیم یافته وی دآثار

هم کامل وی دصنعت دکار زار

د ((رویاي صالحه)) ترسرلیك لاندي بی یوه پنځیزه د ۱۲۹۶ دجوزا دشپاړسمی نیتـــــی په گټه کی راوځی :

څه عجبه حوب و چی وچی می ولیده سحر ۰۰۰۰

دپښتو خپرنو په لړ کی دغلام محی الدین افغان فعالیت هم زیاتیږي او د ۱۲۹۵ کـــال دکب دپنځمی نیتی په گټه کی ۱۰۴ پښتو متلونه د ((پښتو مشهور متلونه)) ترسرلیك لانـدې خپروي ۰ د ۱۲۹۶ کال دوري په ۱۹ مه گټه کی دافغانستان دپیژندنی په باب یوه لیکنه داسی پیل کړي اوپایي ته رسوي :

((۰۰۰ داملك دهندوستان ۰ بلوچستان دایران ۰۰۰)) او((۰۰۰ فصاحـت او بلاغت نهایت مشهوردي ۰))

او د ادارزوز دژورنالیزم په تاریخ کی دغلام محی الدین له خوا لومړ ی خپورشوی پښتواعلان :

يو اعلان په پښتو کی

اول مقصد مو داعلان دادې چی رموز مبارکه ژبه رواج پیداکی او هرڅوك د ې په دې باب کی د ترقئ د پښتو ښه ښه مضامین په افغانی کی ولیکی ، او په واسطه د دې اعلان، ټولو پښتنو ته خبر ورکوو که څوك زمایا د بل چا د پښتو پرمضامینو ایراد لــــري ۰ هغه دې خپله مدعا په پښتو ولیکی او د سراج الاخبار مدیر صاحب ته دې راولیږ ي که بنده د هغه له جوابه عاجزیم ۰ هغه ته به په خوښ‌رویی په طور د انعام ورکړم او وعده هم شپږ میاشتی ده ۰)) د سراج الاخبار شپږم کال ۲۳ مه گڼه ، د ۱۲۹۶ د چنگاښ ۴ امه ۰
د ۱۲۹۵ کال په ژمی کی چی امیر له کابله ژمنی پایتخت جلال آباد ته تللی و ۰ محمود طرزي او همکارانو یوبل زړ ورکام واخیستاو هغه د ((بلبل گرفتار) ترسرلیك لاندې د ((پریشان)) (د عبدالهادي داوي پوړنوم) د یوه شعر چاپول وو ، چی د سلواغی د پنځمی نیتی په گڼه کی خپور شوي و :

سحرگهی بشنیدم زبلبلی به قفس
که مردم ازغم ودرد دلم نپرسد کس۰۰۰۰

دغه مست سو د ټولو روښاندانو په وړاندې د افغانستان د آزادي غوښتنی مانا درلوده ترهغی گنی پنځه میاشتی وروسته د ۱۲۹۶ دغبرگولی په دویمه نیټه د ((ادبیات ملی)) ترسرلیــــك لاندې د نوموړ ي شپږ یز ې (مسدس) پښتوژباړه د مولوي صالح محمد له خوا خپره شوه :

یو سحر زما ترغوږ شو له بلبله ۰۰۰۰

په همدغه گڼه کی د صالح محمد کندهاري یو پښتو لیك، چاپ شوی چی دوه ستونـــــــه یی نیولی دي :
(۰۰۰ اي لوی فاضله اوښه غوښتونکی د وطن ۰۰۰ دا اول پښتو مکتوب د ی په خدمــــــت د سراج الاخبارد رولیږ ه ۰۰۰) ۰
محمود طرزي د ۱۲۹۶ دغبرگولی د دویمی په گڼه کی یو سرلیك، (کلیشه ، په د ې ویینو پرانیزي :
((ادبیات ملی ـ فارسی ـ افغانی ـ هرقوم بزبان خود ، هرزبان به ادبیات خود زنده می ماند ۰))
په وروستی گڼه کی ترهماغی کلیشی لاندې داسی لولو :
((چنانکه مولوي صالح محمد درمکتوب افغانی بسیارسلیس وروان خود ش که درشماره ٔ گذ شته سبقت نمود ، فرموده است ۰ درینوقت به هیچ مکتب افغانی خوانده نمی شود ۰ بدست هیچکس کتاب افغانی دیده نمیشود ۰ چنین کتابی هم بافغانی نیست که انسان به درد احتیاج

این زمان استفاده ازان بکند · مگر یك چند دیوان های اشعاري که انهــــم درستا پش‌محبوب است وبس !))

محمود طرزي په همدې ګټه کې دفارس او افغاني دخپرونو پروګرام ، دشعرو ولونـــه ، دنشرو ولونه اومتلونه را مخ ته کوي او په ترڅ کې دهزاره ګـی ، پنجشیري ، بنــاري کابلی ، کندهاري هراتي ،از بکی او نورو ګـــړ دودو دخپرولو ژمنه کوي او لیکی چی په افغاني ګړ ودو به هر ډول سندرې او چاربیتی خپرې کړي · سراج الاخبار دغبرګولــی دشپاړسمی په ګڼــه کی ترهماغی کلیشی لاندې د سید محسن کندهاري یو شعـــــر چاپ کړی دې :

پراسمان دعزت لمر دی غوریدلی · · · ·

دوړي د هوپلسمی په ګڼه کی دعبدالسلام ((قصیدهٔ افغانی)) په دې ډول راغلی ده :

اول حمد دهغه پاك پروردګار دي
چی معز دمکناتو په مقــــدار دی

د ۱۲۹٦ په منی کی دپښتو شعر یو لاسکښلی غونډ له خپل لیکوال ملا عبدالباقـــی کندهاري سره لاسته راغی ، چی ((تهذیب الواجبات)) نومیږي اود سراج الا خبــــار دتلی ، لړم ، مرغومی اوکب په څینو ګڼــو کی ترې اخیستنه کیږي ، لکه :

دپښتو پسخوره نه خورم · · · ·
دوه مسلکه دي په موز کی · · · ·
نو آموزه پاکه لوحه چی لیکی · · · ·

دوکتور روان فرهادي (خدمت سراج الاخبار در پیشرفت پښتو) ترسرلیك لانـدي د دغه اخبار د پښتو ونډې په باب دخپلوالواکونو لنډیز او نتیجه ګیري داسی کوي (۲ ۳مخ) :

د سراج الاخبار ترمنځ ته راتګ اوبه څانګري ډول بیاتر(۱۲۹۲ ل) پــوري پـــه افغانستان کی پښتو خپرونوله خولنډ و تنګو دولتی ، دیني رسالواویانبوونلیکونـــــو (تعلیمنامو) څخه تـیري نه کاوه چی په ډیر چاپ سره خپرې شوي وي · سراج الاخبـار دهیواد لومړی جریده وه چی دپښتو نظم او نشر دخپرونی په لار کی یې ګام اخیستـــی دي · دهغو پښتو شاعرانو او لیکوالو شمیر چی له سراج الاخبارسره یې همکاري درلــوده لږ و · جریده تل دپښتو شاعرانو دښکلو پښتو شعرونو په لټه کی وه · دغی جریدې لــــه هیواده بهر په انګریزي لاسکتوو هیوادواوپه تیره په پېښور او نورو پښتو ژبو سیمو کـــی لوستونکی درلودل · له دې کبله دبرتانیې هندحکومت سراج الاخباراودهغه مدیـــر

دخپلو گټو د ښمنان بلل او بیا په تیره داچې هغه ورته په لومړي جهاني جنګ کې دعثمانیه دولت په پلوي سره، دافغانستان دبې پلوۍ مخالف ښکاریدل ۰

دسراج الاخبارشپږ کلنه پښتو ونډه پر دروړو او ویشلاي شو :

۱ــ دپښتو دموضوع رامخ ته کول د ۱۲۹۱ لمریز کال په سلواغه (د ۱۹۱۳ زیږ دي پــه جنوري) کې ۰

www.libtool.com.cn

۲ــ دپښتو خپرونو لومړۍ پــړك په ۱۲۹۳ او۱۲۹۲ کلونو کې ۰

۳ــ دپښتو خپرونو دویم پړك په ۱۲۹۵ او ۱۲۹۶ کلونو کې ۰

او پښتو همکاران یې پدرو ډلو ویشل کیږي :

۱ــ پــرله پسیلي همکاران : مولوي صالح محمدکندهاری اوغلام محی الدین افغان ۰

۲ــ لږ پیښېني همکاران : عبدالهادي داوي اوعبدالعلی مستغنی ۰

۳ــ نور شاعران چې یوزنیم شعرېې چاپ ته سپارل شویدي لکه : ملامحمد عرض بیګی (افغانی نویس ۰ ملاعبدالباقی کندهاري، سید میرمحسن کندهاري، عبدالسلام اوعبدالرسول محمدزی ۰

دپښتو په باب دمحمود طرزي او نورو همکارانو، یاپه بله وینادسراج الاخبار الواکونــه (نظریات) په دې ډول لنډ یز موسی :

۱ــ پښتو او دري دافغانستان دډیره کیو وګړو ژبې دي اود هیڅ یو قوم ځانګړي تــول (مال) نه دی ۰ ددغو دوو ژبو ښنښت او تایید دافغانستان دټولو خلکو دولسوالــی (ناسیو نالیزم) یوه برخه ده ۰

۲ــ پر دري سر بیره دپښتو ژبې تدریس په ټول افغانستان کې لازم دی ۰

په امانیه پیــر کې دافغانستان دخپلواکۍ تربیرته اخیستنې اود ولسپالو روښاندانــو (روشنفکرانو) ترسیاسی لاسبري وروسته دپښتو ژبې دادبې پرمختګونو اوتدریس پــه برخه کې دنوموړو الواکونو اغیزه ښه ترالیدل کیږي ۰

دځینو ادبی کره کتونکو لهخوا دغه مهال چې پښتو شعر لومړی ځل دهیوادیو ې مهالنۍ ((سراج الاخبار)) ته لار پیداکړې ده ددغې ژبې د ((اوسنی ادبی پیــر)) پیل بلل شوی دی اوله دې سره سره ډ یر بې خونده او پیکه او هغه هم په دې لاسوند چې یې دخوشال، رحمان، حمید ۰۰۰ له ځلاند ((منحنوۍ)) ادبی پیررا وروستــه په دوه نیم سوه کلن ځوړ تیاپې واتن پسی سر راپورته کړ ي نوي یې تبې شکولی اوــه دې توګه له یوې اوږ دې ناروغۍ وروسته دپاخون او خوځون هڅه کوي !

(کابل مجلهــ د ۱۳۴۱ شپږ مه ګڼــه ۲۹ مخ) ۰

زما په اند دغه راز لنډه تنګه کره کتنه او ارزونه دومره پرځاۍ نه بریښي لومړي خــو

د نوي مهال د تولنوال ريالیزم له مخې دادبي پېرونو ويشنه او بريد تاکنه داســـــــې
اسانه نه ده چې د شخصيتونو او سرسري سياسي او کولتوري اکرونو (اوضاعو) په بدلون
سره ترسره کړ شي،بلکې يواځې او يواځې تولنـــو تيـــزا (اجتماعي ــ اقتصادي)بدلونونه
کولای شي هغه کيدونې او رښتينې کړي . بله داچې په هغه دونيم سوه کلنه دوره کې ــ
چې نومورې يې دپښتو شعروادب يوه ((نزولي)) دوره بولي،هم سل په سل کيـــــــې
رښتينې نه برېښي په دغه دوره کې د پيرمحمدکاکړ ، احمد شاه بابا ، شمس الديـــــــن
کاکړ ، نجيب او ميرزا حنان غونډې پياوړي شاعران تير شوي چې د ديوانونو خاوندا ن
دي .

دا به ومنو چې په سراج الاخبار کې خپاره شوي شعرونه دومره شعريت نه لري ا و
هنري اړ خ يې کمزوري دی،مګر ديته هم پاملرنه پکار ده چې دغه شعرونه دمضمـــــون
او محتوا او اندومانا له مخې له تيرو هغو سره يوجوت بريد جوړوي يو شعر و ادب چـــې
پيړ ۍ پيړ ۍ يې له ګل وبلبل ، ميني، ښکلا، ستاينو او غندنو ، وياړ نو اوويرنو پرته نورخــــه
دومره نه پيژندل . ځنګه وکړ ای شي چې په يو واريز ډول هم شعر شي او هم شعــــار .
دالومړ ی هغه وه چې په پښتو کې د نوي سياسي او تولنيزشعرښنسټ کيښوول شي اوهغـــه
هم تر داسې زنديو او بنديزولاندې چې هر پياوړ ې شاعراو اديب پکې برخه اخيستلای هم
نه شوه .دسراج الاخبار دوره د نوي ريالستيك پښتو او دري ادب لپاره يوه تمرينـــــې
او ازماينتي دوره وه . د يوې سياسي مبارزې د پيل او پاخون دوره وه ، هغه مهال ژمنـــو
(متعهدو) شاعرانو او ليکوالو داهڅه درلوده چې ځنګه وکړ اې شي داميرتر ببـــــر ې
ز يري لاندې خپل تولنيزاو سياسي پيغام خوتنورو ښاندانو او پرا خو شا ړ و شه لــــو
ناليك لوستو پرګنو ته ورسوي . يوه غبرګونې مبارزه روانه وه يوه خوا له کورنۍ شاهــــې
زورواکې اوبل خوا له بهرنۍ بيواکۍ ځخه دژغورنې لپاره . دوخت ژمن درباري شاعـــــر
ديته اړ و چې په ښکاره اميرته سراج الملـــة والدين ووايي اوبه پتــه کې يې ز ر ې جر ړ ې
نورې هم پسې پستــې او ورستي کړي اوله دې سره سره يې دبهرنۍ ساتندوی((انګريز))
درا پرځو ني لپاره کنده وکينې ، داچې وايي : کله کله يو شعار ترزرو شعرونو هـــــم
زيات اغيزمن پـريوځي . دسراج الاخبار دهغه مهال پښتو شعرونه هم همـــــدا را ز
شعارونه ووچې بر تانيې تولواکنې يې لړزوله،چې دصالح محمد کندهاري کوچنــــــې

د ویښو یې یوه ډیره ښه بیلګه وه ((... انګریزان به ویر اخته دي)) .

د سراج الاخبار هماغه شعار ډوله شعرونه او لیکنې وې چې امیر یې له پښتو را وغوړځاوه او د پرمختللي اماني غورځنګ په منځ ژړ ورلو سره یې انګریزي ښکیلاکګر نه یوازې زموږ له خاورې پوښنا کړه، بلکې د دوه کوزنولو ډیوو ((اسیا او افریقا)) ارته ځمکه یې پرې هم سور اور کړه .

www.libtool.com.cn

او پښتو شعر و ادب هم پر هغه اوږده ښه نه پاتیږي او د خپل سیاسي پخلي یوه نوي پړاو ته ورګډیږي .

په دیرشمو کلونو کې د ویښ ځلمیانو سیاسي غورځنګ ((ویښ ځلمیانو)) له منځ ته راتګ سره نور هم پسې وده او پرمختیا مومي او پخیږي او یوه لسیزه وروسته د خلکو دیموکراتیک ګوند له جوړښت، وروسته د ثور ملي او دیموکراتیک انقلاب او د هغه له نوي بشپړ تیایې پړاو سره د نوي مهال د ټولنوال ریالیزم په ګانه ګاڼل کیږي .

هره هنري او ادبي کره کتنه هله رښتینې او عیني بلل کیدای شي چې د هنرمند او ادیب او د هغو د زېږونو د مهال او چاپیریال په پام کې ونیسي او ورسره ورسره د اتکې چې د خپلې تاریخي استازي په سرته رسولو او د خپلې ټولنې د پراختیا او بشپړ تیا په بهیر کې یې خومره او څنګه ونډه اخیستې ده .

۱ـ بینوا، عبدالروف : اوسني لیکوال، لومړی ټوک ۱۳۴۰ کال ۶۸ـ۷۳ مخونه .

۲ـ روان فرهادي : پښتو چاپي آثار ۱۳۵۷، ۱۹ـ۳۲ مخونه .

www.libtool.com.cn

سریزه

لیکوال

د آثارو ټولوونکی او لمن لیکونکی

www.libtool.com.cn

اهدا

ستر افغاني محقق پوهاند عبدالشکور

رشاد ته!

(مؤلف)

٣ـ کابل مجله : د ۱۳۴۱ کال شپږمه گڼه ۳۹ مخ .

۲ـ هیوادمل ، زلمی : فرهنگ زبان وادبیات پښتو ۱۳۵٦ ، ۴۱ مخ .

www.libtool.com.cn

مخکی تردې چی راروانباد غلام محی الدین افغان پر افکارو وږ غیږم ، او یا یې آثار د رو بیژنم غوره بولم ، چی دمتن څیړنی او یامتن خپرونی دآرونو او پر نسیونو لسه مخی یې لومړی ژوند لیك وکاږم ، او دژوند بیلا بیلی خواوې یې درڅرګندې کړم .
نو ځکه زما دغه څیړنه لومړی د ده له ژوند لیکه څخه پیلیږي ، تردې وروسته به یې آثار در وښیم ، او بیا به یې دژوند داحوالو آو اثارو دمطالعی په بنا په افکارو وږغیږم :

www.libtool.com.cn

((۱))

ژوند لیك

د سپوږ میز لیز دي شمیر له مخ کابو ۱۲۵ کاله دمخه د ۱۲۷۹ هـ ق کال په شاوخواکی (۱) داحمد شاهی امپراتورئ دپلازمینی اشرف البلاد (کندهار)(۲) په پوه ادب پالونکی غیږ کی دعبدالرشید دنومی حسن خیل جریانی (؟) پښتون(۳) کور د یوه نوي ماشوم په زوکړې رون شو ، پردغه ماشوم یې نوم غلام محی الدین کښیښود ، او دخپلی

---

(۱) په اوسنی لیکوال (لومړي توك ۶۸مخ د ۱۳۴۰ ش کال چاپ) کی یې د ده دزوکړې نیټه ۱۳۰۹ هـ ق شوولی ده . دغه نیټه سمه نه ده ، اوکه یې سمه وبولو نو شاعربايد په ۳۰ کلنئ کی مړ وي . حال داچی دی په دیرش کلنئ کی د هند په لتوکی د پوهی او کمال په حاصلولو بوخت و .

(۲) میر غلام محمد غبار په خپل کتاب ((افغانستان در مسیر تاریخ)) ۷۱۹ مخ کی غلام محی الدین خان افغان له سرحدي افغانانو ځنی بللی دی . دغه خبره سمه نه ده ، او د دغه کتا ب د یرو نورو تیرو تنو په څیر به یې یوه تیروتنه وبولو .

(۳) پښتانه شعراء ، ج ۳ ص ۴ ۷۷ د ۱۳۴۲ هـ ش کال چاپ ، کابل ــ پښتوټولنه . د ده د نسب په باب مادلی ځکه نور تحقیقات ونه کړل چی فاضل استاد پوهاند رشاد به دې برخه کی څیړنه کوي ، او د افغان یاد په مجموعه کی خپریږ ي . دقبیلی دغه نوم چی په پښتانه شعراء کی جریانی چاپ شوی ، بنایی جمریانی (ژمریانی) وي ، چی د تاریخ خورشید ـ جهان په ۲۰۰ مخ کی د ((کاسی)) په اولاد کی شمیرل شویدي ا و یا بنایی زه غلط وم ، او جریانی سمی وي . په هرصورت په دې خصوص کی بلنی څیړنی د فاضل استاد پو هاند رشاد په برخه دي .

کورنۍ په توده غیزکی رالوئیده . کله چی دلیك لوست د زده کړې شوه نو یې خپلې ابتدایی زده کړې دکندهار په علمی چاپیریال کی بیلې کړې، او د پوهې یوه تونسه یې زموږ له دغه پښتنی فرهنگی مرکزه څخه په برخه شوه . د یادولووړ ده چی افغانستان په کندهار کی مروج او متداول علوم له دینی علومو سره یو ځای ولوستل .

www.libtool.com.cn

غلام محی الدین د ۱۹ کالوزیږیدلی و، چی خپل پلرنی ټاټوبی یې پریښود (۴) او د هند خواته ولاړ . د پخوانی هند د لاهور او راولپنډۍ (دغه دوه ښاره اوس په پاکستان کی شامل دي) په عصري مکاتبو کی علمی زده کړې پیل کړې، د مروجو دینی علومو ترڅنگه یې عصري علوم هم ولوستل، او خوږی یې زده کړې چی د خپلی وینا له مخی یې له خپلی مورنۍ ژبی (پښتو) سربیره پر پارسی او نورو ژبوهم لیك لوست کولای شوای، په دې باب د ده خپله وینا داده :

بیاراته گویان سوهغه ځوان په دې مضمون ستاخوهم څمزده دي یاته هسې یې پښتو ن

ماویل چی پښتانه خودي په علم کی جیحو ن زه یم له هغو نه یوادنی سری کرمون

په اته ژبو پوهیږم درته وایم مختصر

یعنی په پښتواو په هندي کی یم ماهر عربی او انگریزي خوهم پوهیږم په ظاهر

گورمکهی او شاستري ته په ښه شان یمه حاضر په اردواو په پارسی کی یاره زه یم محرر

نورعلوم هم رامعلوم دي برادره ماش قدر (۵)

غلام محی الدین شپږ ویشت کاله د پخوانی هند په زمکو او د صوبه سرحد او بلوچستان په پښتنی سیمو کی وگرځید، او د ۱۳۲۴ هـ ق کال په شاوخواکی بیرته کابل ته راغی، او د ده د ژوند یوه نوې دوره پیل شوه .

ده له دغه مهاله د مرگ ترورځی پورې خپل وطن، خپل ملت او قوم، خپلی ژبی او فرهنگ ته ډیر ډیر کارونه وکړل، چی د دې څیړنی په بیلابیلو برخو به وړاندې خبرې وشي .

دي چی بیرته خپل هیواد ته راغی د هیواد په ملی، ادبی، اجتماعی او فرهنگی حلقو کی یې ډیر ښه هرکلی وشو . په ((خانصاحب)) یې شهرت حاصل کړ، او چی لیك به یې کاوه، نو یې لخپل نامه سره ((افغان)) د تخلص په توگه کښه .

---

(۴) د ده د مهاجرت او تاتوبی پرېښودو نی په باب به په راتلونکو بحثونو کی خبرې وکړو .

(۵) سراج الاخبار ۶ کال ۲۱ گڼه

د پښتانه شعراء د دریم ټوك د ۷۷۵ مخ د کښنو له مخې : کلمه چي مرحوم افغان بېرته هیواد ته راستون شو ، نوبې د ه ته د کابل د ښار په ښوونځیوکي د ممتحن د کفیل وظیفه وروسپارله . خو د غه وظیفه وروسته په لوی و فرهنګي وظیفو الیش شوه ، چي په دې برخه کي ((د افغانستان د معارف د تارخ)) کښنې هم د هیرولونه دي . د دغه کتاب موء لفینو کښلي دي : ((لومړنی دارالمعلمین د امیرحبیب الله خان په عصرکی په ۱۲۹۱ هـ ش کال د چوب فروشي په مدرسه کي تاء سیس شو . سردارعنایت الله خان معینه السلطنه ته د معارف چارې ورد غاړې اوښاغلی غلام محی الدین چي په خانصاحب مشهورو . د هغه ښوونځي اداري او تدریس چارې اداره کولې)) . بل ځای کاږي ـــ د تدریس هیئت د الاندې محترم کسان وو : ((مرحوم قاري عبدالله خان ملك الشعرا ، مولوي عبدالرب ، قاري سمرقندي ، سیدمحمد طاهر ، او مولوي غلام محی الدین او محمد جعفر)) (٦)

وایې چي : افغان په ۱۳۳۳ هـ ق کال د حبیبیې د بیت العلوم مفتش ، (۷) او په ۱۳۳۴ هـ ق کال په دارالمعلمین کي ښوونکی وء .

د پښتانه شعراء په دریم ټوك کي بې کښلي ، چي ((افغان)) د ۱۳۳۷ هـ ق راپه دې خوا د اعلیحضرت امان الله خان (۱۳۳۷ـ ۱۳۴۷ هـ ق) په وختو کي د دارالمعلمین ـــ مدیرو ، مګر استاد عبدالهادي داوي په یوه لیك کي کښلي دي : ((د امان الله شاه د سلطنت په اوایلو کي مرحوم غلام محی الدین خان د کابل د ښهر د مکاتب ابتدائیه رئیس مقرر شو)) (۸) مګر د وفات خبرې چي په امان افغان کي خپورشوي ، د پښتانه شعراء د لیکني موء ید دی ، او په دغه وخت کي (د امانی عصر اوایل) دې د دارالمعلمین مدیر معرفي کوي ، مګر داچي خبره ښه روښانه شوې وي ، دې ته اړه لیدل کیږي ، چي د هغه مهال د معارفو په تشکیلاتو سرې ځان خبر کړي . د امانی عصرد افغانستان د اساسی تشکیلاتو د نظامی ۴۸ ماده وایي : ((ریاست د تدریسات ابتدائیه او تا لیه مامور دي ، له پاره د اداره اونګرانی د تولو مخصوص مکتبو د ابتدائیه او تالیه او همداسی شان مامور دی له پاره د نګراني او اداره د هغو خصوص مکتبوچي د نغریو او تولنواووطنی شرکتوله خوا

(٦) د افغانستان د معارف تاریخ ۱۱۵ـ ۱۱٦ مخونه ، لیکوالان : پاینده محمد زهیر ، او سید محمد یوسف علمي ، د ۱۳۳۹ ش کال ـ د کابل چاپ .

(۷) پښتانه شعراء د رمسیر تاریخ)) ۷۱۹ مخ کي یې کښلي دي : ((معلم مکتب حبیبیه))

(۸) د افغان یاد ، ۱ مخ ، د استاد داوي لیك .

اداره اوجوړيږي، او دغه رنګه دارالمعلمينونه او دارالمعلماتونه هم په رياست تدريسات پورې تعلق لري. يورئيس هغه اداره کوي)) (۹) .

دقانون دغه ماده موضوع به روښانوي او داتري زياديږي، چې داستاد دا وي، او پښتانه شعراء دوار وخبري سمې دي ځکه چې دارالمعلمين هم په دې رياست پورې اړه درلوده. له لوړه بيانه خرګنديږي، چې مرحوم افغان له ۱۳۲۴ـ۱۳۳۹ هـ ق پورې دهيواد په تعليمي موءسسو کې دښوونکي، پلټونکي، مدير او رئيس په رتبو کار کړي دی. اويه دې ۱۴ يا ۱۵ کالوکې يې دوطن د يرو بچيانو ته دعلم اوپوهې فيض وربه برخه شوی وي.

<u>افغان او فرهنګي هڅې :</u>

افغان دکابل په تعليمي موءسسوکې دوطن دبچيانو دروزنې ترڅنګه دوخت په مروجو علوموکې هم ژوره مطالعه درلوده. له پښتو، پارسي، عربي او اردو ادبه سره هم ترزياتې اندازې بلدو. په پښتو او پارسي يې کښنې درلودې، پښتو اشعار يې ويل، اويه پارسي ژبه کې يې هم قلم چلاوه، اودخپلې وينا له مخې د((اردو)) محررهم و. بنايې اردو ليکنې يې هم کړې وي، چې دهغه وخت دهندوستان په اردو ژبو خپرونو کې بهخپرې شوې وي، او سملاسي يې ماته پته نشته. دده دفرهنګي هڅوڅرک دمحمود طرزي له دغې لاندې ليکنې هم ايستل کېدای شي. نوموړي دسراج الاخبار د ۶ کال د ۲۲ ګڼې په ۱۰ مخ کې کښلي دي : ((... درين خصوص بالخاصه اميد واريم که درباره ادبيات افغانى داريم، به قلم شيرين رقم وباقريحه باحب وطن توام جنابان مولوي غلام محى الدين خان ومولوي صالح محمد خان وملامحمد خان عرضبيګى داريم که قسم افغانى جريده وطنيه شانراداياً به دررغرر تحريرات اديبانه ونشرونظم فاضلانه خودشان احياء کرده اند)) (۱۰) له دې ليکنې ښکاري چې دهغه وخت فرهنګي او نشراتي موسسو هم دافغان ادبي او فرهنګي هڅوته زياته اړه درلوده اويره هيله يې ترې کيده.

---

(۹) نظامنامه دتشکيلات اساسي (پښتومتن) ۲۵مخ، د ۱۳۰۶ش کال د شرکت رفيق دمطبعي چاپ پارسي متن ۱۸مخ، د ۱۳۰۲ش کال ددلو ۱۵، دوزيرانو دعالي مجلس دتحريراتو داداري دمطبعي چاپ.

(۱۰) مقالات محمود طرزي، ص۷۸۸ـ۷۸۹، داستاد دوکتوروان فرهادي ټولونه د ۱۳۵۵ش کال چاپ دبيهقي کتاب چاپولو موءسسه.

د مولوي غلام محی الدين خان افغان دغه ډول هڅو نباید ي ډېر زيات منظـــوم او مشهور آثار را منځ ته کړي وي، چې ډ يوه لړ ه برخه ېې او س رموز بمواك کی ده . او په راتلونکو بحثونو کی به پرې خبري وکړ م .

www.libtool.com.cn

افغان او نوي نومونې :

په ژبـه او ادب کی د رأ ی تنبتنان په دې عقيده دي، چې لومړ ی ترهرڅه با يـد د يوې ژبې ويونکی داهڅه وکـړ ي، چې دخپلی ژبې ډ ېر سوچه اوناد ر لغات سره راټول کړ ي، بیا يې په قاموسونو کی خوندي کړ ي، او که دکوم ويـــ د پاره په خپلــه ژبه‌کی لغت مېند نه شو، نو په هغه صورت‌کی دنوي لغت وضع کول، او يا جـــوړ و ل، او همدارنګه دنوي تمدن د نووشيانو له پاره د پښتو ژبې له آرونوسره سم دنومونــــو اېښوول په ګټــه اوعلمي کار دي . د دغسی نومونووضع باید د نوې ژبپو هنی پر اساساتــو او اېتمولوژيکو قوانينو برابره وي (١١) .

په پښتوکی د نويو نومونو (اصطلاحاتو) وضع لرغونی سابقه لري . د اميرشيرعلی خــا ن د امارت په د وهمه دوره (١٢٨٥ـــ١٢٩٦ هـ ق) کی دعسکري قواعدو او بـــو ليـــو لحينـــی خاصی نومونې پښتو شوې (١٢) ، اودغه کار ترامانی دورې پورې پر له پسی وشو .

(١١) د پښتو نوي‌علمي اصطلاحات په څنګه وي ؟ د لوي‌استاد پوهاند حبيبي مقاله، وږمه د ١٣٤٨ شکال ٢ـــ٥ ګڼه ١ـــ٢مخونه .

(١٢) د امير شيرعلی خان په وخت کی د دغسی نومو او يا دعسکري قواعد ودرې پښتوکتابونــه چاپ شوي دي، چې پارسی تشريحات هم لري، اوله‌انګريزي‌ژبې څخه ژباړ ل شوي دي (ژباړنه، د ښاغلی رفيع ناچاپ اثر) د اميرعبدالرحمن (١٢٩٦ـــ١٣١٩ هـ ق) اميرحبيب الله (١٣١٩ـــ١٣٣٧هـ ق) اعليحضرت امان الله خان غازي (١٣٣٧ ـــ ١٣٤٧ هـ ق) په‌زمانو کی هم دعسکري پوليو او قواعدو د پښتو کولو هڅی شوې دي، او مستقل پښتو کتابونه پـــر کښل شوي‌دي . چې تفصيل يې‌زما له موضوعـــ سره ا ړ ه نــــه لـــــري، او محـــترم محقق ښاغلی رفيـــع پـــــه ژباړنه نومی کتاب کی پـــــه دې باب ډ يـــــــــر مـــوا د را ټـــــــول کړ ي د ي .

يادونه : د پښتو ځانتنـــی ادب اوموسيقـــی‌نومــــی کتاب د اُمځ پـــــه حاشيـــــه کی د اميـــــرعبدالرحمن د پاچهــــی د دورې ارقام دچاپ پـــــــه وخـــت کی دحروف چينانـــــو د بې پروايی پـــــه اثـــــــر وړ اندې وروستــــه وحتــی‌غلط شوي دي .

او په امانی‌عصرکی پښتومرکی به دې برخه کی پراخ گامونه‌اوچت کړل (۱۳) ۰وروسته چی د پښتو د‌پیاوړ تیا اوپرمختیاله پاره د پښتنولهخوا منظم کارونه پیل شول څینو دعلمی او څینو هم دخپلو عنـدي غیرعلمی آرونو پر بنادې کارته هڅه وکړه، چی د تولو په‌تفصیل سره بیانول ددې مقالی کارنه دی، البته دومره ویل به‌کاردي که چیرې دنویو اصطلاحاتو وضع دباصلاحیته کسانو له خوا دژبی له بنستیزو ارزښتونو او ریښه یی قوانینو سره برابره وي، نوبه دادژبی به گټه کاروي ۰

www.libtool.com.cn

زموږ لیکوال اوشاعرغلام محی الدین‌افغان چی دخپلی ژبی سره اورنۍ مینه درلوده ۰ دخپل کاریه ساحه (معارف) کی یی‌دنورو د اصطلاحاتو (نومونو) رواجول بنه نه ایسیدل نویی‌به همدې نیامت دځینو دلوبی له پاره په ۱۳۳۰ هـ ق کال څینی پښتو اصطلاحات وضع کړل، لکه :

تـیر = گول

وروال = گول کیپر

فاروړد = مخکینـی (۱۴) ۰

بنایی ده دغسی نوری پیره‌زړه پوري اصطلاحات وضع کړي وي، چی تراوسه‌موږ په نه یو خبر ۰ دافغان له‌دغسی کارونو څرگندیږي چی دی دخپلی مورنۍ ژبی اساسی ریږ ته متوجه و، اوبه دې هم باوري وو چی دنوي مدنیت پر انگی‌یه هرومرو زموږ وطن رونوي، اودغه مدنیت به‌نوي اصطلاحات هم‌له‌ځانه سره راوړي، چی درواجیدلو به صورت کی‌یی بیاله ژبی ایستل گران کاردي ۰ په‌همدې اساس‌دي دې موضوع‌ته څیرو، چی نوي اصطلاحات باید له‌تعمیم دمخه پښتو شی ۰

---

(۱۳) دامانی عصر ((د پښتو مرکــه)) نومی موءسس لـــه خوا په چاپ شووکتابوکی یوکتاب یوازینـــۍ پښتـــو دي، چـــی ۱۵۲ مخــه پــه ۱۳۰۱ هـ ش‌کـال پــه کابل کــی چاپ شـــوي دي ۰ پـــه دې کـتاب‌کــی‌هــم دوخت لـــه غو ښتنی ســـره ســم نـــوي لغتونــــه د پښـــتو مــــرکـــی لــــه خـــوا وضـــع شـــوي دي (وگـــوري ! پښتـــو روزنـــه، داستاد بینـــوا ص ۱۴۸، ۱۳۵۷ ش کال) ۰

(۱۴) پښتانه شعرا ۰ ج ۳ ص ۷۷۵۰

افغان او پښتو او پښتونواله :

په پښتني کلتور کې دغه دوې کلمې بېلابېل تعابير لري، او هر تعبير يې د هر پښتون له پاره وياړ من او متبرک دي، او پښتانه چې په هر ځای کې استوګن دي دوي له خپلې پښتو نه دي تېزاو يا په بله وينا پښتو او پښتونواله نه شي پرېښوداي (۱۵)، زموږ افغان هم خپله دغه پښتني خاصه له وطن څخه له لېرې والي نيولې د مرګ تر ورځې پورې ساتلې وه. افغان که په ايران کې ؤ، او يا په هند کې خپل پښتني خصايص يې نه ؤ هېر.

www.libtool.com.cn

زموږ دغه مرحوم شاعر او ليکوال هم په پښتو او پښتني ځانګړنو مين ؤ، وايي چې: ((ټول عمر به يې ملي کالي اغوستل، او دغربي طرز لباسونه يې بد ليدل، او خپله خامتيا يې د بړدو ترزو ښځو ورته ښه وه))(۱۶).

سربېره پر دې دی له خپلو خلکو سره محشور سړی ؤ. دده کورله به هر وخت له مېلمنو ډکه وه، او له هر چا سره يې د پښتونوالۍ د اصولو له مخې ښه رويه درلوده.

استاد داوي ليکي چې: ((مرحوم افغان د پښتو د ترقۍ کلک طرفدار ؤ)). او استاد بېنوا په اوسني ليکوال کې دده د پښتو پالنې په باب کښلي دي: ((غلام محی الدين خان له هغو پوهانو څخه ؤ، چې په کابل کې يې لومړی ځل د پښتو د ارتقا تحريک شروع کړی ؤ. ... په خپلو وروستيو وصاياوو کې يې شاګردانو ته داويلي وو، چې دوی به په پښتو ژبه ژوند کوي...)) (۱۷).

دده د پښتني مينې او پښتونوالي د څرګندوې په توګه دده، هغه پښتو اعلان هم د توجه او خاصې پاملرنې وړ دی، چې د سراج الاخبار افغانيه د ۶ کال د ۲۳ ګڼې په ۴ مخ کې خپور شوی دی: ((اول مقصد مو د اعلان دا دی چې زموږ مبارکه ژبه رواج پيدا کي، او هر څوک دې په باب کې د ترقی د پښتو ښه ښه مضامين په افغانی کې وليکي، او په واسطه د دې اعلان ټولو پښتنو ته خبر ورکوم. که څوک زما يا د بل چا د پښتو په مضامينو ايراد لري. هغه دې خپله مدعا په پښتو کې وليکي، او د سراج الاخبار مدير صاحب ته دې راولېږي. که بنده د هغه له جوابه عاجز سم، هغه ته به په څلوېښت روپۍ په طور د انعام ورکړم او وعده هم شپږ مياشتې ده)).

---

(۱۵) درنه پښتو د پروفيسور پرېشان خټک ص ۱۶، د ۱۹۷۸ ع کال چاپ، پښتو اکېډېمي ـ پېښور.

(۱۶) پښتانه شعراء، ج ۳ ص ۷۷۴ ـ ۷۷۵.

(۱۷) اوسني ليکوال ج ۱ ص ۶۸، د ۱۳۴۰ ش کال چاپ، کابل.

وګوری ! چی دغه اعلان څومره له پښتنی احساساتوډك دي ، اوله پښتـــو او پښتنوالی سره دده دمینی څرګندوي ، او د پښتودترقـی له پاره دده دارمـــانی زره یوه کریکه ده .

www.libtool.com.cn

دافغان شخصی ژوند :

په خپل وطن ، خپلو خلکو او خپلی ژبی دغه مین پښتون دژوند ترپایه‌پوادهٔ ونه کــړ . او خپل ژوند یې تراوه . په کابل کی یې د شوربازار د براچه وو په سرای کی کیټه درلوده ، چی تل به یې له ملګرو ، دوستانو او شاګردانو ډکوه . ده خپل عمر دعلومو په زده کــړه ، دنورو ژبو په زده کړه ، سیاسی مبارزه ، خپلی ژبی ته دخدمت اود وطن‌دبچیانو په روزنه تیرکړ ، څوك تري پاته نه شول ، اوخپل ژوند یې وطن ، ژبی اوخلکو ته دخدمـــت په لاره کی پای ته ورساوه . خو دغه خدمتونه به یې زموږ د ادب په‌تاریخ او ملی تاریـخ کی تل پاته وي ، او نوم به یې ژوندي ساتی .

مــړینه او مــزار :

زما په عقیده ددده دمړینی دپیښیني په‌باب ترهره بله ماه خذه په ((امان افغان)) کـــی هغه خپور شوي لیك دزیات اهمیت وړدي ، چی د دارالمعلمین د سرکاتب محمدجعفر په قلم کښل شوي دي ، زه هغه مکتوب دلی کټ‌مټ را اخلم :

((مکتوب : ضیاع افسوسناك : جناب مولوي غلام محی الدین خان افغان مدیر دارالمعلمین که خودرا یګانه فدایی ملت افغان قرارداده ، همیشه فداکاري راه ترقی وملت کـــه فـــو زوسعادت ابدي میدانستند وخدمات نمایان وشایانی درمعارف ابراز نموده ، چـــه همینقدر معلمیـن که درمکاتب ابتدائیه خطه مقدسه وطن شرف ملازمت دارند . اکثـر بلکه انها تربیت یافته دست اخلاصږ ساس‌شان است . که از دارالمعلمین به مفا خــرت تعلیمــیه اولاد وطن‌ممتاز ګردیده اند . جناب موصوف زبان افغانی ، عربی ، فارسـی اردو ، پنجابی ، انګریزي ، ګورمکهی ، شاستري وغـــیره را بدرجه کمال دارابوده ، چند کتب مفیده را جهت یادګار تالیف وترجمه‌کردند .علاوه برهمه اوصاف وکمالاتیکه داشتند ، مدت سی سال مجلس افغانی (افغان کلپ) را درهند وغیره ریاستوداره کــــرده بودند . بتاریخ یوم چهارشنبه ۱۲ برج اسد سنه ۱۳۰۰ به دوبجه یوم مذکور به حکــم ((ولکل اجل کتاب)) روزنامچه حیات شان بانجام رسیده واز دست ساقی ((قل یتوفــی کم ، ملك الموت الذی وکل بکم)) به مرض‌هیضـه شربت ممـات چشیدند ، و محنــــت اباد دنیای غدار را ترك وبه عشرت سرای دارالقرار رحل اقامت نمودند :

PROPERTY OF ACKU 1509

دنیا بهشت ورحمت پروردگار یافت
باساکنان عالم علوی قرار یافت
(انا لله وانا الیه راجعون)

فردای آن روز پنجشنبه جناب جلالتماب وزیر صاحب معارف درشیوهٔ الطاف خاصیکه دربارهٔ خدام مخلص دولت وملت دارند وبگانه خیال نیکوکار شان معارف افزایـی است . جهت تسلیت خاطر معلمین وطلبهٔ مدیر مرده تشریف آورده علاوه برتسلی بخشی چند نفر حفاظ جید را بوجوهات نقد خورسند ساخته جهت ختم کلام مجید وفرقان حمید بارواح مرحومی گماشته دووقته طعام وناشتای صبح وغیره مصارف واسایش لازمه به بسیار خوبی ودرستی مقرر داشته ، که عرصهٔ سه روز بالای مقبره مصروف ختم کلام وطالب مغفرت باشند ، از درگاه خداوند بی زوال اولاً بقای اعلیحضرت غازی (امان الله) را طلبگارم که از فرط رحمدلی ورعیت پروري بنابر قناعیت وخوشدلی رعایای شاهانهٔ خود چنین سرپرستان خلیق وشفیق مامور ومقرر فرموده اند که بعد از مرگ نیز درآرامی وخوشحالی شان صرف مساعی می نمایند . ثانیاً از بارگاه حضرت رحمان برای مرحومی طالب بخشش وغفران میکنم ، فقط . مورخهٔ شنبه ۱۵ برج اسد سنه ۱۳۰۰ محمد جعفر سرکاتب دارالمعلمین)) (۱۸) .

یوه جالبه نکته چې په امان افغان، کی له دغه لوړ خپاره شوي مکتوبه راوځي داده چې دده دمزار پر کتیبه دده دمړینې ورځ چهارشنبه داسد ۱۱ نېټه ښوول شوي حال داچې لوړ مکتوب دارابنیي چې دغه ورځ داسد ۱۲ وه ، او ددې نېټې دصحت بل دلیل دادي ، چې نوموړي محمد جعفرخیل مکتوب دشنبې په ورځ داسد په ۱۵ کښلی دي ، چې به حساب دچهارشنبې ورځ دهماغې میاشتې ۱۲ کېږي له ۱۱ . په پښتانه شعراء دریم توك (۷۷٦ مخ) او وسنی لیکوال لومړي توك ۲۷ مخ کې دمرحوم افغان دمزاردکتیبې نقل راخیستل شوی دی ، چې دمړینې ورځ یې چهارشنبه داسد ۱۱ رابنیي .

مرحوم افغان شبیته کاله عمروکړ ، چې زیاته برخه یې وطن او دوطن زامنو ته په خدمت ، تاء لیف ترجمه ، مبارزه اوزده کړه کی تیره شوې ده .

---

(۱۸) امان افغان، دوهم کال ۱۳۰۰ ، ۱۰ اگڼه ص ۲ ــ ۳ . دسنبلې ۱

پښتانه شعراء دریم توك کی راغلی دي ، چی له امان افغان سره بیره د بجنور (۱۹)
په مدینه نومی اخبار د لاهور په سیاست او زمیندار اخبارونو ، د امرتسر په اهل سـنت وجماعت اخبارو کی د ده د مرینی خبرونه خپاره شوي وو ، او ډیری مرثیـی او سانـد ي پسی ویلی شوي وې . د ده یوه عربی مرثیـه خو بیته یې پښتانه شعراء (۲۰) ، را اخیستی دي .
www.libtool.com.cn
دغه عربی مرثیه په هندوستان کی ویل شوي وه .

له دغو اسنادو څخه ښکاري چی د افغان مړینی د افغانستان ، سرحدي سیمو او هند علمی او ادبی محافل ویرمن کړي ووء او د ده مړینی په منطقه کی د یـر زیـات اغیز ښندلی وء .

مـــزار :

په پښتانه شعراء کی کښل شوي دي : ((د افغان مړي د (حوان افغان) له خوا د کابل د (جوبی) په هدیره کی تقریباً د کاسه برج لمنی ته ښخ کړ شو ، پرهدیره یې یو ښخـه متره خلی د حزبی ملګرو له خوا د اعانی په صورت د ده د خدماتو د یادګاره نامه جوړ کـړ شو چی اوس هم شته)) .

د مزارات کابل مؤلف د ده د مزار موقعیت داسی تاکی : ((این مزار در وسط راه وزیارت حضرت تمیم قریب قبر میرمحمد هاشم خان است)) (۲۱) .

---

(۱۹) بجنور : د روهیلکهند د سیمی په ښارونو کی یو ښار دي . روهیلکهند د هندوستان په شمال کی د ګنګاه د رود پرختیځه غاړه د یوې پراخې سیمی نوم وء ، چی لـه بجنوره پرته رامپور ، مراد آباد ، بریلی ، شاهجهان پور ، سنبهـل ، نجیب آبـاد ، امروهه او نګینه یې مشهور ښارونه دي ، د روهیل کهند سیمه په اداري لحـاظ د اتر پـرد یش پـه ایالت پـوري اړه لـري (وګوری : شیخ بستان بړیځ ، بحـر یخـی او ښـوراوك د فاضل استاد بوهانـد رشاد مقاله د ۱۳ مـخ لمـن لیـك ، د ۱۳۶۰ ش کـال چاپ ، د اطلاعاتو او کلتور وزارت)

(۲۰) پښتانه شعراء ج ۳ ص ۷۷۶

(۲۱) مزارات کابل ، محمد ابراهیم خلیل تاء لیف ، ۵۰ مخ ، د ۱۳۳۹ کال چاپ ، کابـل تاریخ ټولنه .

دده د مزار پر کتیبه چې په پښتو ژبه ده داسې کښل شـــوي دي

((یا ایها النفس ارجعی الی ربک راضیة فادخلی فی عبادي وادخلی جنتی))
(ایه) ((مولوي غلام محی الدین خان افغان په تندهار کې متولد شو او هلته ئې دیني تعلیم حاصل کړ ، پس په معیت د سردار ایوبخان په راولپنډۍ او لاهور کې فرانه حالت کې له انګریزي مکتبو څخه جدید تعلیم واخیست ، چې بیرته کابل ته راغی د امیر حبیب الله خان په عهد د مکاتب ابتدائیو ممتحن مقرر شو ، پس له خدمت د (۱۴) کالو د معارف د امیر امان الله خان غازي په روښان دوران کې مدیر د دارالمعلمین شو او هغه خیالات او اراده ئې کې چې د اصلاح او ترقی د ملت چې د ولس کا له پخوا ئې په مجلس د جان نثاران اسلام کې معاقده کړي وي . د ظل الهی تر سیوري لاندې پخپله ثمره ورسیدې په داکیف مطمئن او راضی د عباد الله په خدمت کې داخل په اجل د وبای هیضه وبروردګار ته راجع شو ، او هغه د تولو ښتن په جنت کې داخل کړ . دا دعا (محوان افغان) په یاد د هغه د وطن دوستی او وفاله زړه خیـزي چې :

چې په یاریسی ترځان او جهان تیر روي
خوک کولای شي داهسې مشقـــت

د شپیتو کالو د صلاح او تجربه د او محوانی په ژوند کی ملګری د محوان مردانو د اهـــل او صالح د هرمشرب چې تول ئې امرزش غواړي :

بروز مرگ که یوم وصال یاران است
کسیکه دست من آن دم گرفت یار انست

تاریخ وفات چهارشنبه ۱۱ ، اسد ۱۳۰۰ هـ ش (۲۲) . مطابق ۲۸ ذیقعدة الحرام ۱۳۳۹ هـ ق)) (۲۳) .

---

(۲۲) د پښتو محانتني ادب او موسیقی نومی کتاب د مقدمی په ۵۰ مخ کې چې د غلام محی الدین خان د مړینې کال ۱۳۱۱ هـ ش چاپ شوی په وطباعتي تیروتنه ده .

(۲۳) د کتیبی نقل چې په پښتانه شعراء ج ۳ ص ۷۷۶ـ۷۷۷ ، او اوسنی لیکوال ج ۱ ص ۷۲ـ ۷۳ کې راوړل شوي ، اختلاف سره لري . ما د واړو له مخې وکښـــه . هیله لرم چې سهی می راخیستی وي .

www.libtool.com.cn

آ ثـــا ر

دمرحوم افغان دژوندليك په پای کې چې ماله ((امان افغان)) څخه دده دمړينې په باب دمحمد جعفر سرکاتب مکتوب رانقل کړی دی. هوري ليکونکی کښلي دي چې: ((... چند کتب مفيدمراجعت يادگارتاليف وترجمه کرده اند)) مګرمابی تراوسه کوم مستقل چاپی کتاب نه دی ليدلی. د ((نگاهی برنقش فرهنگی افغانستان درعهد اسلامی)) نومی مجموعی دامانيه دوري په آثاروا وچاپی کتابوکی يو کتاب داسې پيژندل شوی دی: ((اخلاق ومعلومات مدينه، صنف چهارم رشديه)) اوموءلف يی محی الدين نبوول شوی دی، چې په ۱۳۰۴ ش کال ۲۶۴ مخه چاپ شوی دی. (۲۴) که دغه کتاب دده وي نوترمږ ينی يی څلور کاله وروسته چاپ شوی دی، چې يو درسی کتاب دي. داخلاقو او مدنی معلوماتو په باب بحثونه او خبري لري.

له دې سر بيره دافغان دآثارو په باب بي‌رموز معلومات دسراج الاخبار په پاڼو متکی دي، او په دې خبرونه او معرف معارف کی ددمحینی متفرق پارکی، منثورې‌توټی (مضامين) او فولکلوريك آثار خوندي دي، چې دهمدغو آثارو معرفی يې زه دلې کــــازم:

منظوم آثا ر

دافغان په لاس ته راغليو منظومو آثاروکی يوه غزله، دري قصيدې‌وشمه غزلی او قصيدي دري مخمسه، يوترجيع بند ذوالقافيتين، او يومسدس شامل دي.

دغه منظوم آثارد شکل په لحاظ زاړه، مګردمضمون په لحاظ يې زياتره پارکی نوي خبري او نوي کړه وړه لري.

په دغو منظومو پارکوکی اکثره اجتماعي، ملی او اخلاقی مسايل بيان شوي دي. له عالم اسلام سره‌دانګريزي اوغربی استعماري طاقتونو ناخوالو او ناروا وخبري يکي شوي دي. نوي مفاهيم، تعابيراواصطلاحات په دغو پارکوکی راغلی، چې ددغی دوري له شاعرانو يې په دمخنيو اشعاروکی موږ څرك نشو ای ايستلای.

غلام محی الدين افغان دوخت په مروجو عصري‌علومو پوهو. دسياسی جګړې‌ډ ډګر يوغښتلی پهلوان اويمخپل وطن‌مين. ده چې شعرونه ويل نو يې دشکل په‌لحاظ دهغو زړو وکلاسيکو فورمونو پيروي‌وکړه. خو دمضمون په‌لحاظ له‌يونيم پارکی برته پرهغی پخوانی لاري نه دی تللی، اودعصر لغوښتنو سرمسم يې نوي ملی، وطنی، سياسی او اجتماعی

---

(۲۴) نقش فرهنگی، ص ۱۲۳، دپوهاند دوکتورجاويد مقاله، د ۱۳۵۵ ش کــال چاپ.

مسایل په شعرکی بیان کړي دي . که څه هم افغان د پښتو کلاسیکو شاعرانو له آثارو سره پوره پوره اشنایی درلوده . خو د هغوی مضامینو یې د خپلې زمانې غوښتنو ته د جواب ورکونه بلل او له خپل فکري سیر او د ملت او وطن د مصالحو په پام کې لرلو یې زاړه شعري موضوعي قالبونه مات کړه او په نویو مفاهیمو او وطني مسایلو سوللې شوي شعرونه یې په زړو عنعنوي شعري شکلونو کې راونغښتل .

www.libtool.com.cn

لوی استاد پوهاند حبیبي د غلام محی الدین افغان د دغه فکري تجدد په باب کاږي : (((څو) کاله پخوا زما نه دریه یاد کې هغه وخت چا پښتو شعرونه وایه . او که به هم څوك په دي فکر کې و ، هغه به د خوشحال او رحمان پیروي کوله . د توروزلفو په شکنج کې به نښتی او د بانهو په غشی به ژوبل و ، د شعر موضوع او محتوی پوزرکاله دغسې راغلی وه ، او خلك هم پر دغه لار تلل . پو وار نابیره غلام محی الدین افغان د شعر مجری بدله کړه ، او په (۱۳۳۳ هـ ق) یې په سراج الاخبار کې د کوم خیالي محبوب د اوږدو زلفو او بنګلي مخ او هلال ابرو د ستاینې پرځای د وطن په حقیقي دلبر پوري داسې سندره وویله :

زړه زما پرك دي له مینې د وطن   خپل وطن ماته عزیز دی تر خپل تن))(۲۵)

افغان به پښتو شعرکی هغه مهال په موضوعي لحاظ دغسې یو فکري حرکت راووست او دا مهکه چې دی اړ و ، چې دغسې ملي او وطني مسایل د خلکو د بیداري له پاره په خپلو سندرو کې راونغاړي . څکه د ده خپل پلرني تاټوبی کې د انګلیس استعمار نمایندہ ګوډاګی امیر په خپلو مزو او چړ چو اخته و ، او په ټول شرق کې د اروپایي متمدن صفتو وحشیانو یرغلونه جاري وو ، او بیا هم د غه وخت استعماري ځواکونه د خپلو ګټو د ساتنو او د خپلو مستعمراتو د پراخولو په نیت په خپلو کې سره ونښتل لومړی عمومي جنګ پیل شو (۱۹۱۲) ، د غه جنګ زموږ د مملکت پر سیاسی او ضاعو هم تاثیر درلود په دغه وخت کې زموږ د اولس جذبات پاریدلی وو . دغه وضع او له انګریز سره د امیر د سازشونو په باب د افغان د یوه بل معاصر شاعر عبدالرحمن لودین (۱۳۰۹ هـ ش شهید) د زړه د وینا وو راوړل هم دلته له موضوع سره بی ارتباطه نه دي :

---

(۲۵) په اوسنی پښتو شعر کی د ژوند څپې ، ۲٦ مخ ، د ۱۳٦۰ ش کال چاپ ـ کابل پښتو ټولنه .

ای ملت از برای خدا زود تر شوید — از شر ومکر وحیلهٔ دشمن خبر شوید
تا از صدای صاعقهٔ اش کرو کر شوید — وانگه چو رعد نعره زنان دربدر شوید
مانند برق جلوه کنان درنظر شوید

www.libtool.com.cn

ازیکطرف نهنگ وزد یکطرف پلنگ — هرد و بخون ما دهن خویش کرده رنگ
اکنون که گشته اند بخود مبتلا زجنگ — جهد کنید بهرچه هست اینهمه درنگ
درحفظ راه حق همه تیغ وسپر شوید

این وقت فرصت است نه هنگام جشن وسور — هرکس که فوت میکند ش میشود کفور
پس در همین خلال وچنین حال واین فتور — تیزي وسعی وهمت تان اینقدر ضرور
تا ازبرای چشم عدو نیشتر شوید

امروز درتمام عالم چه شوروشر — برپا ومانشسته ازآنجمله بی خبر
نی فکر سود نی سرسود ایمان به سر — افسوس بر ملالت حال چنین بشر
باید زشرم آب زپا تا بسر شوید

الله عالم است کا این خصم بدسرشت — این حب حب خویش چه شان کرده است کشت
تا هیچ فرق کرد نباید زخوب وزشت — نقشی چنین بساط بپا یست درنوشت
ترسم خدا نخواسته زیر وزبر شوید (۲۶)

دغلام محی الدین افغان دیوه بل پښتون معاصر شاعر استاد عبدالهادي داوي د الاندي پارسی غزل هم دهغه عصر دملی غورځنګونو اوروښنفکري حلقوکري سیراو غوښتنی ښی رابښیي :

تا به کی اولاد افغان تا به کی — تا به کی هان تا به کی هان تا به کی
کو کوی مرغ سحرامد بگوش — خرخرخواب ای گران جان تا به کی
نوربیداری جهانی راگرفت — خواب غفلت ای حریفان تا به کی
سبزهٔ خوابیده هم برداشت سر — بر نمیداری تو مژگان تا به کی
میرسد آواز سبیل ازرا ه دور — تو به خواب ای خانه ویران تا به کی
میوزد باد خزانت درچمن — شوق گلگشت بیابان تا به کی
باید بیت برحال خویشت خون گریست — سیر انهار وگلستان تا به کی
یک نفس سرد رگریبان درکشید — فکر کالرای جوانان تا به کی
رفت وقت خنده وهزل ومزاح — خورد سالی خورد سالان تا به کی
ای قلم اخر زبانت میبرند — این قدر حرف "پریشان"* تا به کی (۲۷)

---

(۲۶) (۲۷) افغانستان درمسیر تاریخ ص ۷۲۱ــ ۷۲۵.

* پریشان د استاد داوی تخلص دی.

په دغسې يوه علمي او فرهنګي محيط کې له هغواد پالو انقلابي شاعرانو سره محشور د يوه حساس او متجدد د فکر خاوند شاعر څنګه کولای شي چې بېځايه ترانو کې دګل او بلبل نغمې وزغوې او يا اخپلې سندرې د زلف او کاکل خبرو ته وقف کړي. افغان دزماني او شرايطو ترتاثير، دملت له غوښتنو او دادب او دفکري يون سره سم پخوانۍ خبرې او هغه زاړه وراسته شوي موضوعات پرېښو ول او د هغه پرځای يې دوطن، او خلکو ترانې وويلې . خلک يې ويښ کړل . خپلې ژبې، خپل قوم او خپل ملت ته يې د بيدارۍ درسونه ورکړل، او حتی د فکر نيسلئي لوازي دګران افغانستان په جغرافيايي محدوده کې تم نه شو . بلکه دټول شرق د بيدارۍ او داستعمار له خونړ پنجو منګولو څخه يې ددغو ترستم لاندې مظلومو ملتونو آوازد شعر په ژبه رااوچت کړ . خپل قديم او زاړه مفاخريې په خپل کلام کې ونمانځل، دا دهرو طنپرست او په خپل قوم مين وظيفه وه او ده چې په خپلو نوميالو وويار ي، او په خپلو ملي او تاريخي افتخاراتو مباهات وکړي .

دافغان فکري غورځنګ دوطنپرستۍ له معيارونو سره برابر دی او هغه څه چې ده موږ ته پرېښي رموز دملي او ادبي تاريخ خلا ند بابونه جوړ وي .

دده په يوه پاړ کې کې دپاچا (اميرحبيب الله) ستاينه هم شوي ده، او څو ک نبايي دا انتقاد وکړي چې دانګريزانو ديوه ګوډاګي پاچا مدحه يې کړې ده . مګر اصلي خبره داده، چې دهغه وخت فرهنګيانو خصوصاً دسراج الاخبار افغانيه دليکوالو او پياوړي مدير دا پاليسي وه، چې ټول انقلابي مضامين او اشعار به يې دده ننامه په تشه يادونه په اخبارکې خپرول، او د پاچاله پاره دغه يادونه په حقيقت کې داسې زهر وو، چې دشاتو په نامه ورکول کېدل .

دافغان لاس ته راغلي پاړ کې زياتره ملي اووطني خواوې لري . له وطن او خلکو سره مينه يې په خپوده . دی يو ملي اووطني شاعردی . له علم او پوهې سره دپښتنو داشنايۍ سرسخت طرفدار و، او دعلم او کمال په بنيګڼو او توصيفونو کې هم ځينې پاړ کې لري، چې نعصر دتقاضو ريز نده دي .

دده دپاړ کو له موضوعي تشريح چې تير شو او دهنر او ښکلا له پلوه بې څه ووايو ته دلته دپښتو دادبي تاريخ ديوه نقاد خبرې رايادېږي، چې څو کاله دمخه يې په سراج الاخبار کې دخپروشوو پښتو شعرونو په هنري ارزښتونو کړي وې، زه دهغو خبره لږه برخه دلې رااخلم :

((... ددې دورې دا شعارونمونې ديوه بر سا ده او مبتدې شعرنګارند وي دي.

ئې هلته سمبولونه نيغ په نيغه، اوبې له دې چې هنري عليه پرې اجراشي، يوــه
بل پسې قطارشوي دي ((پسته مې خپل بادام مې خپل روغن مې خپل دی)) هيـځ
تخيــل نه لري . بې له دې چې دهيواد خپلواکی او شتمنی ته يوه برېنډه اوسطحی
اشاره ده . حتی هغه زوړ سمبوليزم چې پسته خولې ته، اوبادام سترګو ته ورته وبولي
www.libtool.com.cn
هم دلته نشته که داشعرونه دپښتو دشفاهی اوکليوالو دشعرونو، غزلواو لنډيو سره
پرتله شي له ورايه ښکاري چې شاعرنه دی بريالی شوی هغه ايله يال چې دی ــ
وياندی ګروهمن دی . داسی بيان کړي چې خلکو ته دشعر په حيث دمنلـــو
وړ وي . ددغو شاعرانو نه هم دپښتو دطلايی عصرعنعنه ورکه ده اوهم يې داولسې خيــر
خبري نه زده .)) (۲۸) داخبره تريوه ځايه سمه ده ، چې په سراج الاخبارکـــې
خپاره شوي پښتو نظمونه ترزياته حده له هنره بې برخې دي، او دښکلا اړخ يـــې
کمزوری دی، او ددې کمزورتيا علتونه موږ داسې څېړلی شو چې دغو شاعرانـــو
دقدماوو موضوعی قــالبونه دړې وړې کړل، او پرځای يې نوي موضوعات چې ترزياتــه
حده لموطن او خلکو او اجتماعی ژوند سره اړه درلوده په خپلوا شعاروکی راونغښتـل
نو دابايـد يو طبيعی جريان وبولو چې دقديمی عنعنی پرېښوول او دنويومفاهيمومنـل
په لومړۍ مرحله کی څه ضعفونه اونيمګړتياوې لري . ځکه دشعرپه هنري اولطيفو څپو
کی دنويو وطنی او اجتماعی مسا يلو ځايول ددغسی شاعرانوله خوا چې قديمی شعري
عنعنی يې زياتېره په خيالی اوسمبولی موضوعاتو کې وې، څه اسان کارنه دی . پــه
همدې وجه دافغان ځينی شعرونه هم په هنري لحاظ اوچت مقام نه لري او حتـــی
په ځينو برخوکی يې تخنيکی نيمګړتياوې هم ترسترګوکيږي دوزن او نظم اړيکـــی
يې سره سرنه خوري . سکتی او دځينو پاړکو په مسريـوکی يې دهجاوود کمبوت
اوزياتوب مسا‌ء له هم مطرح ده .
اما ددې ترڅنګه داهم دهيرولونه ده چې دافغان ځينی پاړکی، لکه : درحمان بابا
پرغزلو مخمسات سربېره پرموضوعی ارزښتونودهنر اوښکلا له پلوه هم لوړ معيازلري . او د
افغان دوريري لوړې ادبی تريخی نمايندګی کوي . ديوه مخمس دغه يو بندبې وګورئ !

---

(۲۸) دتفصيل له پاره وګورئ! کابل مجله د ۱۳۴۱ کال ۶ ګڼه ۳۶ــ۴۱ مخونــه .
پښتوچاپي آثار ۲۹۸ــ۲۹۹ مخونه، دښاغلی شپون مقالی .

څوك چي ورك له خپل وطن وي څه به خوب كا
ستمګرچي (۲۹) ګلبدن وي څه به خوب كــــا
مبتلا چي په شيون وي څه به خوب كــــــا
هغه څوك چي دی مين وي څه به خوب كــا
چي فرهاد غوندي پكوهكن وي څه به خوب كا (۳۰)

www.libtool.com.cn

افغان او لرغوني پښتانه شاعران :

مرحوم غلام محی الدين يو داسی پښتو مين اديب و، چي د دې ژبي د ترقـــــي په لپاره کې د مهمو خدمتونو ترڅنګه د پښتو له لرغونو آثارو او فرهنګی ميراثونو سره هـم مينه درلوده . د ده له لاسته راغلو پارکو او آثارو څخه ښکاري ، چي ده د خوشحــال خټك (۱۰۲۲ــ۱۱۰۰ هـ ق) اوعبدالرحمن بابا (۱۰۴۲ــ۱۱۲۸ هـ ق) د آثارو او ديوانونو پراخه مطالعه درلوده ، ښايي د پر نورو پښتو آثارو هم لوستي وي .

افغان سر بيره پردې چي د خوشحال خان خټك سوانح لومړی ځل په پارســــي ژبه د افغانستان په مطبوعاتو کی خپرې کړې . خپل د غه لاندې مخمس:

((څه عجبه خوب و، چي مې وليده سحر زه يم په يورپ کی اوګرځيږم لرو بـــــر
ټول يورپ اخته (دی) په غوغا په شوروشر يوتربله وژني په ټوپك اوپه خنجـــــر
ماوې دا به ملك وي د سينا يا د بربر .))

يې د لوي خان د هغه مشهور ((ترکيب بند ذوالمقافيتين)) په پيروي او د هغه تــــر اغيز لاندې ويلی دی ، چي خان په هغه کی د خپل نيول کيدو ، اوبند واقعات ګرده بيان کړي دي . ټول دوه سوه شل بيته دي او يوولس بنده لري ، او خان د رنتهبور په جيل کی ويلی دي .(۳۱) د پيل بيتونه يې دادي :

---

(۲۹) چي = چي يې ، د کند هار ګړ دود . په لرغونو پښتو متونو کی همداسی راغلی دي .
(۳۰) سراج الاخبار ، پنځم کال ۱۹ ګڼه
(۳۱) کليات خوشحال خان خټك ۹۲۴ــ۹۴۷ مخونه ، د مرحوم استاد کامل له سريزي لمنو او سمونوسره ، د ۱۹۶۰ ع کال چاپ . د وهم ځل ، اداره اشاعت سسرحد .

خه د بدو خوبو چې مې وليده سحر ستر ګې مې رڼې کړې نا قرار شوم په بستر
پاڅيدم له کټه لکه خوږ شي د چا سر هسې شان او ترشوم نه مې لير ليد و نور

له دې سربيره د ده موجود ترلاسه شوي کلام کې د وه داسې مخسونه شته ، چې د لسان اللغيب رحمان بابا پر دغو لاندې غزلو ويلې دي :

www.libtool.com.cn

هغه ژوې چې مين وې خه به خوکا چې مجنون غوندې کړ من وي خه به خوب کا (۳۲)
اې زما دزړه ارامه راشه شه سروقد وګل اندامه راشه راشه (۳۳)

له دې سربيره يې دځيل يوه پښتو منثور مضمون په ترڅ کې د شمس العلماء قاضي ميراحمد شاه رضواني د يوه شعر اقتباس هم راوړي ، چې ماد هماغه مضمون په حاشيه کې لازم توضيحات ورکړي او دلې يې دغه لوړه يادونه کافي بولم .

منثور آثار

د افغان په ترلاسه شوو آثارو کې ځينې منثورې توتې هم زموږ په واك کې دي ، چې له دغو منثورو توټو څخه يوه په پارسي ژبه او دوې په پښتو دي .

(۱) پارسي مقاله :

د افغان پارسي مقاله د ((حالات خوشحال خان ختك)) سرليك لري ، اويه دې ليکنه کې يې د پښتو ادب او خاراو ستر شاعر خوشحال خان ختك خپلو افغاني پارسي ژبو ورونو ته د دوی په ژبه معرفي کړي دی . د هغه وخت له معلوماتو اسناد واومد ارکو سره سم يې دلوی خان سيرت ښايسته په پرته ښوولي دی ، او ځينې برخې يې ا وس هم د منلو وړ دي . افغان ښايي دغه مقاله په دې نيامت په پارسي ژبه کښلې وي ، چې د افغانستان پښتانه خوله دوارو ژبو پوره استفاده کولاي شي ، او حتی زموږ د پارسي فرهنګ زيات آثار پښتو کښلي دي ، نو يو يه چې د پښتو د دغه عظيم اومبارز شاعر سوانح او کارنامی په پارسي ژبه وکښلې شي . ګټه به يې د يوه اود افغانستان باسو ا ده طبقه به ګرده دی وييژني .

د موضوع او مضمون په لحاظ دغه نشرته موږ تحقيقي نشر ويلې شوو ، ځکه په خپله ليکوال د مقالي په پيل کې کښلي دي : ((بطور اختصار از کتب متفرقهٔ افغاني وپارسي نوشته شده)) نشر اود ليکلو شيوه يې هم د منلو وړ ده . د دغې دورې د پارسي نشر

---

(۳۲) (۳۳) د رحمان بابا ديوان لومړی دفتر ۷۷ـ ۹۰ مخونه . د ۱۲۷۳ هـ ق کال د پيښور د ((رتضايي مطبعې چاپ .

د خصوصیاتو په باب د پارسي ادب یو څوان اوسني لیکوال کښلي دي : ((جریان نثر نگاري این دوره نیز از رهگذر ساده نگاري وبی تکلف نویسی قابل تاء مل است .
اگرچه ساده نویسی ودوري جستن از تکلفات نگارش نثر فنی دوره های پیشتر اززمان نشر جریدهٔ شمس‌النهار (۱۸۷۴ع) اغاز یافته بود ، اما درین دوره بیشتر ازپیش متکامل گردید وحتی گرایش سا د نویسی با نوعی بیانش بود بی پاکیزه نویسی دري هماهنگی یافت ...)) (۳۴) دافغان پارسي نثر هم دروانی ، سادگی اود الفاظو او تعابیرو داداله پلوه په سراج الاخبارکي له خپروشوو پارسي نثرونو سره اوزه په اوزه په یوه صف کي د دریدو حق لري ، او کومه بنکلاچي د سراج الاخبار په نورو منشورو لیکو کی لیدل کیږي ، دافغان پارسي نثرهم هغه خصوصیات لري .

(۲) پښتو مقاله :

دده پښتو مقاله ((افغانستان د سرو زرو مرغۍ دی)) نومیږي . دغه نثر تحقیقي جنبه نه لري ، بلکه یوااخباري نثر دي ، چې هدف يې دخپلو وطني احساساتو څرگندونه ، او دخپل وطن په گټه تبلیغ دي ، او زموږ د ژبې داخباري نثرونو په لومړنی قطار کی دریږي ، ددغه نثر یو ټوکرولولی :

((داملك دهندوستان ، بلوچستان دایران اود چین په میانځ کي پروت دی دي ملك ته که باغ ارم هرڅوك ووایی نوبي شك ښایي . ولي چې پاك رب داملك بالا تشبیه په مثال دخلد برین پیدا کړي دي ، اوبه دې ملك کي سر سبزغرونه ، زرغونه چمنونه ، خوږې اوبه ، شیرینی میوې ، رنگارنگ گلونه ، ښایسته خلق او باغیرت سړي زښته ډیر دي ..))

دا نثر زموږ داخباري نثرونو قدیمه بولگه ده ، چې په لمریز لیز دیز شمیبر خلورشپیته کاله دمخه کښل شوې ده . مگر دنثر خوږ والي او رواني یې دغه نثر د هنري نثر پوري ته رسوي ، خو د شکل له پلوه یې موږ په هنري نثر (۳۵) کی

(۳۴) دهنر مجله . دریم کال ۴ گڼه ۲ مخ . د بو یافاریابی مقاله ، ۱۳۵۹ ش کال .
(۳۵) په هنري نثر کی : ناول ، رمان ، داستان ، لنډه کیسه ، ډرامه ، او دبی توته رائحی (وگوري : ژړيرې ۲ نمبر فوق العاده گڼه ۴۱ مخ ۱۳۵۶ ش کال پښتوټولنه ، دیادونی وړ ده . چې ما ((د پښتو څانتنی ادب او موسیقی)) نومی کتاب د مقدمی په ۱۵ مخ کی عبرت نوی ډرامه پښتو لیللی ده . هغه ډرامه پښتونه ده ، بلکه په اردو ژبه پښتنی ماحول یکی تمثیل شوي دي .

نه شو مطالعه‌کولای، او اخباري نثر ورته ویل کیږي . دیادولو وړ خبره خویه د ې برخه کې داده، چې مرحوم افغان او مولوي صالح محمدخان هوتك مرحوم په سراج الاخبار کې دپښتو نثر داسې نمونې خپرې کړې، چې دعامو خلکو ژبې ته نژدې وې . سادګي اوسلاست یې مهمه خاصه وه . مګر کله چې په اماني عصر اوبیا راوروسته اخباري او یا قانوني نثرونه (۳٦) وکښل شول . ډیرې خونده اوله تکلفه ډك وو، تاسې لاندې داماني عصر دنثر بولګه ولولی:

((هرنوم دپارسي چې په پښتو نوم ولري . ددې دپاره دې نومونه دمیوو او دونو او دونیو دګلونو اود اړونورنومونه چې ناولده وې . یالز ار ویدل کیږي وکښل سي دپاره دارولو (جوړولو) دپښتو خبرو . هرڅه کښلي یا ني چې په هره ژبه دهرچا څخه وي یاورښکاره وي . وځای ته دمرکې دې ور اندې کړي کسي په ملګري ومرکس ته وړکوي ښه که نه په خوښه دده په ځښې ویږود ل سي ۰۰ ۴)) (۳۷)

وګوری دغه نثر او دافغان نثر دروانی اودخلکو محاورې اوورځنیو خبروته دنږدیوالی له جهته څومره توپیرونه لري . هغه څومره روان او دابل داڅومره کړ کیچن دی .

دغه رنګه کله چې طلوع افغان پښتو شو، پښتو مجله دکندهار دادبي انجمن له خوا خپره شوه، او یا په اتحادمشرق کې پښتو مضامین خپاره شول . نو دغه مهال دپښتو داخباري نثر دارتقا اوودې له پاره ښه شرایط برابر شول، او لیکوالو پښتو نثر لیکلو ته شروع وکړه . مګر متاء سفانه چې دغه نثرونه هم په سراج الاخبار کې دخپروشوو نثرونو په پرتله ډیر کمزوري اوکړ کیچن دي . دمثال لپاره لاندینی نثر ولولی:

((۱۰۰۰ و لوی رکن دتینګوالي دبنا داقتصاد دملتو صنایع ددوی دي . هیڅ ملت په صحنه دتنازع دژوندون برې نه مومي اودخپلو سیاالانو سره نه سمیزې خو وطني صنایع پلن نه کي او دوښکور اودخپل ملت احتیاجات چې داخل کې دوطن مهیا نه کي اودخپل مصنوعاتو تجارت په دنیاکې خپورنه کې)) (۳۸) .

---

(۳٦) دقانوني نثر اصطلاح دلوی استادپوهاند عبدالحی حبیبي په هغه لیکنه کارول شوې ده، چې د ((په وروستیو دوو پیړیو کې دپښتو چاپي اثارو بین المللی سیمینار)) له پاره لیکلې وه . (وګوری، پښتو چاپي آثار ۲۰ مخ)

(۳۷) وګوری، دپښتو مرکې اعلان . د ۱۳۰۷ ش کال دمیزان ۷ نیټه .

(۳۸) وګوري، طلوع افغان لسم کال ۱۳۱۱ ش ۱۸ ګڼه

او يا د پښتو مجلې دغه نثر : ((د اخو يوه ښکاره خبره ده ، چې هلك ترڅو پورې چې نه مندونکی د اساس تربيت وي ، يوازې د تعليم په واسطه د حقيقي فضايلو يعنې ښايسته اخلاقو قدرت هيڅ کله نه سي مندلای او د داسې بې تربيت هلك د لاسه هرومرو د ايراد ورپي)) (٣٩)

وګورئ ! د نثر لوړې دوې نمونې يوه د افغان ترنشر پنځلس کاله وروسته او بله کابو ١٩ کاله وروسته کښل شوې ، خو کومه رواني او سادګي چې د افغان په نثر کې ده . په دغو لوړ و نمونو او يا له ١٣٠٠ــ١٣١٥ کلونو په کښل شوو نثرونو کې نه ليدل کيږي . زه د افغان د دغې ساده ليکنې او په نثر کې د رواني د مراعت علتونه داسې څيرم ، چې :

ده د خپل عمر يوه برخه په لره پښتو نخوا او د قديم هندوستان په سيمو کې تېره کړېوه ، او هلته د ده د استوګنې په مهال کې د پښتو د هنري نثر کښلو دوره پيل شوې وه . مولوي احمد د تنګي ګنج پښتو کښلې وه ، او تاريخ سلطان محمودي ژباړلې وه . دغه رنګه نورو پښتنو ليکوالو هم د پښتو نثر ليکنې خواته هڅه کړېوه . نو افغان د پښتو آثارو د يوه مينه وال په توګه دغه آثار هرومرو لوستي او د هغوی سا د ده ليکنو د ده په کښنو هم اغيزې ښندلي دي . او د ده نثر ته يې هم خوږ لت ورکړی دی .

مګر موږ هغو ليکوالو چې په بره پښتونخواکې تر ١٣٠٠ هـ ش وروسته نثر ليکلو ته شروع وکړه . تر ١٣١٥ هـ ش پورې يې داسې نثرونه وکښل چې زياتره د تکي په تکي ژباړنې رنګ لري ، او ادات يې د پرېښي ځايه استعمال شوي دي . په ګرامري لحاظ هم کمزوري لري . د خلکو له محاورې او خبرو خو ګرد سره ليرې دي . البته د دې دورې په ټولو نثرونو دغه پوره حکم کول به يو عندي قضاوت وي په دې دوره کې هم ښايي زموږ ځينو ليکوالو ښه نثرونه کښلي وي ، خصوصاً د پښتو مرکې د سوچشا په هڅې او د ځينو ليکوالو بو ښې پښتو ليکنې د پښتو ادب له پاره د قدر وړ دي . خو په زياترو منشورو آثارو کې يې ښې خوندي او کمزوري ليدل کيږي .

(٣) پښتو اعلان :

د افغان په لاس ته راغلو منشورو آثارو کې يو پښتو اعلان هم شته . که د ژورنالېزم د اساساتو او ښايي په هغه کې د اعلان کښنې او يا اعلاناتو د فن له نظره دغه اعلان وڅيړو . نو هغه اهداف چې يو اعلان يې لري ، په دغه اعلان کې هم ليدل کيږي . د اعلان عمومي

---

(٣٩) وګورئ ! پښتو مجله (د ادبي انجمن خپرونه) ٤ کال ٩ ګڼه ٢٠ مخ .

www.libtool.com.cn

او آرهدف تشویق او ترغیب دي (۴۰) په دغه اعلان کی هم دغه هدف پټ دي ، او خلک یې دي ته تشویق کړي ، چې په پښتو لیک وکړي ، او د دغه اعلان عمده ارزښت په دي کی دي ، چې په خلکو کی د انتقاد روحیه ژوندۍ کوي . او پښتانه لیکوال او شاعران دي ته رابولی ، چې د سراج الاخبار په پښتو لیکو انتقاد وکړي . خکه که په یوه علمی ټولنه کی سالم انتقاد موجود نه وي ، ادبیات او نورعلمی آثارین وده نشی کولای . اما انتقاد باید بې پر بیطرفانه اوله هر ډول حب وبغض نه خالی وي (۴۱) .

www.libtool.com.cn

دافغان د دغه اعلان نتیجه :

کله چې د ه په سراج الاخبار کی دغه اعلان خپور کړ . نو مولوي عبدالسلام کاموي (۴۲) سملاسی د دغه اعلان په ارتباط سراج الاخبار ته یو نظم واستاوه ، چې خو بیتونه یې دا دي :

اول حمد د هغه پاك پروردگار دي — چې معز د ممکناتو په مقدا ر دي
مولانا غلام محی الدین صاحب سخوکی — د تمام افغانستان د سترګو تور دی
په د رویشتمه شماره کی د اخبــار — یو اعلان یې به پښتو کښلی تیــار
هر افغان یې په مضمون باندې پرسېز ي — په لوستویې یو ترله هوسیـــزي
ایرا د نشته په پښتو کی ای صاحبــه — فضل شوی په افغان د ی له واهبه
افغانان بهادران د زمانـــی دي — نور اقوام ورته په شان د زمانی دي
که اخبار شی مزین په افغانـــــی — نورانی به شی افغان په معانـــی
ای خاونده ذوالجلاله باري خدایه — ترقی پښتوله ورکړه بې نهایه (۴۳)

د اعلاناتو د فن له مخی یو اعلان هغه وخت موثر وي ، چې خلك تشویق کړي شــی د افغان دغه پښتو اعلان هم دغه هدف پر ښه ترسره کړی د ی ، او موږ یې د پښتـــو اعلاناتو د پیلا مـــی په موثرو اعلانونو کی شمیر لای شو .

---

(۴۰) اعلانات ، د ژورنالیزم د څانګی درسی مواد .

(۴۱) ادبی څیړنی ، د څیړندوي محمد صدیق روهی تاَ لیف ، کره کتنه او د هغـــــی تاریخی پس منظر .

(۴۲) فرهنگ زبان وادبیات پښتو ج ۱ ص ۳۱۰ .

(۴۳) سراج الا خبار ۷ کال (۱۲۹۶) دریمه گنه .

د مرحوم مولوي غلام محی الدین افغان په لاس ته راغلواو موجودو آثارو کی ځینـــی
د اسی مواد هم تـــر موږه رارسیدلی ، چی هغه په ، فولکلورکی مطالعه کیږي . دغه
ډول مواد د هرقوم اوملت په تیره د پښتني فولکلوریومهم توك دي . دافغان له خـــوا
دغه راټول شوي مواد ، چی سراج الاخباریه پاڼـــو کی خوندي دي ((د پښتو مشهـــور
متلونه)) ترسرلیك لاندې راغلی ، چی د ټولو شمیره یو سلوشلوته رسیږي . کومـــه
تبصره او یادونه نه لري .

www.libtool.com.cn

متلونه زموږ د فولکلوریه ډیرو ارزښتمنو ځانګوکـــــــی حسابیږي ، چی پـــوره
اوهراړخیزه ټولونه اوعلمی څیړنه یی زموږ د کلتور ډیر ارزښتمن او دپام وړ توکونـــه
راسپړي ، او زموږ د خلکو داجتماعی ژوندانه ډیري لرغونی او په زړه پوري خواوي رابرسیره
کوي ، اوپه پښتو متلونو کی ځینی داسی متلونه هم موندل کیږي ، چی د ډیرښی اوسنـــی
له پلوه ډیر لرغونی دي اوشتنـــــه یی حتی د ژبپوهانو له پاره هم د څیړنی اوګرویږنی
نوي وروته پرانیځی (۴۴)

متلونه که څه هم لنډي او ویناوې دي . خویه دغو لنډو ویناووکی حکمتونه ، اودګټی وړ خبرې
راغلی وي په متلونو کی د قومونو او ملتونو د روحیاتو ډیرې ښې اوښیادونی وړ نکتـــــــی
پـــــرتې دي ، او ځینی پوهان لا داهم وایی ، چی ترشعر لا متلونه دملتونو پرعقلیت
ښه دلالت کوي ، او داځکه چی شعرونه د داسی خلکو له کومو راوځی چی فکر ، ذهـــــن
اوعقلیـــــت یی ترعامو خلکو لوړ وي ، اما متلونه دعامووګړو د ذهن اوفکرمولود دي ، او ــ
د دوی له روحیاتو حکایت کوي . متلونه دخلکو ژغ ګڼـــل کیږي . په بیلابیلو وختونـــو
او ځایو او احوالو کی د دوی د تجربو او ازمیښتونو په نتیجه کی منځ ته راغلی دي (۴۵)
د هرې ټولنی متلونه دوګړو د پوهنی او ټولنپوهنی د پوهانو د شننی لمخی په عمومـــی
توګه نسبی اومطلق ارزښتونه راڅرګندوي . څیړندوي روهی په دې باب کښلی دي :
((د کلتوري بشر پیژندنی (پوهنی) له څیړنو څخه څرګنده شوې ده ، چی د هـــــرې
ټولنی متلونه ځینی مطلق او ځینی نسبی ارزښتو منعکسوي . مطلق ارزښتونه ټلـــــی
اوځانشموله دي ، چی د بشري تاریخ په اوږدو کی دګډو تجربوله لارې زموږ تروختـــه

---

(۴۴) عطایی ، محمدابراهیم ، د پښتو فولکلوریك ادب اکاډیمیکه څیړنه ، کابل مجلـــه
د ۱۳۶۰ ش کال ٦ ـ ۷ ګڼــه ۵ مخ .

(۴۵) پوهاند عبدالحی حبیبی ، پښتو ادب داجتماعی څیړنوله پاره ، وږمه ، د ۱۳۴۴
کال ۱ ګڼــه ۱۴ مخ .

رارسيدلي دي ۰او يوازې دالفاظو او عبارتونو په توپير تقريباً هماغه مفهوم افاده کوي ۰ دغه پوهول ګڼو بشري ارزښتونه دزمان او مکان تابع نه وي ، بلکه په هره ټولنه کـــــې هروخت او هرځاي دمنلووړ وي ۰۰۰)) (۴٦) نوپه همدې اساس څېړندوي دوست هم ګڼلی دي چې :متلونه دمضمون له مخې برېدنه مني ، او په يوه مضمون او مفهــــــوم په بېلابېلو ملتونو کې پيرمتلونه پيداکيدلاي شي ، چې يو تربله ترجمه او اخستنه ښکاري ۰ که څه هم ښايې دځېنو ژبو اصلي مال وي)) (۴۷)

داخبره سمه ده چې دځينو متلونو ارزښتونه هم جهانشموله دي ، او يا هـــــم دنړۍ دبېلابېلو ملتونو دځينو متلونو ترمنځ موضوعي نږديوالی او يو شانوالی موجودوي چې داهم دخلکو او ملتونو يوله بله سره دارتباطاتو او مختلفو اړيکو دټينګيدوله مخــــې رامنځ ته شوي دي ۰ مګردې ترڅنګه هر قوم او ملت ځانته خپل ځينې خاص متلونــــه او اصطلاحات اوګړنۍ لري ، چې په نورو هغو پورې اړه نه لري ، او په خاصه توګـــــه هماغه ملت يا قوم پورې اړه پيداکوي ، او دهماغه ملت دژبې مال وي ۰

زموږ په ګړنۍ ادب اوژبه کې موجودمتلونه هم دغه ځانګړنه لري ، چې ځينې يې دنورو ملتونو او قومونوله متلونو سره دتشابه ځينې خاص وجوه لري ۰ مګر ځينې نوريې داســـــې متلونه دي ، چې خاص دپښتنی ماحول او معاشرې زيږنده دي ، او داستادخـــــادم مرحوم (۱۳۵۸ شمړ) په قول ددغو متلونو په مرسته دپښتو دحياتي فلسفې څــــــرك هم ايستل کيداى شي (۴۸)

زموږ ليکوال غلام محي الدين افغان چې له خلکو سره محشورسړی و ۰ نو دخلکــــو دحکمت او عقـلـيت دغه عاميانه خو له معنا او مفاهيمو ډکو ويناوو ټولولو ته يــــــې هم ليچې رانغښتي وې ، اودابه يې هدفو ، چې دپښتنو ، روحياتي خصايص دخپلــو خلکو ددغو عامو حکيمانه خبرو له لارې نورته وروښيي ۰ دی په افغانستان کې لومړنـــی

---

(۲٦) څېړندوي روهي ، په پښتو متلونو کې مطلق او نسبي ارزښتونه ، فرهنګ مردم د دريم کال ۴ ګڼه ۱۳٦۰ شکال ۵۱ مخ ۰

(۲۷) څېړندوي دوست ، دپښتو داولسي ادب لارې ۵۴ مخ ، پښتوټولنــــه ـ کابل ۱۳۵٦ شکال ۰

(۴۸) پښتو چاپي آثار ۲۲٦ مخ ، د ۱۳۵۷ شکال چاپ ، کابل ـ دپښتو دپرمختيـا او پياوړ تيا امريت ۰

www.libtool.com.cn

سرې دي، چې د متلونو ټولولو ته يې هڅه کړې ده . خو داچې د ((روهي متلونه)) نومې کتاب محترم ترتيبوونکي د دغه کتاب په مقدمه (۵۹) کې د افغانستان د پښتو متلونو د ټولونې لړۍ د مرحوم نوري (۱۳۵۲ ش مړ) له هڅو سره سم پيل کړې ګڼلې دا يوه تيروتنه ده . . که په افغانستان کې د متلونو د ټولولو او خپرولو په لړۍ کې لومړنی ګام مرحوم غلام محی الدین افغان وچت کړی، او بيا تر ده وروسته مرحوم محمد عثمان خان ښښتون (۱۲۶۵ــ۱۳۴۵ هـ ق) په دې لاره کې ښه برخه کړې دي (۵۰) په منظم ډول هم په افغانستان کې د پښتو متلونو لومړنی چاپي مجموعه د مرحوم نوري مجموعه نه بلکه د ((پښتو متلونه)) نومې مجموعه ده، چې د مرحوم محمد قدير تره کي (۱۴۰۰ هـ ق مړ) او ښاغلی زمريالی په ګډه هڅه ترتيب شوې او د پښتو ۱۲۲۱ متلونه پکې راټول شوي دي، او تشريحات هم لري دغه مجموعه ۱۲۷ مخه په ۱۳۱۸ هـ ش کال د پښتو ټولنې له خوا خپره شوې ده (۵۱)

سربيره پر دې نومو ړي پروفيسور نواز طاير چې د روهي متلونه په مقدمه کې د متل ټولونې په تاريخي سيرکومې خرڅ کړي، په هڅو کې يې د اروانښاد مولانا عبدالرحيم او قاضي رحيم الله مرحوم د هڅو يادونه هم د شلمې پيړۍ پيل کړې ده، مګر دا يې نه دي ښوولي، چې د دوی دغه ډول هڅې چيرې خپرې شوي دي ؟

موږ چې د متل ټولونې په تاريخي سپړنه خبرې کوو، د هغو خو محدودو نمونو پرته چې د پښتو ګرامر او قواعدو په کتابو کې مستشرقينو راوړي . په دې برخه کې لومړنی ګام S.S THOR Burn وچت کړی دی، او يو مخپل کتاب BAnnu or our Afghan Frientear کې يې د ۱۲۷۷ په شاوخوا کې پښتو متلونه د موضوعي ويش په اساس راوړي دي . (۵۲) دغه راز د ميرا حمد شاه رضواني په علمي هڅو کې هم د متل خوندي کوني يادونه کيږي .

---

(۴۹) روهي متلونه ۹ مخ، د پروفيسور محمد نواز خان طاير ترتيب او تدوين ۱۹۷۵، پيښور ـ پښتو اکيډيمي .

(۵۰) پښتو مجله ۲ کال ۸ ګڼه ۶ــ۷ مخونه (۲۸ متله) ۹ ګڼه ۱۵ــ۱۶ مخونه (۳۸ متله) ۱۰ ګڼه ۲۲ــ۲۳ مخونه (۲۵ متله) ۱۱ ګڼه ۹ مخ (۱۵ متله) .

(۵۱) پښتو کتابونه، د رازمحمد وينر ليکنه، ص ۴، د ۱۳۳۷ ش کال چاپ ـ پښتو ټولنه .

(۵۲) بنو يا زموږ افغاني سرحد ۲۳۱ ــ ۳۵۰ مخونه . د ۱۸۷۶ ع کال لندن چاپ .

www.libtool.com.cn

د دغه ډول هڅو په لړ ې کې بله پخوانۍ هڅه د نل .سي . ای . بایل د ه . نومــــوړ ي

پهٔخپل کتاب ((پښتو نکلونه)) کې د پښتو ډ یر متلونه له انګریزي ترجمې سره یو ځــــای

خوندي کړ ي دي ، او کتاب یې د دوهم ځل په ۱۹۳۸ ع کال په پېښوړ کې دفقیرچنــــد

مهرلعٔخوا چاپ شوي دي .

www.libtool.com.cn

د متلونو په پخوانیو مجموعو کې بله مجموعه روضة الامثال ده چې د مولوي سید احمد

له خوا ټوله شوې ده ، او ۶۷۹ متله پکې راټول شوي ، او غلام جیلاني پېښوري د ۱۸۷۵ ع

کال د فروري په ۱۷ نیټه کښلې دي . د پادري هیوز یادښت هم پرې کښېلی شوی دی .

دغه نسخه په برټش موزیم کې په ۲۸۳۲ نومره قید ده (۵۳) تر دوی وروسته د ډارمستتــــر

فرانسوي (۱۸۴۹_۱۸۹۴ ع) هڅه په دې برخه کې مشکوره ده ، چې ده په خپــــل

مشهور کتاب د پښتونخوا د شعرهار و بهار کې د نورو فولکلوري موادو ترڅنګه ۶۰ متلونه هــم

راټول او چاپ کړي دي (۵۴)

غلام محی الدین افغان هم په همدغه ډله کې دریږ ي ، چې د شلمې پېړ ۍ په پیــل

کې یې د پښتو متلونو د ټولولو خواته هڅه کړې ده . د شلمې پېړ ۍ په راوروسته کلونو کــې

په متلونو لړه اوبره پښتونخواکې او همداراز مستشرقینو ډېر کار کړ ی دی (۵۵) چې د ټولــو

تفصیل زماله خبرې نې سره اړه نه لري . سربېره پر دې په متلونو هراړ خیزې خبرې نې هــم

شوې دي . د منظومو متلونو (۵۶) او د متلونو د تصویه باب هم کار شوی دی .

د غلام محی الدین افغان هڅه خو موږ پخوانیو متل ټولوونکو په ډله کې د ستاینــې

وړ وبالله . مګر د دې متنې ترڅنګه باید د اهم وواېو : ده چې کوم مواد د متلونو نامـــه

په سراج الاخبار کې خوندي کړ ي ټول یې متلونه ، نه بلکه ځینې اصطلاحات او محــاوري

(ګرنې) دي ، چې د ځینو بولګې یې د مرحوم استاد نوري په ((پښتو اصطلاحات ا و ــ

محاورې)) نومی کتاب کې هم پیداکیږ ي .

دغه ډول ګډوډ ي د پښتو متلونو ، او اصطلاحاتو په یرو مجموعو کې لیدل کیــــږ ي .

د مثال په توګه : میجر . جورج . ګلبرتسن ((د پښتو اډ یمونو)) په دوه ټوکیز فرهنګ (۵۷)

---

(۵۳) د میکنزي فهرست ، ۱۳۰ مخ ، د ۱۹۶۵ ع کال د لندن چاپ .

(۵۴) د پښتونخوا د شعرهار و بهار ۲۲۹_۲۲۳ مخونه . د ۱۳۵۶ ش کال چاپ ، کابل ، پښتوټولنه

(۵۵) ګرنی ادب لومړ ی ټوک د عبد الکریم پتنګ تاٴلیف . د ۱۳۵۷ ش کال چاپ ۴۶_۵۰ مخونه .

(۵۶) د خلکوسندرې ، د ښاغلی رفیع تاٴلیف ۱۲۷_۱۳۲ مخونه ۱۳۴۹ ، د تاریخ او ادب ټولنه

(۵۷) د ګلبرتسن د اصطلاحاتو دغه فرهنګ په دوو ټوکونوکې ۹۵۲ مخونه ۱۹۳۲ ع کال په ، هرتفر د

کې چاپ شوی دی . لومړ ی ټوک یې ۴۶۹ مخه دی ، او دوهم ټوک یې په ۴۹۷ مخ کــې

پیل کیږ ي او په ۹۵۲ مخ کې پای ته رسي بشپړ انګریزي نوم یې په دې ډول دی :

A Dictionary THE PAKKHTO Idiom.

کی ږ پرڅایه متلونه د اصطلاحاتو په ځای راوړ ي دي ، لکه د لومړ ي توك په ۴۵ مــخ کی د امتل ((مارکه هرخوکوز ځي چي غــارته ورشي سم به شي)) (۵۸)

یالکه : ((چي وي غواړ ي خوله نو خوږیږه یي په څه)) په دي کتاب کی د اصطلا ح په توګه د اسي راغلی دی : ((وي غواړ ي په دي خولی خوري به یي په کومي)) اویــا هم د امتل : موږ ك د سوړ ي د نښوتونه ويه کونی پوري چـچ وتاړ ه))

www.libtool.com.cn

د اصطلاحاتو په بنسه ضبط دي ، او د اسي نورهم پسی د رواخله · متل او اصطلاح د وه سره بیل شیان دي · باید سره ګډ نه شي · که څه هم تربرن په دي باب کښلی دی : ((د متل له پاره خاص تعریف ورکول مشکل کارد ی ، ځکه چي متلونو ، مقولـــو ، شعارونو او نورو اخلاقيي او اجتماعی کیسو ترمنځ کله کله زیات مشابهت د معنی اومفهوم په لحاظ موجودوي · متلونه د اسي جملی دي چي د خلکو په منځ کی خاص استعمال لري ، او د یوه مفهوم د تائید او تثبیت په خاطر په خاص ډول استعمالیز ي اوزمایـــه نظر د اتر ټولو لنډ تعریف دی ، ترهغه وخته پوري چي د ټولنی یو ټولنیزاو مشترك مضمــون د ټولو لهخوا د عقل اوپوهی له مخی سره نزیبنلی شوي او نښتیزلی شوي نه وي اولـــه هغه ځخه یوه د اسی لنډه جمله رازنږیدلی نه وي چي د ټولولهخوا قبوله شي اویه سیمه کی یی ریښی د کلوکلو په تیریدو سره پخی شوي نه وي · ترهغه وخته پوري یی متل نښـــو بللای · د د ې له پاره چي متل د خلکو له خوا قبول شي بایــد په ساده او عامیانه ژبه کی وي · د خلکو په غوږ وښه ولګیز ي · په مغزو کی سملاسي ځای ونیسي ، اوږ ونه یي قبول کــړ ي · د د ې مقصد له پاره په یوه متل کی د ري ضروري شیان دا دي : لنډوالی ، مقصد اومفهــوم ، خوږ والی)) (۵۹)

دغه لوړ ه لیکنه تریوه ځایه هغوکسانو ته چي متلونه او ګړ نی یي سره یوځای د متلونـــو په نامه راوړ ي دي براءت ورکوي · خو موږ چي اوس د خپل فولکلوربیلابیـ ل ژانرونه پــــه اکاډ یمیکه توګه څیړ و · نو باید هڅه وکړ و چي د خپل فولکلوردغه دواړ ه توکه سره بیل کـــړ و · او هریو ترخپل سرلیك لاندي وڅیړ و · ځکه دغه څانګــی دواړ ه سره بیلی دي ، د متــل په باب خو مو د تربرن تعریفــونه ولوستل ، نو اوس بنایي چي د اصطلاحاتو او محاورو ځانګړ نو په باب ، د لوی استاد پوهاند حبیبی څرګندونی هم ولولو دوی کښلی دي : ((اصطلاحــا ت

---

(۵۸) د متلونه نومی کتاب په ۱۲۴ مخ کی د امتل د اسی راغلی دي ((مارچي غاړله ورسـ ـ نوسمیږ ي))

(۵۹) بنویازموز افغانی سرحد ، د ډ ګرمن شیرمحمدکریمی پښتو ژباړ ه ، نا چــــاپ اثــــر ·

ومحاورات تعابیر یست که هرملت موافق به محیط، حیات وعنعنه واخلاق وروحیات خود درزبان خویش می افریننند وبرای اظهار مقاصد خود استفاده میکنند که بذکر محاوره فکر شنونده فوراً بسوي مقصد اصلي منتقل میشود . وبدون اینکه گوینده، مقصد خودرا به عبارت صریح بگوید . اصطلاح ومحاوره مخصوص زبان مافی الضمیر وی را ترجمانی میکند .

www.libtool.com.cn

این گونه مصطلحات ومحاورات جز وقوي ادب وگفتگوي روزمره هرزبان بوده وحاکی از لطافت ومزایای معنوي انست)) (٦٠)

امااصطلاح خاص تعریف په دې ډول شوی دی :

((اصطلاح په حقیقت کې دعربي لفظ دی، چې په اصل اوریښه کې یې لفظ صلح پروت دی . معنی یې دي ښه کیدل، موافق کیدل، موزون او مناسب کیدل، درجه په درجه سمیدل، انتخاب کول او خوښول، دڅه خبري نتیجه وتل، دیوې خبرې په وجه دبلي خبرې څرګندېدل . خو خاص معنی یې دي محاوره یاهغه خبره یاکلمه چې دژبې خاوندانو دخاصو معنو دپاره مقرري کړې وي)) (٦١)

دا وو داصطلاحاتو او متلونو لنډ تعریفونه اودهغوی په باب توضیحات چې دمخه وړاندې شول . داصطلاح اومتل دبیلتون په برخه کې دپښتو ادب دیوه بل خیږ ونکی خبرې او یادونې هم دهیرولونه دي، دهٔ کښلي دي :((اصطلاح یومحلي رنګ لري، دمتل اولنډۍ غوندې شهرت نه لري . مګرکله چې مشهورشي نوبیا دمتل شکل غوره کوي . په اصطلاح باندې دټولو اتفاق نه وي راغلی، بلکه دیوې ډلې اتفاق پرې راغلی وي)) (٦٢)

پوهاند دوکتورمجاور احمدزیارهم پخپل ((ويي پوهنه)) نومې اثرکی دګړنو، بولنو او متلونو ترمنځ دتوپیرونو په باب څه خبرې کړې دي . (٦٣) چې په عام ډول تېرې سرې ددغو درې واړو توکونو دبیلتون څرک ایستلای شي . په دې توګه باید دغه بحث پای ته ورسوو چې مقولې (بولنې) ګړنې (محاوري او اصطلاحات) اومتلونه یوله بله سره تو پیرونه لري، او زموږ ځوان فولکلور تولوونکی یې باید دخوندي کولو په وخت کې دبیلتون آرښتیونه په پام کې ولري .

---

(٦٠) پښتو اصطلاحات اومحاوري، دلوي استاد پوهاند حبيبي سريزه (الف ـ ب مخونه) د ١٣٢٠ شر کال . چاپ کابل ـ پښتوټولنه .

(٦١) پښتومجله د ١٩٥٨ع کال ١ ګڼه (دوهم کال) ٠٨ امخ، پښتواکاډیمي پېښور .

(٦٢) وګورئ، اکابل مجله ١٣٢٢ کال ١٠ اګڼه ٩مخ . دښاغلي پښتون زوی مقاله .

(٦٣) وګورئ، ويي پوهنه ٥٢ ـ ٥٣ مخونه د ١٣٦٠ شرکال چاپ، دژبواو ادبیاتوپوهنځی .

دمرحوم افغان دآثارو په باب چې ماته ترکومه ځایه معلومات وو، هغه مې دلې راوړل . ښایي ځینې نور آثاريې زموږ نورو ښاغلو محققینو ته معلوم وي، چې دده شپیتم تلین نمانځنې په ویاړ دعلمي پلټنو په ترڅ کې څرګند شي . خوشحې دده دآثارو په برخه کې زه تردې زیات دیادونې وړ بولم، هغه دمرحوم علامه محمود طرزي دغه لاندې لیکنه ده :

www.libtool.com.cn

((یك عالم باعلم افغانی نژاد افغانی زبان وطنی ما جناب مولوي غلام محی الدین افغان سرکرده، مدرسه، دارالمعلمین که بزبانهاي شرقی مانند: افغانی، پارسی عربی وزیاده، برآن بزبانهای متنوعه، هندوستان مانند اردو، گورمکهی، شاستری، سانسکریت وغیره بدرجه یی که ترجمه بتواند اګاهی دارد . ((معرکه، مذهب وساینس)) که جناب غفران مآب شیخ شبلی نعمانی انرا ترجمه، بزبان اردو نموده این مرد فاضل افغانی ماهزبان فارسی آنرا ترجمه میکند)) (٦٢)

په ((تاریخ ادب اردو)) کې یې دعلامه شبلی نعمانی (١٨٥٧ـ١٩١٤ع) تاليفات په دې ډول ښوولي دي :

((سیرة النبی (دوه ټوکه) شعرالعجم پنځه برخې، الفاروق، المامون سیرة النعمان، الغزالی، الکلام، علم الکلام، سوانح مولانای روم، موازنه، انیس ودبیر . سفرنامه، روم ومصروشام، اورنګزیب عالمګیر، الجزیه، مسلمانوں کی ګذشته تعلیم، تاریخ اسلام وفلسفه، اسلام، حیات خسرو، تنقید جرجی زیدان، مقالات شبلی، رسایل شبلی (نظم) دیوان شبلی، دسته، ګل، صبح امید دارد و نظمونو مجموعه)) (٦٥)

په دغو تاليفاتو کې خو په دغه نامه کوم کتاب نشته، ښایي له دغو کتابو څخه یې یو کتاب مرحوم افغان په دې نامه ((معرکه، مذهب وساینس)) ترجمه کړی وي . اویا یې ښایي دغه بل اثروي، چې د تاریخ ادب اردو مولف ته به نه وي معلوم .

افغان دپښتو په تذکرو او ادبې تاریخونو کې :

غلام محی الدین خان افغان په سراج الاخبار کې دخپلو همدغو خپروشوو آثارو په بنا په پښتو تذکرو کې معرفي شو، اولومړي ځل یې په ((تاریخچهٔ شعر پښتو)) کې لنډه پیژندنه داسې وشوه : غلام محی الدین خان افغان از ادبای فکور وفضلای دانش دوست افغان است که درعصر حبیب الله خان درکابل سمت مدیریت دارالمعلمین راداشت ودرمکاتب هند تحصیل نموده، وبه اغلب السنه، هندي

---

(٦٢) مقالات محمود طرزي ٦٢٥ مخ .
(٦٥) تاریخ ادب اردو، درام بابوسکسینه، دنشر برخه ٩٣ مخ، دلاهور چاپ .

واقفیتی داشت. جنابشریك افغان غیور وروشن فکری بوده که جمع از همراهان وشاگردان خودرا درکابل به فکر وطنخواهی تربیه داده است. غلام محی الدین خان مرحوم عشق به زبان ملی داشت وشعرش درآن زبان میسرود . وافغان تخلص مینمود . که بعض از اشعاروی در دوره های سراج الاخبار انتشار یافته است)) (٦٦)
www.libtool.com.cn

په دې لنډه لیکنه لومړی ځل دافغان نوم دپښتو ادبی څیړنو ته لاره پیداکړې ده .تردې لیکنی لسکاله وروسته پوهاند رښتین دده سوانح نسبتاً بشپړې وکښلی . اودمړګ نیټه یی هم ورولیکله، دنثر او نظم نمونی یی هم ورکړې(٦٧) .

دنوموړي پوهاند رښتین دلیکنوله مخی دافغان لنډکیوسوانحوآریانا دایرةالمعارف (٦٨) ته هم لاره پیداکړه، اوپه افغانستان نومی کتاب کی یی هم ځای ونیو(٦٩) .

او استادجلالی مرحوم (١٤٠٠ هـ ق مړ) په دغو دوو کتابو کی دپښتو دادب تاریخ دلیکنو لنډ یزراوړی دی، او هغه څه چی په دې کتاب کی دافغان په باب راغلی ده لنډ کړي دي، اوپه لنډه توګه یی په دایرة المعارف کی اخیستی دي .

د دایرة المعارف ترکښنو دري کاله وروسته استاد عبدالروٴف بینواپه اوسنی لیکوال (٧٠) کی دافغان بشپړ سوانح راوړی، او ددغه کتاب ترخپریدو دوه کاله وروسته چی پښتانه شعراء دریم ټوك چاپ شو، په دې کتاب کی دافغان په ژوند هرار خیزه څیړنه شوې، اودژوند بیلابیلی خواوې یی تریوه حده روښانه کړي دي . او دده دژوند په باب یې شتو تذکرو اوادبی تاریخونو کی تردغه کتاب بل معتبرماٴ خذ تراوسه مانه دی لیدلی (٧١)

---

(٦٦) تاریخچهٔ شعر پښتو، دلوی استاد پوهاند حبیبی ،طلوعافغان، ١٣١٥ شرکال ٣٥ ګڼه، جوزا .

(٦٧) دپښتو دادب تاریخ لومړی چاپ ١٣٢_١٣٣مخونه(١٣٢٥ش کال) دوهم چاپ ١٢١_١٢٢ مخونه ١٣٣٢ ش کال .

(٦٨) اریانادایرة المعارف ج٣ ص ٥٩٨، د ١٣٣٧ش کال چاپ، کابل ، دآریانا دایرة المعارف ټولنه .

(٦٩) افغانستان ص ٢٥٢، د ١٣٣٧ ش کال چاپ_کابل دآریانادایرة المعارف ټولنه

(٧٠) اوسنی لیکوال ج ١ص ٦٨_٧٢، د ١٣٤٠ شکال چاپ_کابل .

(٧١)پښتانه شعراء ج ٣ ص٧٧٤_٧٧٧_ ١٣٤٢ شکال چاپ کابل _پښتو ټولنه .

ترده ورسته چې دادبیاتو په برخه کې د پښتو دمعاصرادب کوم کتابونه چاپ دي ، په زیاتروکې دافغان په باب مواد او خبرې شته ، چې د هغوتفصیل به زه دده سرېزې په وروستیو برخوکې ورکړم ، نبايي دمعارف په ځينو درسي کتابوکې هم دده په باب څه وموندل شي ، چې سملاسي زماپه واك نه دي ، اووخت لږ والی دا اجازه نه راکوي ، چې په دغه ډول کتابوکې يې د نامه او آثارو پلټنه وکړم .

www.libtool.com.cn

((۳))

افکار ، اخلاق اوعادات

دغلام محی الدین افغان پرافکارو ترڅبرو کولو دمخه باید د ده دعصر تاریخي وقایعو او سیاسي جریاناتو ته یو ځغلند نظر واچول شي .

زموږ دغه شاعر اولیکوال دامیرشیرعلي خان دلومړي پلا پاچهۍ په دوهم کال وزوکید ، او داهغه مهال و، چې زموږ پرمقدس هیواد انګریزي استعماري لومړي ناتار (۱۸۳۹ع) تیرشوی و ، او انګریزانو دنومیالیو افغاني غازیانوله لاسه سخت ماتې لیدلې وه ، او زموږ وطن یې پرېښی و . خو خبیثه ارواګانې یې دلاسپوڅو اوګوډاګیو امیرانو په ارواووکې ګډې وې ، اوبه غیرمستقیم ډول یې دغه هیواد دخپلو ګټو په سیمو کې شامل ګاڼه .

دامیرشیرعلي خان لومړی پلا پاچهي له کورنیو اختلافونو اوستونزوسره مله وه ، او بلې خوا د شرق په زیاترو سیمو کې د یورپي استعمارناخوالو په شدت دوام درلود .

خوکله چې امیرشیرعلي خان په (۱۲۸۵ هـ ق ۱۸٦۸ع) دوهم ځل د ټول افغانستان دامیرۍ توګه وپیژندل شو نوبې داځل ځینو اصلاحي کارونو ، دوطن ابادۍ ، اودپوځ دتقویې او نورو دغه ډول چاروته هڅه وکړه ، سمش النهاریه کابل کې په خپرونو پیل وکړ، او هیوادته دمطبعې په راتګ سره ځینې کتابونه هم په پښتو اوپارسي ژبو چاپ او خپاره شول ، امیرله ځينو ګاونډیو هیوادوسره د سرحدي شخړو د هوارولولپاره اقدامات وکړل ، اودتزاري روسيې سفیرېې په کابل کې ومانه کابل ته د دغه سفیر راتګ د بریتانوي هند سیاسي حلقې ډیرې تشویش کې کړې . تردې چې دافغانستان پرپاکه خاوره یې د دوهم ځل تجاوز هڅه وکړه ،(۷۲) انګلیس پوځونه له خپلو بشپړ وتجهیزاتوسره (۱۸۷۸ع نومبر= ۱۲۹۵ هـ ق ذیقعده) دخیبر ، کورمې ، اوبولان له لیاروزموږ خاورې ته رادا خل شول . امیروارخطا شو . کابل یې پرېښود مزارشریف ته ولاړ ، او هورې د (۱۲۹٦ هـ ق د صفر په ۲۹) ومړ . او خلك یې مشره پاته شول . دښمن په بیړه پرهیواد تجاوزکاوه ، اوانګریزي

(۷۲) تاریخ مختصرافغانستان ج ۲ ص ۱۲۲ ، دلوی استاد پوهاند حبیبي ، د ۱۳۴۹ ش کال دکابل چاپ .

لښکرې پرمخ روانې وې د لقمځينو سردارانو د اميرشيرعلي زوی شهزاده يعقوب لــــه ۸ کاله بنده وروسته راخوشی کړ ، او د ۱۲۹۶ هـ ق په ربيع الثاني کې يې د امير په توګه ومانه .خو وحشي انګريزي لښکرو په پر شدت او ورحشت افغانستان ونيو .

www.libtool.com.cn

انګريزانو اميريعقوب د انګريزانو لښکرځې (ګندمک) ته بوته ، او هورې يې د ګندمک منحوسه معاهده ، برې امضاکړه (د ۱۲۹۶ هـ ق د جمادي الثاني ۴ = د ۱۸۷۹ ع کال د مې ۲۶) . دغه معاهده ، په عمل کې د افغاني مليونو لخوا ونه منل شوه ، (۷۳) او په هرځای اوهرګوټ کې د انګريزي پوځونو پرضد مبارزه پــــيل شوه . د دې جګــړې له تولو تشريحاتو سره زما کار نشته ، او د جګړې هغه محاذ چې زماله موضوع ســـره ارتباط لري . هغه د ميوند د جګړې محاذ دی ، چې په دغه جګړه کې افغانــــي قواوې د کندهار او هرات لخوا يوسره راټولې شوې ، او د هرات او فراه له لارې ګرشـــک ته راغلې ، او انګريزي پوځونه د جنرال بروس په قيادت د ميوند په کرکې ورسره مخامخ شوې ، ستره جګړه ونښته ، او د ۱۲۹۷ هـ ق کال د شعبان د ۱۷ ورځې ترمازيګـــره پورې جنګ وشو او په نتيجه کې يې انګريزانو ته سخته ماته ورکړه ، او د انګريزانو پاتـــې لښکر کندهار ته راغی . خو جنرال رابرټس د ميوند په جګړه کې د تس نس شوي پوځ د پاتـــې شونې د ژغورنې له پاره په ۲۲ ورځو کې ځان له کابله کندهار ته ورساوه (۹ـــ۱ـ۳۱ـ اګســـت ۱۸۸۰ ع) او د سپتامبر په اوله يې د سردار ايوب خان قواوو ته زيانونه واړول ، او خپلـه سردار هرات ته ولاړ ، او له هراته يې ايران ته پناه يوړه ، او بيا د انګليسانو په حمايت ـ يې لاهور او راولپنډۍ کې ژوند کاوه (۷۴) نيموړي سردار غازي ايوب خان په خپــــل هيواد کې زيات ليوالان درلودل ، چې د دغو هواخواهانو له ډلې څخه يو هــــــم زموږ شاعر اوليکوال غلام محی الدين افغان و ، چې په ۱۲۹۸ هـ ق کال کې يې لـــه خپلې کورنۍ سره ايران ، سرحدي سيمو او ځو ايي هند ته او په لاهور او راولپنډۍ کې له نيمــوړي ســـردار غازي ايوب خان سره محشور و ، *

---

(۷۳) په دې باب مفصل او مستند معلومات پوهاند دوکتور حسن کاکړ د يوې مقالـــې په ترڅ کې د آريانا مجلې د ۱۳۶۰ نږ کال په ۲ ګڼه کې راوړي دي (قيام صدد و دو سال قبل کابل) .

(۷۴) دغه غازي او نوميالی سردار د ۱۹۱۴ ع کال د اپريل په ۱۷ د ۱۳۳۲ هـ ق کـــال د جمادي الاول په ۱۱ نيټه وفات شو ، او مزارېې د پېښور ښار جنوب ته د سيد حبيب په مقبره کې واقع دی .

* د افغان د مهاجرت په باب مفصل توضيحات د ستر افغاني محقق استاد په ليکنه کې راځي (تاريخ مختصر افغانستان ج ۲ ص ۱۲۶)

ده په خپل هیواد، ایران او هندوستان کې دخارجي متجاوزو قوتو ناروا وړ، او
عامونه لیدلي وو، او دیوه با درك اوحساس پښتون په توګه پرټول شرق او عالم اسلا
باندې دارو پایي وحشیالو له مظالمو او تاراکونو خبر و، له خپل وطن او دخپ
وطن اوخلکو له ترقۍ سره یې اورنۍ مینه درلوده، دوطن دآزادۍ او ترقۍ مفکوره
یې په زړه کې وه، داما ن افغان دلیکنی له مخې (دمخنیو برخو کې راغلی ده)
ده په پخوانی هندوستان کې دعلم او کمال دحاصلولو ترڅنګه سیاسی سرګرمی
هم درلوده .

کله چې دامیرحبیب اللهخان (۱۳۱۹ــ۱۳۳۷ هق) دامارت په دوران کې
بیرته هوادته راستون شو(۱۳۲۴هـ ق) . دنویو اوعصري زده کړو ترڅنګه یې سیاسی
مفکوره هم له ځانه سره د رلوده . کله چې د ۱۳۲۷هق کال دصفري په ۱۶ نیټه
مولوي محمد سرور واصف مشروطه غوښتنې دنهضت دجمعیت دمشریه توګه په سیاسی
مبارزه لاس پورې کړ . نوزموږ دغه شاعراولیکوال هم ددغه نهضت ملګري شو . دغه مهال
په هیواد کې دمشروطه غوښتونکو شمیر دریوسوو تنو ته رسیده او په بیلابیلو کوچنیو
جرګوکې سره یوځای شوي وو، او هغه ملګرې به په دغوکوچنیو جرګو کې سره یوځای کیدل
چې یوله بله به یې ښه سره پیژندل . دهرې کوچنۍ جرګې غړي به په خپلو کې سره
راټول شول ، اوله دغې کوچنۍ جرګې څخه به یې یو رئیس اویو منشي وټاکه . دغو کوچنیو
جرګو یوله بله ارتباط نه درلود . خود ټولو جرګولوی رئیس مولوي محمد سرور واصف و .
اودکوچنیو جرګو رئیس به تل له نوموړي مولوي سره لیدل . نوموړی مولوي سربیره
پردې چې ددغه نهضت لوي رئیس و، دیوې کوچنۍ لس کسیزې جرګې رئیس هم و .
په هغه کوچنۍ جرګګۍ کې دغه لاندې کسان شامل وو :

(۱) میرسید قاسم دجرګې منشي (۲) مولوي غلام محی الدین افغان ، چې د همدغه
میرسید قاسم خان له ویناووڅخه دده په باب داسې کښل شوي دي : ((مولوي غلام
محی الدین خان قندهاري معلم مکتب حبیبیه که خانواده او در پشاور از جمله
فراریان جمعیت سردارمحمد ایوب خان فاتح میوند بود . وی در اسلامیه
کالج پشاور تحصیل کرده بود . مرد مجرد ، آزاد وخوش مشرب بود .
درسرای پشاوریها درشوربازارمیزیست ،رفقا همیشه دراطاق او جمع میشدند .
که شکل کلوب را بخود گرفته بود گاهی درآنجا

دیکچه پزانی وشطرنج می کردند وگاهی به مناظرهٔ علمی ادبی وسیاسی می پرداختند)) (۷۵)

www.libtool.com.cn

(۳) عبدالجلال خان کندهاري چې دنوموړي افغان دترهٔ زوی وُ ٠ اوداميرحبيب الله خان دامارت ترپايه په شيرپورکی بندي وُ ٠

(۲) پروفیسور غلام محمد میمنگی (۵) مرحوم محمداکبرخان (٦) استادمحمدانور بسمل (۷) مولوي مظفرعلی خان (۸) مرحوم حافظ عبدالقيوم (۹) لعل محمدخان (۱۰) میرزا عبدارزاق خان (۱۱) مولوي محمد سرور واصف، چې پاچاته ددغه نهضت اودنهضت دغړو دخبر اوراپور له رسيدوسره سم ونيول شوه او له دوه ورځني بندهٔ وروسته په ۱۳۲۷ هـ ق کال له خپلو ځينو نورو خپلوانوسره اعدام شو ٠ (۷٦)

ددغه نهضت په باب له نورو تشريحاتو سره زما څه کارنشته ٠ او يوازيني هدف مي داوُ چې دمولوي غلام محی الدين افغان دافکارو اوسياسی مبارزو سيريکی څرگند کړم ٠ څوڅه چې په دې برخه کی ویل غوارم دادي چې : د((افغانستان درمسير تاريخ)) په ۷۱٦ــ۷۲۰ مخونو کی چې ددغه نهضت په باب څه ويل شوي تيروتنی او تحريفات لري ٠

افغان ديوه مفکراوسياسی پوهی دخاوند شخصيت په توگه تل دسياسی اوملی مبارزو خواته ميلان درلود ٠ تردغه نهضته وروسته يی هم داستعماراوظلم پرضد په سياسی مبارزو کی برخه اخيسته : په پښتانه شعراٌ کی کښلی دي :

---

(۷۵) دميرسيدقاسم خان لغمانی (وفات سه شنبه دحوت ۲۲ــ۱۳۵۷ش کال) له ويناوو څخه دپښتونيا ربه قلم دکاروان دورځپانی د ۱۳۵۱ ش کال دچنگابر د ۱۸ نيتی په گڼه کی خپره شوې مقاله (نهضت مشروطه خواهی يک حرکت ملی وافغانی بود) ٠

(۷٦) وگوری ! دافغانستان تاريخی پيښرليك دلوي استادپوهاند حبيبي ص ۲۲۳ ـ د ۱۹۷۴ ع کال چاپ ــ کابل دمولوي محمد سرور واصف دمړينی نيټه دکدهار مشاهيرنومی کتاب په ۲۲۹ مخ کی ۱۳۲۴ هـ ق ښوول شوې ٠ چې سمه نه ده اوبيا دغــــی غلطـــــــی دفرهنگ زبان وادبيـــــات پښتــــو ج ۱ ص ۵۲۷ تــه هم سرايت کړي دي ٠

((وای چی : په لومړي لوی جنګ کی (۱۳۳۲ــ۱۳۳۶ه ق) کی چی مو تلفــه

قواوو په منحنی شرق کی د ترکانو او عربو ترمنځ د نفاق اورولګاوه او دعثمانی حکومــت

مقبوضات یې یو په بل پسې لاندې کول ۰ (افغان) د اسلام دجان نثارانو مجلــــس

ته داستعمار او انګلیس دمخالفت یو قرارداد ورانديې کړ ه چې هلته د تولو غړو ولــه

خواپه خپلو خپلو وینو لاس لیکونه پروشول ۰ د ده دې اقدام دانګلیسانو مخالفـــــت

ته مسلمانان وپارول ، اوهرهرځای دا ستعمارچیانو پرضد د ترك موالات اومخالــفت

زغونه پورته شول)) (۷۷)

افغان د امیرحبیب الله ترد یوري وروسته د اعلیحضرت غازي امان الله خان (۱۳۳۷ ــ

۱۳۲۷ ه ق) په زمانه کی کابو دري کاله ژوندی و ، دغه وخت چی د هیواد آزادي ګټــل

شوې وه ، او د ده ارمان ترسره شوې و ، نوی د یوه منور پښتون په توګه د هیواد د ترقـــي

فکرونه په سرکی ګرځول په دې باب استاد د اوي په یوه لیك کی کښلی دي : ((۰۰۰ د هري

جمعی په ورځ د ده مرحوم په کورکی موږ اجتماع کوله ، چی یو تفریحی کلوب و ، علاوه پرموسیقی

اوشطرنج پروطنی مسایلو مو هم مذاکره اومشاوره کوله ، مرحوم مولوي فتح محمدخـــــان

ارسلا او مرحوم عبد الجبارخان ارسلا هم د دې کلوپ اعضا وو ، رئیس د کلوب مولــــــوي

غلام محی الدین مرحوم و ، زه هم یو عضو وم)) ۰

د دې لوړ و مدارکو په استناد ویلی شو ، چی مرحوم افغان د یوه نوي او استعماري ضـــد

فکر خاوند سړی و ، او د وطن له ابادۍ او ترقۍ سره یې کلکه مینه درلود ۰

دعاداتو او اخلاقو په باب یې د دې لیکی په بیلابیلو برخو کی خبرې وشوې ، خوځــه

چی په دغه خصوص کی استاد دوکتور روان فرهادي کښلی هغــه هم دلی دراوړ لو ړ دي ،

ده لیکلی دي : ((پدرمن مولوي عبد الباقی که شا گرد دارالمعلمین سراجیه بود ۰ تازنده

بود ستایش دانش ، نیکودلی ، وطنخواهی ، صراحت لهجه ووارستګی ، استاد خــــود

(غلام محی الدین افغان) رامیکرد ۰ سرپرستی دارالمعلمین سراجیه باوسپرده شده بود ۰

دري رابه لهجه پښتو سخن میګفت)) (۷۸)

---

(۷۷) پښتانه شعراء ج ۳ ص ۷۷۲

(۷۸) پښتو چاپی آثار ۰ ص ۲٦ ۰ د ۱۳۵۷ ش کال چاپ ۰

کله چې دډېرو اوادبياتو دپوهنځي له خوا دافغان دآثارو دټولو لوچـــاري
درسمي ليك په ذريعه راوسپارل شوي ، نومې د دغه کار سرته رسولو لپـــه پــا ره
www.libtool.com.cn
دسراج الاخبار کلکسيو نونو ته مراجعه وکړه ، او د دغه اخبار له پانومــــــى
د ده منظوم او منثور آثار او فولکلوري راټول کړي مواد ولیکل ، بیامې په دي ډ و ل
په دريو برخو وويشل :

(۱) لومړۍ برخه منظوم آثار
(۲) دوهمه برخه منثور آثار
(۳) دريمه برخه پښتنی فولکلور

د هرې برخي تشريح غوښتونکی ځايونه مې په لمن ليکونو کی تشريح کړل ، اود افغـان په پيژندنه ، ژوند ليك ، د آثارو په پيژندنه مې سريزه وکښله ، اوځه مې چې په دې برخو کـې په وسرپوره ووم ، هغه مې ترسره کړل . بنايي زما څېړنې اوگرويژنې اوشننې په دې خصوصی نيمگړې وي ، بنايي نورپوهان او درايي خاوندان يې بشپړ کړي .

دمتن څېړنې دا ساساتو لمخي زما زيار ويوست چې د ده آثارد سراج الاخبا ر په پانـو کې د نورو بناغلو ليکوالو له خپروشوو اثارو بيل کړم . ځکه دمتن څېړنـــى آرونه داحکم کوي چې : دمتن ترتيبوونکي بايد ترهرځه دمخه داثردليکوال په نامه کې تحقيق اوڅېړنه وکړي . ځکـه که دغه ډول سرتيري وش بنايي په يوه نامه دډيـرو نورو شاعرانو آثار د يوه سړي په نامه نشرشي (۷۹)

نو زه هم د ده د آثارو دټولولـــو په برخه کې له دغې ستونزې سره مخامخ وم ځکه په سراج الاخبارکې د ((افغان)) په تخلص د دريو شاعرانو اشعار نشر شوي دي :

(۱) دمولوي صالح محمدخان هوتك (۱۳۳۹ هـ شمر) په سراج الاخبـا ر کې لومړنی خپاره شوي اشعار د ((افغان)) تخلص لري .

(۲) د همدغه غلام محی الدين افغان اشعارچې د شعر په مقطع کې د افغـان له تخلصه سربيــره د هرشعر په پای کې خپل بشپړ نوم د ((احقرالعباد غـــــلام - محی الدين افغان)) په بڼه هم ورسره راوړی دي ،هره ليکه اوشعريې نيتــــــه هم لري .

(۳) دتبيين الواجبات د ناظم ملاعبدالباقی افغان کاکړ (۱۳۳۴هـ ق مر) پارکی چې زياتره د دغه اخبار په اووم نشراتی کال کې خپاره شوي دي .

---

(۷۹) تحقيق النصوص ونشرها ، دعبدالسلام هارون ،مخ ۴۲ــ۴۴ ، د ۱۳۸۵ هـ ق کال د قاهرې چاپ .

نویه همدې اسا سرما هڅه وکړه چې دمرحوم مولوي غلام محی الدین په آثاروکی دنوروآثارو او اشعار ورګډنه شی .

دهمدغسی نه پاملرنی له امله له بده مرغه دمرحوم افغان ځینو سوانح لیکونکو دمولوي صالح محمدخان هوتك اشعارچی دسراج الاخبار په دریم او څلورم خپرنی کال کی زیاتره د ((افغان)) په تخلص چاپ شوي . دغلام محی الدین افغان ګڼلی دي، اودې ته یې نه دي پام شوی چې شاعر د شعر په مقطع کی د ((افغان)) تخلص له کارولوسربیره د شعر په پای کی د (ص . م) په مخففه بڼه خپل نوم هم راوړي دي .

www.libtool.com.cn

دمثال په توګه زموږ درنو محققینو دغه پارکی :

شکرشکر باغ موخپل باغوان موخپل دی ګل موخپل بهارموخپل بوستان موخپل دی

دغلام محی الدین افغان بللی دی، اوداځکه چې دپارکی په پای کی راغلی دي :

عجب عصر دی "افغانه" نظروکـــــه ژبه خپله قلم خپل بیان موخپل دي (۸۰)

او ددوي دې ته نه دي پام شوي چې شاعر دهمدغه پارکی په پای کی ګڼلی دي (ص . م) همدارنګه ددغه شاعرځینی نوري منظومی هم د"افغان" تخلص لري، لکــــه دامنظومه :

څه احوال دی پردنیا عبرت واخله اې دانا (۸۱)

اما دپارکی په پای کی (ص . م) راغلی دی، اوپه ځینو نوریارکوکی یې هم دغه کار کړی دی.

دغی موضوع ته لومړی ځل دپښتودځوان لیکوال ګران زرین انځور پام شوی دي، او د کابل مجلی د ۱۳۵٦ ش کال (۸۲) دلومړۍ ګڼی دیوې مقالی په ترځ کی یې دغه موضوع روښانه کړې ده (۸۲)

او دایی ګڼلی وه چې ددغه شعر دمولوي صالح محمدخان دی . خوداچې دغه شعر دغلط مشهور په بڼه زموږ ادبی تحقیقاتوکی دغلام محی الدین افغان په نامه ضبط شوی وه، اوده لومړی ځل داخبره سمه نه وه بللې اوشعریې داصلی خاوند په نامه ضبط کړی وه . نوډیرو ښاغلیو تریوښتو لاندی نیولی وه . اوبالاخره دې ته اړ شو چې دسږ کال دزیري په یوه ګڼــه کی دغه موضوع نوره هم پسی روښانه کړي او ځینی نوراسناداومدارك هم په دې برخه کی راوړي (۲۴ ګڼه ۱۳٦۰ ش کال)

---

(۸۰) (۸۱) سراج الاخبار څلورم کال ۳ ګڼه ۹ مخ . دهمدې کال ٦ ګڼه ۳ مخ .
(۸۲) کابل مجله د ۱۳۵٦ ش کال ۱ ګڼه ۱۰۱ ــ ۱۰٦ مخونه دپښتوپه پرمختګ کی دسراج الاخبار ونډه .

دده خبـــره په دې خصوصی سره د محکه دغه شعر دمولوي غلام محی الدیـــن

افغان نه ، بلکه دمولوي صالح محمدخان هوتك دي اوبه دغو لاندې دریودرســـی

کتابو کی چی دغلام محی الدین افغان په نامه قید دي، درانه لوستونکی دي لـــه

www.libtool.com.cn

هغو کتابوڅخــه داستفادي په وخت کی دغه پار کی دغلام محی الدین نه، بلکــــه

دمولوي صالح محمدخان وبولی :

(۱) دپښتو دادبیاتو تاریخ دخلورم ټولګی له پاره(۸۳)

(۲) دپښتو معاصرادبیات (۸۴)

(۳) دپښتو ادبیاتو تاریخ اوسنی دوره (۸۵)

---

(۸۳) ددغه کتاب ۲۳ـ۲۲ مخونه، دادبیاتو دپو هنځی چاپ ۱۳۴۷ش کال، ۱ و

ددغه کتاب په ۲۳ مخ کی چی وطن ته دافغان دپیرته راتګ نیټه ۱۳۳۰ هش

ښوول شوې هغه دې په ۱۳۲۲ هـ ق سره کړه شی .

(۸۴) دغه کتاب په ۱۳۵۷ش کال دادبیاتو او بشري علومو دپو هنځی له خوا چا پ ـ

شوي دي .

(۸۵) ددغه کتاب ۶۹مخ ، ددغــه اثر په ۶۸ مخ کی هم هیواد ته دده دبیرتــــــه

راتګ نیټه ۱۳۳۰هـ ق ښوول شوې ده .

د ۱۳۶۰ ش کال دژبو او ادبیاتو دپو هنځی ګستنتري چاپ .

دمرحوم صالح محمدخان هوتك پر دغه غزله میرزا عبدالرحیم رحیمی (۱۲۵۴ ـ ۱۲۹۹ هـ ش)

یو پښتو مخمس هم ویلی دی، چې دیېل بند یې دلې راوړم :

پېرتنا دخپل مولا کرم چې او طان مې خپل دي
که خیبر دي که کونړ دي که لغمان مې خپل دي
قندهار، مزار، هرات، هم بدخشان مې خپل دی شکر شکر باغ مې خپل با غبان مې خپل دی
گل مې خپل بهار مې خپل بوستان مې خپل دی (۸٦)

www.libtool.com.cn

مگر څېړندوي عبدالله بختاني چې په پښتانه شعراء کې دمیرزا عبدالرحیم رحیمی د شعر

دنمونې په توگه د دغه مخمس بندونه راوړي نو د نمونې تر راوړلو دمخه کـــــاږي :

((دده د پښتو شعر دنمونې په توگه به دده دیومخمس دوو بنده وړاندې کړو، چـــــې

دغلام محی الدین افغان پر غزل یې لیکلی دي)) (۸۷) له پښتانه شعراء څـــــلوړم

ټوك څخه د استفادې په وخت به هم ښاغلي لوستونکي دغه تیروتنه په پام کې نیسي، او د

غلام محی الدین افغان نوم به په صالح محمد هوتك سم کړي .

سر بېره پر دغو څېړنو مادغې مجموعې متنونه دمتن څېړنو داوسنیو روښونـــــو

پرېنا وڅېړل اوله بېلابېلو خواوو مې تحقیق پر وکړ . دمتن څېړنې اساسات حکـــــم

کوي چې هرمتن باید په تاریخي، اجتماعي، ادبي، اوژبنی لحاظ وشنل شي . سربېرې او د

گرانو لغاتو د حل له پاره وېي پا ڼکه اوپه پای کې دمتن څېړونکی دا څخـــو نو نیولیك بـــاید

ورسره مله وي .

---

(۸٦) سراج الاخبار ٦ کال دوهمه گڼه .
(۸۷) پښتانه شعراء ح ۴ مخ ۲۰۸، د ۱۳۵۷ ش کال چاپ، کابل پښتو ټولنه .

www.libtool.com.cn

د مولوي غلام محي الدين افغان

آثار

تولونکی

د سرينزي ليکوال

ما همدغو آرونو ته په پاملرنه دغه نیمگړې سریزه پروکښله . اودمتن گـــرا ن لغات په لمن لیکونو کی دقاموسونویه مرسته حل کړي دي اودوخت دلز والی له املــــه می دخپلوا خځونو ځانگړي نیولیك (فهرست) جوړ نه کړ . خوټول اخځونه مــــــی په لمن لیکونو کي دهراخځ دمخونو اوچاپ کال له څرگندونو سره ښوولی دي .

www.libtool.com.cn

اوسنۍ متن پو هنه داغواړي چی متن څیړونکی باید په متن کی دراغلیـــــو قرآنی آیتونو،حدیثونو اوعربی مقولو په باب څیړ نه وکړي ماهم په دغه متن کی ترخپله وســـه داکارکړی دی .

دافغان دآثارو ددغی مجموعی ځینو مواد و په خپله تشریحات درلود ل . ماهـــم هغه تشریحات کټ مټ راواخیستل * متن پو هنه داغواړي چی متن باید د شاعـــــر یالیکوال په خپله ژبه اویالهجه وي . ځکه که د شاعرژبی اویالهجې ته زیان ورسول شـــــی او متن څیړونکی یی لهخپل ذوق سره سم کړي . داکاربه د شعر اونثر کیفیت ته زیـــا ن ورسوي . نو ځکه چی افغان کند هاري و ، لیکنی اوشعرونه یی پښتودلویدیځ گړ دود ــ ځانگړنی لري ، نو ما هم د دغه گړوډ دځانگړتیاوو خیال دده په آثارو کی ساتلی دي .

---

* د کتاب دمتن په لمن لیکونو کی دسراج الاخبار حاشیی په (س) ښوول شوي دي .

لومړۍ برخه

www.libtool.com.cn

منظوم آثار

((۱))

درحمان بابا پرغزل مخمس

څوك چې ورك له خپل وطن وي څه به خوب کا
ستمګرچې (۱) ګلبدن وي څه به خوب کا
مبتلاچې په شيون(۲) وي څه به خوب کـــــا
هغه څوك چې دی مين وي څه به خوب کا
چې فرهاد غوندې کوهکن وي څه به خوب کـــا
⁎
داجهان دې پاته تانه هم له مانــــــــه
دقضاچاره خونه شي له لقمانــــــــــــه
څوك خوکړاي نه شي علاج دمرګ دوانه
هرنفس دسري تله دي له دنيانــــــــــه
چې (۳) همه ساعت رفتن وي څه به خوب کا

(۱) چې = چې يې

(۲) شيون : وير، ژړا ، انګولا (افغان قاموس ۲ ر ۳۸۵)

(۳) اوسني ليکوال : چې يې ، په دې شکل کي نيم بيتي سکته پيداکوي ، پخپلــه ((چې)) دکندهاري ګړدود له مخې د ((چې يې)) پرځای کارېـــږي ، په لرغونومتونو کی هم موضوع همدا اړول دە ،

چې مفتون سی ځوك اوریل د ده په زړه سی ... نااشناله خواز مخوبه بی لیمه سـی
عاشق نه دی که بی یاره دی ویده سـی ... د رقیب له جوره خوب د عاشق نه سـی
د هغو چې یار د بېمن وي څه به خوب کا

www.libtool.com.cn

بی کس می هرګز نه سوه غمګساره (۴) ... آزاده لکه لاله یم له ګلـــزاره
تماشی ته می عالم راحی بی شمـــاره ... چاونه ویل چې له څه یی بی قراره
چې په اورکی یې وطن وي څه به خوب کا

له خوبنی اومسرت نه خنداکیــزي ... په بیلتون کی خندانه وي ژړاکیــز ي
خوب بستر باندې سره داشناکیــزي ... چې عاشق له خپله یاره جداکیــزي
که د سلو شپو کړمن وي (۵) څه به خوب کا

زه په شان د کواکب شب زنده داریـــم ... هګزنه یم سترګی پټـی بیقراریـــم
هر سحر زه له ژړا سره دوچاریـــم ... ناست به یم (٦) کی د اشنا خپل د پیرافګاریم
څوك چې د اس رازعجن وي څه به خوب کا

د چاکار چې شکایت سی له هجرانـــه ... ممکن نه دي چې بیرون سی له نیرانه (۷)
امید مه کړه خوب خند اسوه پاته تانـــه ... خوب خندا به بیغمی کیزي ((افغانـــه))
چې یې بل آتش په تن وي څه به خوب کا (۸)

---

(۲) غمګسار = انچه که غم رابیرد ، غمزدای ، یاد وست ، رفیق (۲) محبوب ومعشـوق
غم لیرکوونکی ، له سري نه غم وړونکی . (معین ۲ ر ۲۲۲۱)
(۵) کړمن : مصیبت زده ، اندوهګین (پښتوقاموس ۲ ر ۱۰۱)
(٦) یم : دریا ، در دریا انداختن وقصد کردن (منتخب ۶۵۱) ، سین (افغـــا ن
قاموس ۳ ر ۶۱۷)
(۷) نیران : اور (افغان قاموس ۳ ر ۵۴۳)
(۸) دغه مخمس ۷ بنده دی . د سراج الاخبار افغانیه په پنځم کال ۱۹ ګڼه ۵–۶ مخونو
کی چاپ شوی دی . مګر استاد بینوا په اوسنی لیکوال لومړي ټوك ۶۹–۷۰ مخونو
کی د دغه مخمس یوازې ۵ بنده راخیستی دي . د پښتانه شعراء د دریـــم
ټوک په ضمیمه ۹۰۷ مخ کی د دغه مخمس ۴ بنده راغلی دي .

بسم الله الرحمن الرحيم

((وعلمك مالم تكن تعلم وكان فضل الله عليك عظيما)) (۹)

www.libtool.com.cn

((قصیدهٔ افغان (۱۰) در فضیلت علم))

((۲))

مسدس

الهی احسان خو ستادی بی حساب — چی دعلم را ښکاره کړ ئ بی حجاب
نمر دعلم دي روښان تر آفتاب — چی سړ ی په ده افضل دی له دواب
په حرمت دمحمد هم داصحاب
رانصیب کړي علم تول ته اې وهاب

. . .

عظمت نه سم کړ ای دعلم زه بیان — علم فضل دی اونو ر دی دسبحان
خیر کثیر وایي په به شاه سره قرآن — ((رب زدنی علماً)) ورکړ رب نشان
خپل حبیب ته چی دی دوهٔ عالیجناب
هم دعایي په هروقت په هرساعت وه مستجاب

(۹) ایة : ۱۱۳ سورة النساء ۴ ، ایت .
(۱۰) دقصیدي تعریف د تحول شعرپاري نومی کتاب په ۷مخ کی زین العابدین موتمن داسی راوړ ی دی : ((قصیده در لغت یعنی قصد شده ودراصطلاح ادبی به شعری اطلاق میشود که بیش از پانزده یا بیست بیت مشتمل باشد . وکلیه ابیات نیز در وزن وقافیه از بیت مصرع نخستین پیروی نماید . قصاید زبان پارسی معمولاً بین سی وپنجاه بیت است وگاهی ازین بیشتر وکمتر هم میشود . پیداست فزونی یاکمی تعداد ابیات بستگی به موضوع قصیده واقتضای حال ومقام وحوصله وتوانایی گوینده ومخصوصاً حروف قافیه دارد . گاهی قصاید به دوو یست بیت ودرصورت بسط وتوسعهٔ قوافی به زیاده ازآنهم بالغ گشته است)) .
دغه پارکی چی په سرکی یی ورته دقصیدهٔ افغانی سرلیک ورکړ ی او دیاتري لاندي یی ((مسدس) ورته لیکلی دی . قصیده نه بلکه ((مسدس)) دی ، اوداد بی فنون په کتاب کی یی دمسدس تعریف داسی راوړ ی دی : ((مسدس هغه شعرته وایی چی هربند یی شپږ مسرع وي او داول بند ټولی مسرع یی په یوه قافیه ویلی شوي وي اوبیا دهربند شپږ مه مسرئ داول بند دقافیی سره موافقه وي . کله دمسدس اطلاق په هغه نظم کی کیدای شی چی څلور مسرع یی په یوه قافیه وي ، اودوه مسرع یی په بیله قافیه ویلی شوي وي)) (ادبی فنون استاد بینوا ص ۷۰ – پښتوټولنه ۱۳۲۶ لمر کال) مگر دهیښتیا خبره خودا ده ، چی مرحوم افغان هم دغه نظم قصیده بللی ده . اومسدس په وروستی بندکی وایی : ((داآخره قصیده ده په پښتوکی))

رسول وایی وعالم سرې په شـــان استغفار ورلره کیږي په آسمان
په صباح اوبه مساویه هـــــرآن عالمان دي دنبیـانو وارثـان
تل عالم وي په هرکارکی فتحیاب
هم عالم په هروطن کی وي نواب

www.libtool.com.cn

. . .

چی طلب دعلم کړي شمرۍ(۱۲) دادی وي تسبیح یی ذکر بحث یی غذادی
او تعلیم یی صدقه دی هم سخادی څه شك نسته چی سلاح دي په اعدادی
دایی لزکوتی اثردي له دریاب
چی ژیلن(۱۳) په هوائی لکه غراب (۱۴)

علم تالسره انیس دی په وحشت کـی هم رفیق دی هم ملګری په غربت کـی
مفرح (۱۵) د طبیعت دي په خلوت کی هم څراغ ده دهدایت دی په ظلمت کی (۱۷)
کړي لاري نه په ده سی اجتناب
هیڅ عالم نه کړي پروا له انقـــلاب

ترقی لري په علم انحصـــــــار تمدن په علم باندې برقـــــرار
تجارت حرفت به ګرم سی بـازار عالمان که چیرې وکړي داګفتـار
علم او هنر باران کوي لکه سحاب
جهالت سرې پریباس په ګرداب

---

(۱۲) شمرې = شمرې
(۱۳) دغه نوم دافغان په یوه بل پارکی کی چی دسراج الاخبارد ٦ کال بـــــه
۲۱ ګڼه کی چاپ شوی د ((زویلان)) په بڼه راغلی ۰ اوبه حاشیه کی یی ورتـــه
کښلی دي :
((جهاز هوایی که ایجاد آن خاص در جرمنی شده))
(۱۴) غراب : د دریابونو دکښتیو یو ول (غیاث ۳۰۹)
(۱۵) مفرح : فرحت ورکوونکی ، خوشحالی او خوښی بخښونکی (منتـــخب ۵۵۸)
(۱٦) خلوت : تنهایــــــــــی ، یـــــــوا زې والـــــی (افغـــا ن
قاموس ۲ر۴٦)
(۱۷) ظلمت : تیاره (سپیڅلی پښتو ۱۹۳)

ترقئ ښبنتن یورپ دی په د ا آن   که تراوچ رسیدلی دي جاپان

امریکه که ده په مثل دیونـــــــا ن   راز د تولو دی په علم کی پنهان

ته یقین کړه هم باورکړه په دې باب

www.libtool.com.cn

وړو عالم (۱۸) وته رستم سی لاجواب

په جاهل باندي عالم وي ډېرفاضل   مساوي کله عالم وي د جاهل

بې له علمه سړی نه کیږي کامل (۱۹)   د جاهل کارونه وا ړه وي باطل

په خپل کارکی جاهل کله وي کامیاب

بل به* دی مدام اخته وي په عذاب

التجاکړم ربه ته سی مهربـــــــا ن   په اسلام ته فضل وکړې بې پایان

ترقئ مالك کړې ته ټول افغانان   په علومو کی یې ته کړې عالمان

له خپل فضله له کرمه اي ستاره اې وهاب

نه خو دوی کړې په هرکارکی فتحیاب (۲۱)

زموږ شاه چی مهربان ډیرتر ډېردی   دې حامی د ترقی اود هنــــــر دی

په داشان سره ساعی علم پر وردی   له کوشش نه یې مکتب دایوشــمردي

استقلال ته یې بیدارکړ وموږ له خواب (۲۲)

هم ظلمت دا ستبدادیې کړ بې تـــــاب

---

(۱۸) وړو : کوچك ، وړوکی (پښتو قاموس ۲ ر ۳۲)

(۱۹) اصل : بې له علم سړی نه کیږي نه کامل

* اصل : بل که

(۲۰) التجا : ننوتل ، ننواته ، پناه گرفتن (افغان قاموس ار ۱۳۳) غوښتنه ارزو (پښتو - پښتو تشریحی قاموس ا ر ۸۹)

(۲۱) فتحیاب : بریالی .

(۲۲) اصل : استقلال ته یې بیدارکړ وله خواب

د آخره قصيده ده په پښتو کـــي　　　چې تقديم سوه په حضور د پښتنو کي
بيا به نه ستايم نور څه زه په شعرو کي　　　د ((افغان)) دعا ده تل په نيمو شپو کي
ربه ته مو کړې باد شاه په خپل مقصد کي کامياب (۲۳)
بل حاضر مجلس ته وکړې نوا بونه بې حساب (۲۴)

www.libtool.com.cn

((۳))

ترجيع بند ذوالقافيتين

موږ که ښه تعليم يافته واي د آثار　　　هم کامل واي په صنعت کي د کارزار
اوس زموږ به واي په دنياکي اقتدار　　　هم به زموږ واى ډير هيبت په ټول کفار
کل جهان دى رسيدلى ومقصود ته په مدار　　　مګر موږ خولا تر اوسه يو په خوب کې د سهار
د الا شکر چې اعليحضرت دى ډير هوښيار　　　ورته موږ به له پخوانه وو ډير خـــــوار
کل علمونه حاصليږي په به قرار (۲۵)　　　که تعليم کړي طالبان زموږ د وطن په تلوار (۲۶)
په يوه کتاب پسې ګرځي خوار و زار　　　طالبان زموږ د وطن په هرد يـــــار
که په فقيه او اصول سي خبـــر دار　　　بيا به خبرنه وي د عربو په اشعـــــار
که چيري زده کړي په منطق کي څه ګفتار　　　دي به فقه ګوري په نظر د استحقار (۲۷)
که دى حاصل کړي په حسابکي اختصار　　　بيا به نور علمونه دى ګڼي بې کـــــار
نه خبر له مساحت او اقليدس څخه زما يار　　　نه خبر له طبعيا ته واقف وي له اخبار
ارسطو منطق پسې ګرځي دى بسيـــار　　　د بيکن (۲۸) منطق تمبې دى په تلوار

(۲۳) اصل : رب ته کړي زموږ باد شاه په خپل مقصد کي کامياب
(۲۴) معرف معارف لومړي کال ۳ ګڼه ، ۲۰ ــ ۲۴ مخونه ۱۲۹۸ ش عقرب . د افغـــان
دغه مسدس د اعليحضرت امان الله خان په وړاندې په هغه غونډه کي د امير ـــ
محمد شاګرد له خوا لوستل شوى و . چې د اعداديه تعليم د سند ونوا وهماغـــه
ښوونځي ته د بيرغ د وركولو په ويار جوړ شوي وه . غونډه د ۱۲۹۸ هـ ش کال
د ميزان په ۱۴ د چهارشنبې ورځ جوړه شوې وه (معرف معارف ۲ کال ۳ ګڼه
۱۰ مخ)
(۲۵) اصل : کل علمونه حاصليږي په دي د هرکي په قرار = نيم بيت پنځه هجاوي زيات وب
لري .
(۲۶) اصل : تليـــوار

(۲۷) فرانسس بيکن (۱۵۶۱ ــ ۱۶۳۶ ع) مشهور انګليسي فيلسوف دي . د لنـــدن
په ښار کي اوسيده . مشهور اثر ئې ((نوي ارغنون)) نومي (تشکل وتکامل افکار ـــ
فلسفي ۱۹۸۰ ص ۷۹ ــ ۸۱)

علوم که مغرب که مشرق دي رايج کـــــــا ر
کفارچی پرې خبر دي نه کوي ځنی عـــــــار
دی خوږي د نصاراله حرفتونه پرهیز گـــــــار
په داشان کله پرهیز کا ځوك لـــــــه کـــار
www.libtool.com.cn
استعمال دصفويی(٤) په داشان کړی دي په جار
چی مدام دده په سروي دانگریزد سان دستـــا ر
دايي نتیجه دبی خبرې ده طلب خــــــوار
چی دی نه کړي هیڅ پروا دزماني په کارو بـــار
که ځوك ده ته بی خبر وايي دحسدس په گـذار
مگردی په حقیقت کی بی خبر گڼی تلـــــــوار
الغرض په سلوکسو کی څو تن دي بیا په شمـــــار
چی دوی وتړ ي په سرد فضیلت یو سبین دستـــار
بیا هم هغه عالم فـا ضل به نه وي خبـــــــردار
چی والی دچین موځوك دی هم پادشاه دتاتـا ر
نوبه ده له شکوې دعالمانو صد هـــــــــزار
ولی عالمان دي دنیا نو میراث خــــــــوار
په ایذا (٢٩) اوحسدنه دی زماگفتـــــــار
زه محب دعالمانو هم ددوی یم خدمتگـــــار
هغه ځوك خو کافرکیز ي په دي کــــــار
چی دی گوري علماته خـــــــــوارو زا ر
اوس خو داضروری چی موږ زده کړوله کفـــار
داهنرد فلاحت او تجارت هم کنبت وکا ر
په فرانسی کی دومره پوښکی (٣٠) وي بی شمـار
کلمه وي زموږ دوطن دولی بیخ يادچــــنـار
په فرانسی کی له بسوي نه حاصلیږ ي دامقـــدار
لکه دلته دجریب اودقولی وي پیـــــــداوار

---

٢) ایذا : ځورول، ربړول، اذیت کول (افغان قاموس ١ ر ١٧٥)
٣) پوښکی : سماروق (پښتو قاموس ١ ر ١٩٩)

دزمکو زراعت په فلاحت دی انحصـــار
بلکه ټول جهان په زراعت دې موغز ار
زه چې نظرو کړم په حالات دزمینــــــدار
بې واره په ژراسم په صداسم په کوکــار
دوی خوبی تهذیب اوبی هنردی هم نادار
بلکه بی خبردي په صنعت دکښت وکـــار
لاتراوسی هغه درانه جغونه هم یی سپار
بل لاداچې نه پوهیږي پـه سادین(۳۱) هم په شدیار(۳۲)
دوی مدام وي پرېشانی په داسې کا ر
چې دوي مړه کړي یوتر بله په یوه لپه جوار
گرچې دهقانان موبې هنردي هم پرخوار
بیا هم سل حله بهتردي له عابده رشوت خوار
نه کړي راشیان(۳۳) خوبی رشوته دچاکا ر
گویادوی لره حلال دي دامـــــــردار
رسول دی لعنت کړی په راشی باندې باربار
هم په ده باندې عقاب دی هم عذاب دی دقــهار
په دنیا او په عقبی به یې رسواکړي کردگـــار
هغه خوك چې رشوت اخلي له مسکین عاجزه خوار
نورځه مه وایه((افغانه)) په باب ددې مر دار
ولې اوس خودوی دي عزتمند او باوقـــــار (۳۴)
ځه کړم زورې نسته په فلك سفله پـــــــرور
ورنه مابه په یخ کړي وې ځیگرهم خپل تتر (۳۵)

۱ حقرالعباد غلام محی الدین افغان
۳ ربیع الاول سنه ۱۳۳۵ هـ

---

(۳۱) سادین: زمین شیار شده (پښتو قاموس ۱ ر ۵۹۴)
(۳۲) شدیار: زمین برای زراعت اماده شده (افغان قاموس ۲ ر ۳۲۶)
(۳۳) راشیان = رشوت خواره
(۳۴) دغه پارکی دیری گډوډي اوهجایی کمبوت او زیاتوب لري، سکتی هم یکی شته. تریوه حده مې جوړ کړ، خوبیا هم ټول سم نه دي.
(۳۵) دغه پارکی دسراج الاخبار د ٦ کال له ۱۱ گڼی ٥ ـ ٦ مخونو څخه اخیستل شوی دی.

بسم الله الرحمن الرحیم

«رب لا تذر علی الارض من الکافرین دیاراً» (٣٦)

((۴))

www.libtool.com.cn

زما زړه د وینو ډک دی بی قرار   نن ستم د کافرانو بسیار
د رسول درود په فضل وکړي رب   په امت د خپل حبیب بزرگوار
ستمونه د کفارو چې حساب کړم   د وی تیرسوي دي له حدوله شمار
د وی په زړه کی رحم نسته په اسلام   جوریږي په پرا که جوریه اهل النار
طاقت نه لرم چې لنډ بیان یې وکړم   د وی جفا له ستمونه ځه اخبار
ترسایانو کافرانو وو قصد کړی   چې د مسلم دې پاته نه سي یو دیار
سي اخراج مسلمانان ټول له یورپه   حلقه تنګه د پر بردوي سي د پرکار
ورو په ورو دي ایشیاکی (٣٧) هم مفقود سي   مګر خواک چې د صلیب (٣٨) سي پرستار
د صلیب بیرق د پاسه په مکه سي   یو دي وس په مدینې تاختوناتار (٣٩)
مسلمانان چې نه وي بیا به نصاري سي   په رضا یا په جفا وار کفار
نن یونان باغی په حکم د سلطان سه   سباورځ سرویه* سوه خود مختار
انګریزو وي چې خیرخواه یو د بلوچو   په داچل یې کړ قبضه د دوی دیار
د قلات خان (۴٠) اوس بند يدی په لاهور کی (۴١) _ ځکه د انګریز بلوچستان سه باج ګذار (۴٢)

---

(٣٦) ایة: ٢٦ سوره، نوح، ٧١ ایت.

(٣٧) اصل: ورو ورودي په اشیاکی

(٢) غیاث (ص ٢٦۴) د صلیب په باب کښلي دي: بفتح اول وکسر لام به معنی سخت وبه معنی بردارنهاده شده وچوبیست که ترسایان در زنار بندند. وبه فارسی انرا چلیپا گویند. ونوشته اند که این معرب چلیپ است... وجه ترانکه چون عیسی علیه السلام رابر آسمان بردند. طرطوس نام شخص راکه هم شکل عیسی بود بر دار کشیدند. وبعداین واقعه ترسایان آنرا عیسی پنداشتند شکل دار یا عیسی ازچوب تراشیده شده ودر گلو اویختند، وتعظیمش کردند.

(٣٩) ناتار: تاراج جبر وستم. زحمت ومشقت (پښتو قاموس ٢ر٣٦٣)

(۴٠) د قلات د خانانو اوپر بلوچستان باندې د انګریز انود تسلط پیښې په پر تفصیل ته اړه لري چې زه یې په دغه لمن لیک کی نشوای ځایولای (د تفصیل له پاره وګورئ! بلوچستان د ملك صالح محمد نهري ٢١٦ مخ نه وروسته.

(۴١) اصل: که

(۴٢) اصل: ځکه د انګریز سه بلوچستان باج ګذار: جج ه

ورکونکی (سبیخسلی پښتو ص ٢٨)

* سرویه: په بالقانا توکی دیوې سیمی نوم دی (دلوی استاد په منښه)

مراکو کې چې د وروزوسره جنګ وه — اوس فرانس په کښې عزیزدی بې بیکار
په ایران کې هم دغسې حال ښکاریږي — چې ټول شوي کرګان دي په مردار
سریب یې نن مسخرالجیریا کړې — هم تابع داسې سلطان دزنګبار
دانګریزو په یرفریب په داوینا کښې — چې خیرخواهان یو دادم د ټول تبار (۴۳)
هیڅ مطلب نورنه لرونه په خپل زړه کې — زموږ ه تاسو حواموروه آدم پلار
اعانت (۴۴) لره راغلي یوله لیرې — دخوارانو کړو مدد براد رو او ر
غرض دوی ځان نمایان کړي په ښه شان — دوی خو ظالمان لکه لیوان دي په یرمکار
ډرمښان چې یوځل پریوځی په رمه کښې — لحاظ خونه کړي د کبار او د صغار
فلسطین چې په قبضه کې د اسلام دی — په اسلامیو کې د ډېاسلام وي برقرار
په مسیح زماقسم چې دوی خواهان دي — چې حلال غوندې موږ کاندي په دار
دا یخوا کله صلیبي جنګونه نه وه (۴۵) — په موږ باندې یه یوځه دن ناتار*
د سلطان صلاح الدین په زمانه کښې — ټول یورپ چې یورشلم کړه حصار
له کفار وا کترمړه سوه په میدان کښې — نورسوه خلاص په هزیمت (۴۶) اوپه فرار
څه قصور وه د اسلام په باب لیکلي — چې روغه یې د امام کړه ګوله بار
بیا جنګ وه د طرابلس په افریقه کښې — مسلمانان سوه شهیدان هزار هزار
نه سپین زیري یې د سلوکالوپریښود — نه په غیږ کې د مورطفل شیرخوار

---

(۴۳) تبار: خاندان، کورنۍ، ټبر (افغان قاموس ۱/۳۵۳)

(۴۴) اعانت: مرسته کول، یاري دادن (منتخب ۲۴)

(۴۵) صلیبي جګړې هغه جنګونه دي چې دلویدیزې اروپا نصاراقومونو په ۱۱–۱۲–۱۳ پیړیو کې کړې دي. ددغو جګړو اصلي هدف له مسلمانانو څخه د بیت المقدس ژغورل و، او هرڅوک چې به دې جګړې ته ورتلل په ښی اوږه به یې له سره توکره څخه یو صلیب ګانده، د صلیب لومړۍ جګړه د فرانس یوواعظ پیل کړه او دیرې لښکرې د همدغه هیواد وې. ددغو جګړو د لویدیزې اروپاملتونه له ختیځو مسلمانوملتونو سره اشنا کړل او د فرهنګ په خپرونه کې یې هم اغیزه درلوده (آریانادایرة المعارف ٦ ټوک ۴٦۹ مخ)

*ناتار = تاراج · یلغار (لس زره لغتونه ۷۰۵)

(۴٦) هزیمت: ماته (افغان قاموس ۳ ر ۵۹۰)

www.libtool.com.cn

چې عمل زموږ بدل شو حال موبل شـو | لکه وي وعید (۴۷) له لوري د قهـار
ډیرکلې یې خالي کړه له سړونـــــــه | عمارات خالي یې وسوه بیا په نـــار
ستمونه د اتلی څه عجب نـــــــه دي | چې لږ حال دانګریزانو کړم اظهـار
په ظاهره کې انګریز مهذب تـــــردي | په باطن کې دوی بد ترد نور کفـــا ر
اول دا چې اوس سالارد دوی کنجز دي | چې یې مرمهدي سورکړ ی وه په دار
هغه پوپ (۴۸) چې دمسیح قایم مقام دي | مذهبي د دو ی سردار د ی هم یې پلار
چې ده کړ ی وه بیان ایتالیې تــــه | چې اسلام د ی ډیر اشد (۴۹) اغزی د لار
ډیر ثواب د ی چې خارلري سله لا ري | هم په لاري کې دی نه وي نور آ ز ار
اتلې داسې استیصال (۵۰) د اسلام کړ ی | لکه سې درووانبه د مرغــــــــــزا ر
قلمبند به یې زرمه بخره نه کــــــړ ي | که ته جوړ کړ ي قلمونه ټول اشجـا ر

دعا د افغان داده اي خالقـــــــــــه
چې دې تل وي ټول د ښمن ذلیل هم خوار (۵۱)
((الرویاء الصالحـة من المبشـــــــــــــــــرا ت)) (۵۲)
((۵))

مخمـــــس

څه عجبه خوب وچې مې ولید ده سحـــر | زه یم په یورپ کې اوګرځیږ م لرویـــر
ټول یورپ اخته دي په غوغا په شوو شــر | یو تربله وژنې په ټوپک وپه خنجـــر
ماوې دا به ملک وي د سینا (۵۳) یا د بربر (۵۴)

---

(۴۷) وعید : ترټنه (افغان قاموس ۳ ر ۵۷۰)
(۴۸) پوپ ـ پاپ ، په روم کې د ټولو کاتولیکانو مذهبي او روحاني مشر (پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس ۱ ر ۷۶۷)
(۴۹) اشد ، ډیر کلك (افغان قاموس ار ۹۹)
(۵۰) استیصال . له بیخه ایستل (افغان قاموس ۱ ر ۹۰)
(۵۱) سراج الاخبار پنځم کال ۹ ګڼه ۸ مخ .
(۵۲) نیك خوبونه زیري دي .
(۵۳) سینا : یعنی (اپی سینا) واقع افریقاي شرقی . مردم ملك مذکوروحشی وخونخوار وبیرحم می باشند .
در روزهای مهمانی ګوشت خام ګاوانرامیخورند (س) .
(۵۴) بر بر افریقای شمالی رامی ګویند . (س)

ومی کړه بو بنتنه له پوچانه پــــــه مــــــدار
وایه چې دا ملك داشانتي (۵۵) کهدغوندار (۵۶)
دیخویه افسوس اوپه حسرت شوبه گفتـــــار
چې داملك دعاقلانودانایانودی بسیـــــار
داهغه یوروپ دي چې دی ځای د هنـــــر

***

بیامی له هغه نه استفسارکی، په دابـــــاب
دوی ولی پرېوتل دزمانی په دي گــــرداب
ده وي حقیقت کی پرنگیان ویه شتـــــاب
چې ورك دي مسلمان سی لهجهان نه په عذاب
ځکه اوس خودوی سول په دنیاکی په خطـــــر

***

څوك چې وي مغرورپهخپل قوت اوپه حکمـــــت
دی خویه زر پر یوځی په کوهی کی دذلـــــت
نه بی وي عزت اونه قدرت اونه طاقـــــت
چې لري مصیبت کا او حاصل کاندي راحـــــت
څوك چې په مغرور وي د هغه خاورې په ســـــر

***

بخت که چاته شاکاکهداناوي دجـــــرمـــن
خپله دانایي به بې په ځان سی شعلـــــه زن
څه به درته وایم دفلك په دوروفـــــن
نه ځینې خلاصیږي له اسیه مـــــردوز ن
سخت ساعت هغه دي چې هوښیارسی کوروکـــــر

***

بیامی دهغه نه په دي شان وکی، داســـــوال
چې کله به ختمیږي په یوروپ کی داجنجـــــال
ده وې که چیرې ورك له جرمنیانوسومجـــــال
یاکه ۰۰۰سی په دنیاکی پرپایـــــال
یاکه انگریزان سی له قسمت زیروزبـــــر

***

بی خویه اسلام‌سی په دي جنگ کی کامیـــــاب
که چیرې کل اتفاق‌وکړ یااسلام دد ین په بـــــاب
بیابه نه سی په دنیاکی یاره داسی انقـــــلاب
اوس خوپرضروردیچې اسلام‌سی فتح یـــــاب
ولی دښمنان دي په‌خپل کوركی سرپه ســـــر

---

(۵۵) درافریقاي جنوبي واقعست ۰ (س)
(۵۶) غوندا : دروسط جشتان یکه قصبه است (س)

www.libtool.com.cn

بیا هغه ویل چی ته هم څوك یی په خپل تـــــن
چی دلته یی راغلی او صورت دې دی غمجـــن
جاوا (۵۷) که سوماترا (۵۸) که بورنیو (۵۹) دی ستا وطن
www.libtool.com.cn
چی ته داسی بی خبری د دنیاله خیروشـــر
ماورته بیان کی خپل اصلی نام ونشــــان
چیرته چی اوسیږم هغه ملك دی دافغــان
پریرد ي زموږ پهملك کی عالمان او فاضــــلان
چی دوی وایی دیوروپ وحکیمانوته خــوا ران
بل موږ یو پرېماهر په کارو بارکی دجمــدر (۶۰)
بیا راته ګویان سوهغه ځوان په دې مضمـــون
ستاخوهم څه زده دي یاته هس یی پښتـــون
ماویل چی پښتانه خودي په علم کی جیحـــون
زه یم له هغو نه یو ادنی سړی کړ مـــــون
په اته ژبو پوهیږم درته وایم مختصـــــر
یعنی په پښتو اویه هندي کی یم ماهـــــر
عربی اوانګریزي خوهم پوهیږم په ظاهــــر
ګورمکی او شاستري ته په ښه شان یمه حاضـــر
په اردو اویه پارسی کی یاره زه یم محــــرر
نورعلوم هم رامعلم دي برا دره ماش قـــــدر
هغه خوبه خنداویه تهقهه کی استفســـار
ایاتا سوهم پوهیږی په کروزر (۶۱) اویه طیار (۶۲)
یاکه هسی ځان خوستایی د دهلی دپنجسوار
اوس خو عالمان خانه هغه دي بی ګفتـــار
چی دوی جوړ کی دردناتونه (۶۳) په حکمت اویه هنر

---

(۵۷) دبحرمحیط هند یك جزیره کلانست.
(۵۸) سوماتراکذا.
(۵۹) بورنیو: ازجزایرمحیط کسیر جزیره کلانست.
(۶۰) یوډول خنجرد ي چی دواړې خواوې یی تیرې وي. (پښتو ـ پښتو تشریحی قاموس ۲ ر ۱۳۰۸)
(۶۱) کروز: جهاز جنګی رامیګوید (س)
(۶۲) طیار: بالون (س)
(۶۳) دردنات: جهاز بزرګ جنګی (س)

اوس به د رته وايم د خپل شاه علم وهنـــــــر
د ی خوښه یو هیز ي د خپل قوم په خیروشــــر
بل داچې ښه واقف د ی د وروبه شورشـــر
www.libtool.com.cn
ځکه موږ پراته یو لاتراوسه بی خطـــــــر
ربه ته مو ساته دوي سی په دې کی د ضـــــرر
بل د ې ترقی خواه *د خپل وطن دی به دي شا ن
چې په ملك كی جاري کړي مکتبونه له احســـا ن
هرسړي ته اجازت دی چې داخل کی پســـران .
په مکتب سرکاري کی بی تکلیفه بی نقصـــــا ن
هرغريب ته په مکتب کی وظیفه ده مقـــــــر ر
بل په ملك كی جوړ کړي *سرکونه هم انهـــا ر
چې له دوی نه حاصلیږ ي د دنیاکل اعتبـــا ر
تجارت د شراکتد ی جاري کـړ ي شهر یـــار
چې په ده باند ي موقوف دي دجهان کارو روزگا ر
هم د هرتعليم دباره استادان دي ميســـر
بل داچې موږ نمسی یود طالــوت*(۶۴) درحقیقت
چې رب ده ته عطاکړ ی وقوت هم و یرغیـــــرت
هغه ان چې طالوت وکړ په جالوت باند ې هیبت
له طالوت سره خوتنه اوګهار وو به کثـــــرت
مرداري کی ء جالوت په خپل همت اوبه خپل سخر(۶۵)

(۶۴) ترترنولسمی اوشلمی پیړ ی تراوایلووري په تاریخی تحقیقاتوکی د قد یموتاریخی کتابوبه بناداویل کیدل چې پښتانه اصلاً سامی نژاده د ي ، اوحتی پیښوري عبدالحلیم اثرخولااوس هم په همدې نظرد ی . حال داچې دایوه افسانوي خبره هیڅ یو ول تاریخی ، کلتوري اوژبنی اساس نه لري . به نولسمه پیړ ۍ اوحتی په اتلسمه پیړ ۍ کی ځینو مستشرقینود اثابته کړه چې پښتانه آریایان او پښتو یوه آریایی ژبه ده (د تفصیل له پاره وګوری : اوږمه د ۱۳۴۷ شرکــال ۱ ګڼه . د پښتو ادب اصل او منشأ (د پوهاند دوکتورحبیب الله تــــږ ي مقاله ۱۲ـــ۱۳ مخونه .
(۶۵) سخر : سنګ پلخمان (س)

سلیمان علیه سلام چی وٌ بادشاه دکل عالـــــم
دهغه په زمانه کی خو لازیات وه زموږ حشـــــم
ولی چی اصف دبرخیاوه وحضرت ته محـــــترم
موږ به ولی ځان نه ستایو په دنیاکی مکـــــرم
هم موږ به په حرمت اوبه عزت یو ترمحشـــــــــــر

٭ ٭ ٭

بل نیکه مو عبدالرشید وه(٦٦) یارمهسی غازي ځوان
چی مدام به دده نوم وي په دنیاکی نمایـــــان
چی دی هم په خوله اویـــه زبان کی وه یك شان
بل دی عالی عمت وه په دنیاکی په بنه شـــــا ن
هم په خوی خصلت کی جانه دی وه لکه نمـــــــر

٭ ٭ ٭

بل خو احمد شاه در دران وه دافغـــــــا ن
په ده باندي قایل دي یاره کل مرهټیـــــــان
بل خو مو شیرشاه ویمتال شیرژیــــان (٦٧)
له هیبت نه یی روان سه همایون مخ په ایــــران
که بیان یی عدالت کړم ته به پاتی سی ششدر(٦٨)

---

(٦٦) په دغـه مخمس کی دافغان له دغه ټول یادونو څخه څرگندیـــــــږ ي
چی ده دپښتنو دانسابو په پخوانیو کتابوکی پراخه مطالعه درلوده ۰کـــــوم
مسا یل چی مرحوم افغان ددغه مخمس په دغو دریو بندونو کی بیان کـــــی
دپښتنو دانسابـو په زړوکتابوکی شته دمثال له پاره وگوري۰(خلاصة الانسا ب
دحافظ رحمت خان بر یخی تا٬ لیف۰ ٥ــ٤ ٩مخونه د ١٩٧٣ع کال چـــاپ،
پښتواکیډیمی ــ پیښور)
(٦٧) ژیان : خشمـناك ، قهرآلود ، غصه ناك (افغان قاموس ٢ ر ٢٣٧)
(٦٨) شـــشدر : دکتابی په ټول دهغه ځای له پاره اسعمالیـــــږي چـــــی
خلاصون ترې ناممکـــن وي، اویـــــه مجازي معنـــی : عاجــــــز،
حیران، او متحیــر (غیاث ٢٤٧) ۰

حیدرخان وه یو افغان باغیرت او باحرمت
چې ده وه حاصل کړی سلطنت په خپل همت
انګریزیې وه خارج له هندوستانه په شدت
که چیرې نظام نه وې د انګریزو په مدت
که ټیپو (٦٩) درته بیان کړم هغه هم وه لوی اژدر (٧٠)

* * *

بل مو انګریزانو ته معلوم دی شجاعت
چې دوی وو راختلی ودې ملك ته په غیرت
اکبرخان وه ښکاره کړی یاره دوی ته همت
دده په همت باندې ډیرقایل دی جرنیل نت (٧١)
انګریزان وې شرمیدلی په دې ملك کې مکرر

* * *

اوچت خودرته وایم چې بیاجنګ وه دمیوند
ډیرګفار سول قتل په دې جنګ کې هم په بند
ونیول غازیانو ډیرګفار په خپل کمند
مرداري په تبرکړل په خنجرکړل چند درچند
وي شرل له ملکه په همت دخپل جمدر

---

(٦٩) دټیپو اصلی نوم ابوالفتح ، فتح علی ټیپو و . پلاریې سلطان حیدرعلی نومیده ، چې دجنوبي هندوستان په میسورکې یې سلطنت کړی دی . پلاریې له (١٧٦١–١٧٨٢ع پورې اوده له ١٧٨٢–١٧٩١) پورې حکومت کړی دی . له انګریزانو سره یې ډیرجنګونه کړي دي (ټیپو دمیسوریانو په ژبه زمري ته وایی) سلطان ټیپو ١٧٩٩ع کال دمی په ۴ له انګریزانو سره په جنګړه کې شهید شو (وګورئ ا پښتومجله د ١٩٥٨ کال ١ ګڼه ١٣٥–١٣٨ مخونه)

(٧٠) اژدر: ښامار (افغان قاموس ١ ر ٧۴)

(٧١) نت: درسنه ١٨٢١ع وزیرمحمداکبرخان مرحوم درکابل قتل عام انګریزان راکرده بودند . جرنیل (نت) (نات) درآن وقت درقندهار بود واز خوف وزیرمرحوم جهت امداد انګریزان دران سال بطرف کابل روانه نتوانست (س)

www.libtool.com.cn

بیارانه گویان سه هغه ځوان په هسی شـــــا ن
زه درنه پرسان کرمه حکمت دایروپـــــلان (۷۲)
ته څوراته ستایې ځپل نیکونــــــه خــپل دوران
ایا تا سوهم څه کړای سی په جواب کی زوپلان (۷۳)
یاکه هسی ځان ته وایی چی موږ یو شیر ببــــر

***

افسوز صد افسوز هم افسوزدی صدهــــــــزار
چی زه سم لاجواب په حکمت کـــــی دطبـــا ر
ماویل ((افغانه)) اوس همت کړه په ځپل کــــار
وي نیسه له ستونی په داټکی (۷۴) که مــــرد ار
زه وم لاپه دې کې چی بیدارسوم په بستــــر (۷۵)

احقرالعباد غلام محی الدین افغان ۲۱ رجب المرجب سنه ۱۳۳۵ هـ ق
((کل من علیها فان ویبقی وجه ربك ذوالجلال والاکرام))(۷٦)

((٦))

قصیدهٔ افغانی

امیدمه کړه چی همیش به یی خوشحال
په دنیاکی دی هرشی لره زوال

هیڅ یوشی لره ثبات او قرار نستـــه
دی ثبات دمحمد تاتوبه یرمحال (۷۷)

پادشاهان دگذشته زمانو ټول شــوه
چی دوی ووصاحب دجاه اومنال (۷۸)

خبردار له سکندره کل جهـــان دی
چی دی لارسه له دنیانه بی مجال (۷۹)

لاشی (۸۰) مرسه چی اجل ورده ته راغی
نه په کاری پادشاهی سوه نه اقبال (۸۱)

---

(۷۲) ایروپلان = طیاره (س)
(۷۳) زوپلان = جهاز هوایی که ایجادآن خاص درجرمنی شده (س) .
(۷۴) ټکی = له ټکه یی = فوراً (س)
(۷۵) سراج الاخبار ٦ کال ۲۱ گڼه ۲ــ۲ مخونه
(۷٦) ۲۷ سورة الرحمن ، ۵۵ ، ایت .
(۷۷) محال : ناممکن ، ناشده ، ناشونی (افغان قاموس ۳ ر ۳۰۴)
(۷۸) منال : هستی ، شته ، جایداد (افغان قاموس ۳ ر ۲۳۹)
(۷۹) مجال : فرصت ، وخت ، مدار ، وار (افغان قاموس ۳ ر ۲۹٦)
(۸۰) لاشی : هیڅ شی . ((لا)) دعربی دنفـی ((نه)) علامه ده .
(۸۱) اقبال : ضمان کسی راقبول کردن ، وروبه چیـزی اوردن ، وپیش امـدن ، وچیزی پیش کسی داشتن وسعادتمند شدن ، وروکسی به چیزی گردانیـدن . (منتخب ۷۵)

د بابل او نینوا (۸۲) سلطنتونه داس تیرسوه لکه تیرسی د چا خیال
د برمکو کروفر (۸۳) په داشان تیرسه لکه تیرس په خوبنی کی اندك حال
ورور ته که سی فصیح لکه سحبان (۸۴) اوکه بی لکه یوسف صاحب جمال
اوکه فرد (۸۵) فریدون تاته حاصل سی اوجمشید غوندې دې جام سی مالا مال
اوکه عقل دلقمان جمله هم ستاسی معمرلکه د نوح سی ته په کال (۸۶)
اوپه ونه که درازلکه چی عوج سی اورستم غوندې که ته بې قوي بـال
اوپه عدل کی کته لکه عمرسی که په حیاکی سی عثمان خوش خصال
اوکه ته په قرائت کی ابن کعب (۸۷) سی ابوذر غوندې که بې صادق مقـال
په شجاعتکی که خالد زوی د ولید سی اوپه خط کی که علی زوی د هـلال
الغرض چی مکمل په هرصفت سی نه دې سیال وي په دنیاکی نه مثال
چی داعی (۸۸) د اجل تاوته نازل سی ته به وکړې له دنیانه ارتحال (۸۹)

اې ((افغانه)) ناصح مه سه ونورجاته
مګرته که سی کابند په خپل مقال (۹۰)

حقیرالعباد غلام محی الدین افغان

---

(۸۲) اصل : د بابل اودنینوي سلطنتونه
(۸۳) کروفر : خودنمایی ، کروبر ، دوری (افغان قاموس ۳ ر ۱۱۲)
(۸۴) سحبان : د عربو فصیح خطیب و چی د ده فصاحت د متل حیثیت غوره کړی
اوپه ۶۷۲ هـ ق کال مړ دی .
(المنجد ۲۴۹ معجم الاعلام الشرق والغرب ، نولسم چاپ)
(۸۵) فر : شمشه ، دبدبه . شان وشوکت (افغان قاموس ۳ ر ۹)
(۸۶) اصل : اوکه عقل دلقمان جمله ستاسی معمرلکه چی نوح سی ته په کـال
(۸۷) کعـب (ابی بن ـ القاری الخزرجی) د حدیث روایت دی چی د ده په صحابه وو
ته د قرآن عظیم قرائت کاوه ، د حضرت عثمان د خلافت (۲۳ ــ ۲۵ هـ ق) وخت کـی
مړ دی (معجم الاعلام ... المنجد ۴۳۹)
(۸۸) داعی : بلونکی (سپیڅلی پښتو ص ۱۲۹)
(۸۹) ارتحال : لیږدیدل ، لښل ، کوچ کول (افغان قاموس ۱ ر ۶۴)
(۹۰) سراج الاخبار د ۱۳۳۳ هـ ق کال (پنځم کال) ۸ مخ ، ۴ ګڼه

زړه زماډېك دی له مينی دوطـــن — خپل وطن ماته عزيزدي ترخپل تـــن
هريو گل می دوطن پرماډېرګـــران دی — ترکشميره ، ترباريسه ، ترلنــــدن
شيرين ځان می په شيرين وطن فـــدادي — زه خودارنګه فرهاد يمه كوهكــن
ګلستان می دوطن لادرګـــارد ي — خارستان دي دوطن راته ګلشـــن
دوطن په حمايت(۹۱) كی ځان مباح(۹۲) دي — په امينی كی لازم دی سرباختـــن
چی دچاپه سرسودا دوطن نـــه وي — سرد ده وي مستحق د بريــــدن
چاپه زړه كی چی جنون دوطن نه وي — دهغه زړه خدای هميشرلري غمجــن
كه څه ډير(۹۳) دي په جهان كی عزتونه — ډيرعزت دي په خدمت كی دوطن(۹۴)
ساكنان دخپل وطن چی څوك غيربولي — هغه غدار(۹۵) دزمانی دی هم دښمــن
دملت ودين سراج اعليحضــرت دی — په جهان كی لكه نمردی دی روښـــن
هسی شان ترقی شويده دده په عهدكی(۹۶) — چی په كاروي د ويده رخوزمـــن (۹۷)
مدرسی اومكتبونه اوس جاري دي — دهرعلم ، دهركسب ، دهرفـــن
ښه توپونه اوس جوړيږي په كابل كـــی — استغناموسوه له ګرويه دجرمــــن
هم اخبارموشايع كيږي په وطن كـــی — ډيرمرغوب لكه محبوب ښه مزيـــن

www.libtool.com.cn

---

(۹۱) حمايت : ساتنه ، نګاهبانی (منتخب اللغات ۱۸۳)
(۹۲) مباح : جايز ګڼل شوي ، حلال ګڼلی (غياث اللغات ۳۹۵)
(۹۳) اصل : كه ډيردي په جهان كی عزتونه

(۹۴) په اوسنی ليكوال لوبړي توك ٦۹ مخ كی دغه پاركی همدومره راغلی دي . نـــوره برخه مادسراج الاخبارد ۴ كال د ۱۷ ګڼی له ۴ مخ څخه رانقل كړه ، دپښتانـــه شعراء دريم توك دضميمی په ۹۰۷ــ۹۰۸ مخونو كی يی هم اته بيته راوړل شـــوي دي .

(۹۵) غدار : (۱) لنډ پاري (۲) درغلی ، دروهلی ، د رغلنی ، خائن (افغـــان قاموس ۲ ر ۴٦۷)

(۹٦) اصل : كه

(۹۷) زمن : په دو وزوروونو ، روزګار ، وخت ، زمان (منتخب اللغات ۲۷۷)

بومدير (۹۸) يې چې جامع دکمالات دي خداي دې دي سالم ساتي، له هرحزن(۹۹)
واقعات موچشم ديد سوه دهرښهــــر که بيکن دي، که لندن دي که برلـــن
اخردعاد ((افغان)) دادعاي صاحبه
www.libtool.com.cn
چې اسلام صاحب دجاه(۱۰۰) کړي ذوالمنن(۱۰۱)

«۸»

دحمن بابا پرغزله مخمس

جاروي سترنامراسه راســــــه په هجران کې يم ناکامه راســــــه
زما ورد (۱۰۲) پهصبح وشامه راسه راسه اې زمانزړه آرامه راسه راســـــــه
سروقده گل اندامه راسه راســـــه

وار ه خلق دې صنمدح خوان دي هم له لاسه دې خواران سينه بريان دي
ستاله حسنه بې رونق وار ه خوبان دي هم همه وار ه خوبان دې مقتديان دي
دهمه وار و امامه راسه راســــه(۱۰۳)

پلرار سې سه ستاله جسنه دخوبانـــــــــــــو
ولې ته يې غزال (۱۰۴) چشم هم مطلوب يې دښا هانو
ايمان وړونکى د شيخانــــو دپيرانـــــــــــــو
بې تانسته څه حرمت دعاشقـــــــا نـــــــو
دعشــــا قــــو احتـــرامــــه راسه راســــه

* * *

مهجور زړ ه خوله فراقه زيــاتـــــى چــــــــوي
پ ه هغه باندې ګول د رحم ډ يرشـــــــــه وي
چې په ســــــرې غ غمونه ډيرراتـــــــه وي
خدازده بيابه هسې وقت وي که به نــــــه وي
زه ويريـــــــزم له ايامـــــــه راسه راســـه

---

(۹۸) لهديرخخه مرادمحمود طرزي(۱۸٦٥ــ۱۹۳۳ع) مرحوم دی.
(۹۹) حزن : غم، اندوه، نول(افغان قاموس ۲ ر ٦۲)
(۱۰۰) جاه: قدر ومنزلت (منتخب ۱۷٦)
(۱۰۱) ذوالمنن: دنېکيو خاوند (فرهنگ عميد)
(۱۰۲) ورد : هغه دعاچې هره ورځ يې په تاکلې شميرياندازه په تاکلــى وخت کـــى
ويل کيږي (فوايدلغتنامه دبهارلس)
(۱۰۳) دمخمس دغه بند په اصل کې ډيرګډوډ وه مايه لوړ ډول جوړ کړ.
(۱۰۴) غزل ـ آهوبره، وبه معنى آفتاب نيز ارند (غياث ۳۱۰)

په دروغوهس ته ولی ویناکـــــــــړي
دوصال وعده همیشته په فرداکـــــــړي
خواه مخواه خندا پساعاجزشیداکـــــړي
نن هنگام دي که وفاکړي که جفا کـــــړي
چاره نه سی له هنگامه راســــه راســـه

www.libtool.com.cn

***

اتي محبوبه رایت قامته خم ابرویــــــــــه
لب شکره دتدانه گو هره شیرین گویـــــه
نازنینه ماه جبینه ستـــــم جو یـــــــــه
پري رویه سنبل مویه پري خویــــــــــه
عنبـــــر بویه لاله فامه(۱۰۵) راسه راســـه

***

داجهان کله مکان دانبساط دي (۱۰٦)
بلکه دی دمسافرو یو ر بـــــــــاط دي(۱۰۷)
په هرلورکی غم موجودمفقودنشـــــاط دي
مبارك د دوو مینو اختـــــــــــلا ط دي(۱۰۹)
تله دي تله دي له جهانه راســـه راســه

---

(۱۰۵) فام: لون، رنگ (غیاث ۳۱۵)

(۱۰٦) انبساط: غوړیدل، ویړ یدل (افغان قاموس ۱ ر ۱۴۵)

(۱۰۷) رباط: براو، مسافرخانه، منزلگاه (افغان قاموس ۲ ر۱٦۳)

(۱۰۸) نشاط: خوښی (منتخب ٦۰۹)

(۱۰۹) اختلاط: مخلوطیدل، مذاکره، صحبت (لغات‌عامیانه ۱۱)

یخ کابل کې مې په زړه بله لمبه شــــوه
له فراقه مې سینه آتشکده (۱۱۰) ســـوه
ماغریب لره قاتله دې عشوه(۱۱۱) ســـوه
www.libtool.com.cn
شپه لابریز ده رنا ورځ راباندې شپه ســـوه
د ((افغان)) ماه تمامه راســـه راســـه

احقرالعبادغلام محی الدین افغان(۱۱۲)

۱۶ ذي الحجة الحرام سنه ۱۳۳۴ هـ ق

«۹»

بې کمال د باکمال کله همســـردی | هم قیمت کله گوهرسره حجردی
باکمال سړی په مثل د پادشاه دی | په ښاهره که مفلس او قلندردی(۱۱۳)

که لباس دبې کمال وي د زربفتـــــو
دایې محل دي(۱۱۴) د حریر(۱۱۵) په خپله خردی
که لباس د باکمال وي د کرباســـو (۱۱۶)
کمال ده لره خلعت دي هـــم زیـــوردی
څوک چې نه لري کمال وا وره «افغانه!»
که غنی وي لاخو تانه مفلس تـــردي (۱۱۷)

---

(۱۱۰) آتشکده : اورتون ، دوهې (افغان قاموس ۱ ر ۹)
(۱۱۱) عشوه : نازه فریب ، حرکت معشوق که دل عاشق بدان فریفته شـــود (غیاث ۲۹۸)
(۱۱۲) سراج الاخبار شپږم کال ص۴،۶ گڼه ، دغه مخمسی په اوسنی لیکوال لومړي توك کې هم راخیستل شوی ، مګرنا قص پنځمه بنده دی(۷۰–۷۱ مخونه) د پښتانه شعراء دریم توك دضمیمې په ۹۰۸ مخ کې یې هم پنځمه بنده راغلی دي .
(۱۱۳) قلندر : مجرد و گوشه نشین ، ملنګ (افغان قاموس ۳ر ۷۰)
(۱۱۴) محل ـ دخاروي د شاه کپړه (لته) زل ، جول ، په یوه کاکړي ... لنډۍ کې راغلی دي :

مورديې محل پلاردې گونـــې
له چاپیدا سوې شین خالـــې
(پښتو ژبه ۶ر۱۵۰)

(۱۱۵) حریره : (۱) وریښمینه جامه (۲) وریښم (افغان قاموس ۲ر۱۱)
(۱۱۶) په دې ځای کې کرباس دخمتا په معنی راغلی دی ، ددې کلمې په باب د ډیرو تشریحاتو اومفصلو معلوماتو له پاره وګوری (کابل مجله د ۱۳۶۰ کال ۹ ګڼـــه کرباس ، دفاضل استاد پوهاند ژشاد لیکنه ۳۳–۴۳مخونه)
(۱۱۷) دغه شعر د پښتانه شعراء دریم توك له ۷۷۷ مخ څخه واخیستل شو ، دغـــه غزله د سراج الاخبار پنځم کال ۱۵ گڼه کې راغلی ده .

دوهمه برخه

www.libtool.com.cn

منثور آثار

حالات خوشحال خان ختک

بطور اختصار از کتب متفرقهٔ افغانی وفارسی نوشته شده

خوشحال خان ولد شهباز خان ولد یحیی خان ولد ملك اکوخان قوم ختك ساکن ملك پور (۱) المعروف به سراي .

ولادت خوشحال خان :

درسنه ۱۰۲۲ هـ چونکه قوم ختك از قدیم باقوم یوسفزایی عناد وعداوت داشت وهنگامه کارزار همیشه درمیان ایشان گرم میبود ، ازین سبب پدر مع اجداد خوشحال خان درجنگهاي مردم یوسفزایی به قتل رسیده اند .

خوشحال خان درزمان سلطنت شاهجهان از جملهٔ اکابر دولت واوخان قوم خود بود ، هرگاه اورنگ زیب پدر خودرا محبوس ساخت خوشحال خان ملازمت

---

(۱) استاد دوست محمد خان مومند (۱۳۵۹ شریمر) د تاریخ مرصع په نوټونو (۱۳۳ امخ) کی کښلی دي : ((سراي اکوړه دخوشحال بابا موږ لد اوسکن دي ، چې دهاپا غورنیکه ملك اکوړ خان ودان کړي وه ، ملك پور به هم ورته ویل)) .

راخیر باد گفته به وطن اصلی خود مراجعت کرد (۲)
وبه عزت وحرمت تمام اوقات خودرا به سرمی گذرانید . چونکه خوشحال خان
نزد شاهجهان نهایت مقرب واز هواخواهان اوبود اورنگ زیب به سبب خوف که مبادا
خان مذکور کدام فتنهٔ برانگیخته شاهجهان را از قید اورها کند اورنگ زیب

---

(۲) دمرحوم افغان دغه خبري هم له تاریخي متونوسره مطابقت نه لري . په دې برخه کې استاد کامل مرحوم دخوشحال خان دکلیات دمقدمې په (٤ ـ ف) مخونو کې کښلي دي :

((کله چې شاه جهان د ۱۰٦۷ هـ ق کال دذي الحجې په ۷ نیټه دور وبولونځیدلو په مرض داخته کیدو په وجه دسلطنت دکار او روزگارڅخه عاجز شو، او نتیجه داچې دده په زمانو کې دتخت او تاج له پاره جنګ ونښتو، مشر بادشاهزاده داراشکوه او دویم بادشهزاده شجاع خان له وو، او دریم او څلورم بادشاهزادگان یعنی اورنگزیب او مرادبخش سره ملګري وو . په دې جنګ کې اورنګ زیب کامیاب شو، پلار یې چې دداراشکوه طرفدار و، بندي کړ و، دارایې وژلو، شجاع یې ورك کړ و، مراد سره هم اورنگزیب وران شو لومړ ي بندي او خوکاله وروسته یې وواژه . دی بادشاه شو او دباچاهۍ دنیولو په دوران کې خوشحال خان چې له داراشکوه خفه و، . پښتونخوا ه کې داورنگزیب مرسته وکړه . خپل تره فیروزخان یې دبهاکوخان مقابلې ته چې ددارا ملګري و، ولیږ ه . فیروز خان بهاکوخان ته شکست ورکړ و ، دبهاکو خان ورور سیدخان په جنګ کې ومړ ، اوبهاکوخان پخپله ژوبل شه . دې نه پس نورو باغي یو سفزو سره هم مقابلې وشوې، دهغوي سرکوبي وکړ ي شوه . په ۱۰۷۰ هـ ق کال خوشحال خان دتیراه په مهم ولاړ او څه موده پس چې دباغیانو سرکوبي وشوه . نو خپلې علاقې ته واپس راغلو اوبیاله یو سفزو سره په جنګ جګړه ولګیدو، اودهغوی پرخلاف یې ښې کامیابۍ حاصلې کړ ې . دغس په پښتونخوا کې هم دنوي حکومت د وقار دقایمولو دپاره خوشحال خان ښه کاراوخدمت وکړ و)) .

ازین جهت قصد حبس خوشحال خان راکرد (۳) وظاهراً براي او چنان نوشت :

چونکه شما یك شخص دانسته ولایق می باشید همچنانکه درعهد شاه جهان عزت وحرمت داشتید در دربارمن نیز شمارابه همان قسم عزت ومرتبه عطاکرده خواهد شد . لهذا بایدکه شما حاضر دربارفیض آثار پادشاه مغلیه شوید .

خوشحال خان با وجود کمال ودانش به تحریر اوفریفته شد ودرسنه ۱۰۷۴ هـ ق از مسکن خو بطرف دهلی سواي جمعیت کثیر روانه گردید — چون به پشاور رسید صوبدار پشاور فوراً اورا به قرار فرمان اورنگ زیب که قبل ازین براي او رسیده بود محبوس کرده باو گفت اگرشما مبلغ ۴۰ هزار (۴) روپیه براي من بدهید شما را رهامیکنم ورنه بطوریك بندي بحضوراورنگ زیب پیش خواهد شدید — خوشحال خان به خیال اینکه دروقت شاه جهان خدمات بسیارکرده ام شاید اورنگ زیب علاوه از رهایی به لحاظ حقوق خدمات سابق به مرتبه بزرگ خواهد رسانید — ازین سبب براي صوبدار مذکور

---

(۳) دخوشحال خان دقید اوحبس په باب لکه دغس نورو بیر افسانوي روایات په کتابو اومقالو کی راغلی دي چی زیاتره یی له تاریخی متونو اووقایعوسره سرنه خوري هرچا په دې باب یو څه کښلی دي ، خو په دې برخه کی کره سند دتاریخ موضع خبري دي او دغه متن په شهادت اودحینو نورو مؤ رخینو دکښنو له مخی دخوشحال دحبس علت په پښورکی دسپ دامیر خواهش له نایب میرزا عبدالرحیم سره ددە شخصی مخالفت او حینی نورلوي اووار ، عوامل وو ، چی دتولو تفصیل دلی نه ځاییږي (فراقنامه ، مقدمه)
(۴) دغه رقم شلوینشت زره نه بلکه پنځوس زره دی (وګوري ؛ دخوشحال دکلیات مقدمه ق مخ) لوي خان خوشحال خان ختك په دې باب په خپله ویلی دي :

وغوښتی پنځوس زره روپۍ صوبه دار ماوي دربه نه کړم یوبوجك نه یودینار

(کلیات ۹۳۶ مخ)

www.libtool.com.cn

ثت که من جهت شما یک حبه ودینار نمیدهم، بلکه میخواهم که بنده را به دهلی روانه کنید . صوبه دار پشاور خوشحال خان را به حفاظت تمام روانهٔ دهلی کرد اگر چه اقوام خوشحال خان چند مرتبه برای جنگ ورهایی دادن او جمع شده بودند مگر خوشحال خان ازین ارادهٔ شان باز داشت. بالجمله دروسط ماه مبارك رمضان ۱۰۷۴هـ ق به دهلی رسید (۵) وبعد ازعرصهٔ چند درباره او از حضور اورنگ زیب چنان احکام صادر کردند که خوشحال خان در دهلی محبوس باشد. وعیال واطفال او در دهلی اورده شود ــ به مجرد صدور احکام شاهی پسران واو به طرف ملك خود روانه شدند ، یعنی سعادت خان ومیرباز خان جهت اوردن عیالها دروطن خود امده آنهارا به دهلی بردند (٦) بعد ازعرصهٔ چهارسال اورنگ زیب

(۵) د ۱٦٦۴ع کال داپریل له اواسطو سره سمون خوري .

(٦) دغه خبره هم سمه نه ده، لومړی داچي میرباز خان دخوشحال خان زوي نه بلکه ورور یې وُ او سعادتخان یې زوی دی . دهلی ته دخوشحال تررسیدو دمخه سعادتخان دده زوي، میرباز خان دده ورور او باقي خان تربور دمخه رسیدلی وو، په دې نیامت چي دخوشحال دخلاصون لارې چارې ویلتی مگر کامیاب نه شول ، اوبیرته وطن ته ستانه شول ، که څه هم باچا حکم کړی وُ ، چي دخوشحال اولاده دې دهلی ته راوستلی شي مگر داکارونه شوي او اهل وعیال یې لومړي سیکری اوبیا سنګاووته لاړل ، خان دخپلې کورنۍ دغه دربدرۍ په فراقنامه کی راوړی ، چي یوبیت یې دادی :

چي میشته په سنګاو دي په عظیم درباب لاهو دي

(فراقنامه انتقادي متن)

او تاریخ مرصع په دې باب کاږي :((... حمزه خان ، الله داد خان وغیره یوسفزي اکثراکوزي یاتیزي را غلــــه ، دخان علیین مکان زاهوا زاد یې سیکرۍ کاتلنګ لـــــره بوتلل . سراي یې وواهه . باد شاه چـــــي واوریدل . دي یـــې په قلعه درنتهپور وخیـــــــزاوه)) (تاریخ مرصع ۲۷٦

خوشحال خان را ازحبس رهایی داد (۷) ومنصبی که درعهد شاهجهان داشت
برای او داده نه شد . اما اورا درزمرهٔ ملازمین خود مشلك ساخت بعد از چندی
خوشحال خان خودرا مع عیال واطفال یکدام حیله از دهلی کشیده به وطن اصلی
خود باز امد . بعد از آن به سبب عنادو عداوت اورنگ زیب چند مرتبه اقوام خود

www.libtool.com.cn

را جمع کرده با افواج او مقابله کرد ودریك یادو محاربه حریف خودرانیز هزیمت
داده است. خوشحال خان ازحدزیاد در دیوان خود هجو اورنگ زیب کرده
است چنانچه خود خان مذکور میگوید :

که فردوس چند اشعار درهجو سلطان محمود غزنوي گفته امامن هجو
اورنگ زیب را بارهاگفته ام .

مذهب خوشحال خان ازاهل سنت وجماعت ومحب علمائی حقیق ومتنفر ازشیخان
ریاکاربود .

عادات واخلاق : خوشحال خان صاحب سلوك، واحسان ومروت وشجاع وسخی
بود باوجودیکه درسال مالك بسیارمبالغ میشد اماچونکه انرا بطورجوانمردي وسخاوت
صرف وبذل می کرد . به قول خود او گاهی بر اوزکوة واجب نشده بود (۸) شوق شکاررا
نهایت زیاد داشت. چنانچه تا اخرعمر خود شکار میکرد اگرچه خوشحال خان
شعر افغانی وفارسی رامیگفت، مگرشعرگویی رابدمیدانست.
عمر : تاریخ انتقال خوشحال خان معلوم نیست (۹) مگراغلباً، یقین کرده میشود که

---

(۷) دخوشحال دحبس او نظربندي . موده په ۱۰۷۴ هـ ق کال دخلورمی خوریه
وسط کی پیل کیزي اویه ۱۰۷۹ هـ ق کال یی دعمردذلت اوبدحالئ دغه
دوره پاي ته رسی اوبیرته وطن ته راځي .

(کلیات مقدمه ، رمخ)

(۸) خان ویلی دي : نه زکوة په ما واجب شو په درست عمر نه قربان

(ارمغان، قصاید ۳۲)

عبدالقادرخان ختك (۱۰۶۳ــ۱۱۲۵ هـ ق) په دي باب کښلي دي . ((سخاوت یی
ترد‌ي حده و. چی شپیته کال کم وبیش ده سرداري وکړه زکوة پري واجب نه شه
مال یی ترنصاب ونه رسیده ((گلدسته ۶۸ مخ)

(۹) هغه وخت چی مرحوم افغان په سراج الاخبارکی دلوي خان احوال کښل،
نوله دوي سره داسی اسناد نه وو. چی دوي ته یی دده دمړینی نیټه ورښودلی
وای . نوځکه ده په اټکلی توګه دده عمرتر۸۰ کلنئ پوري ښودلی دي . حال دا
چی لوي خان په ۷۸ کلنئ د ۱۱۰۰ هـ ق کال دربیع الثانی په اته ویشتم
دجمعی ورځ له دنیاسترګی پټی کړي دي چی دغه نیټه د ۱۶۸۹ ع کال فبروري
له ۲۰ نیټی اویه شمسی حساب دحوت له لومړنیټی سره سمون خوري .
(خوشحال خان ختك دمرحوم استاد کامل ۲۱۳ مخ
د ۱۹۵۱ ع کال چاپ ادارهٔ اشاعت سرحد ــ پیښور)

عمراو مابین ۷۲ و ۸۰ خواهد بود ۰

کارنامهاي خوشحال‌خان : خوشحال‌خان مشهور ترین افغانان وخان زبردست قوم ختك بود ۰ قوم ختك قبیله ایست کثیر تعداد ، وبه سرحد افغانستان وهندوستان مسکن وماوا دارند ۰

www.libtool.com.cn

دیوان خوشحال‌خان که بحر زخار پند ونصایح وضرب الامثال وجواهرنا یاب است ، درحجم از کتاب دیوان حافظ (رح) بزرگ می باشد ۰ دیگر درعلوم وفنون مختلفه این شخص زاید از یکصد کتاب تصنیف کرده است ۰ اما الحال از تصنیف او همین دیوان وفضل نامه ، وفرخنامه ، ورياض الحقيقه وعیاردانش (۱۰) ترجمه انوارسهیلی به مشکل میسر میشود ۰ این بدیع افغان دراکثر معقولات ومنقولات علامه دهرگذ شته است ۰ علاوه ازین خان موصوف درشجاعت وجوانمردي وسخاوت رستم وقت وحاتم دوران خود بود ۰ خوشحال خان پنجاه وشش فرزند نرینه علاوه از دختران کثیر التعداد داشت ۰ که منجمله ایشان ۳۲ فرزنداویدرجه اعلی شاعربودند ۰ اقوال اوقریب به درجه اعجاز رسیده است ، واکثر انهاضرب الامثال گشته اند ۰ اشعار افغانی او بی‌مثل واشعار فارسی خوشحال خان بد رجه اعلی میباشد ۰ خوف تطویل اجازه نمیدهد که اشعار او قدري نقل کرده شود تاهم بطور نمونه چهار شعر اودرافغانی وفارسی معروض میدارم :

اشعار افغانی

ته یوطلسم یې بې اعتباره　　له خاك وباد له آب وناره

اول هیڅ وې بیابه هم هیڅ شې　　په خان خبرشه وخداي دپاره

ایضاً

نیستي هستي ده که ته پوهیږې　　لویي پستي ده که ته پوهیږې

بده ترهرڅه‌په‌دا جهان کې　　خودپرستي ده که ته پوهیږې

---

(۱۰) دغه کتاب دخوشحال خان نه دي ، بلکه دهغه دلمسی افضل خان ختك (۱۱۸۳ هـ ق مړ) دي ۰ دغه غلطي مستشرقينوکړې ده ، اوده‌غو دليکوالو‌څخه دپښتو ليکوالو ليکنوته يې هم سرايت کړی دی ۰ برنهارد ډورن(۱۸۰۵ــ۱۸۸۱ع) دپښتو منتخبات په مقدمه (٦ مخ) کې دغه کتاب دخوشحال بللی دی ۰ نوروهم داړول تيروتنې کړې دي ۰ اصلي خبره دادهء ، چې دغه کتاب دخوشحال تر مړينې ۲۸ــ۲۹ کاله وروسته ترجمه شوي دی ۰ افضل خان ددغه کتاب ترجمه د ۱۱۲۸ هـ ق کال له صفري وروسته پيل کړي ۰ اود ۱۱۲۹ هـ ق کال دمحرم په ۱۳ نيټه يې له ترجمې فارغ شوي دی ۰ دغه کتاب دپارسي عيارداانش ترجمه ده ، چې پارسي ليکوال يې دجلال الدين اکبر(۹٦۳ــ۱۰۱۴ هـ ق) مشهور وزير ابوالفضل دی (دگلس رقه ددريم چاپ سريزه ۲۷ مخ ، دفاضل استاد پوهاند رشاد)

اشعار فارسی

یك نیمه به لهو عمر باطل بگذشت	برخی بغم شکل وشمایل بگذشت
ای دل پس ازین مباش چون بی‌خبران	از بهر خدا که عمرت از چهل گذشت

www.libtool.com.cn

ایضاً

امروزبه از قصر شاهان خانهٔ ماست	چون آن بت بگزیده به کاشانهٔ ماست
گنجی که کسی به گنج ویران طلبید	زین به مطلب که گنج ویرانهٔ ماست (۱۱)

احقر العباد غلام محی الدین افغان

۲۷ شوال سنه ۱۳۳۳ ھ

(۱۱) سراج الاخبار، پنځم کال ۴ گڼه ۸۰ـ۸ مخونه ۱۳۳۳ هـ ق کال .

افغانستان دسرو زرو مرغی دی

دا ملك د هندوستان، بلوچستان دایران او دچین په میانځ کی پروت دی. د ې ملك ته که باغ ارم هرڅوك ووايي، نوبی شك بناي. ولی چی پاك رب د املك بلا تشبیه په مثال د خلد برین پیدا کړی دی، اوپه دې ملك کی سمې سبزغرونه زرغونه چمنونه، خوږې اوبه، شیرینی میوې، رنګارنګ ګلونه، ښایسته خلق، اوباغیرت سړي زښته(۱۲) ډیردي. د دې ملك سیندونه او رودونه د تماشاوننداړ دي، اوبه هرځای اوبه هرکلی کی لویی لویی ولی اوبه هرکورکی لښتی (۱۳) بهیږي. د باغونو اود ګلشنونو خوحساب نشته. د هرملك دعجائباتو کوردي د ننتلو(۱۴) خلقو ځای د تیکاو(۱۵) دی. ځکه د یورپ رټلی (۱٦) اود اهریك قابل سړي د لته شاوخواګرځی. د دې ملك په آب وهوا پسی دکشمیر هندوستان، سمرقند اودچین ماچین خلق سرونه وهی اولاسونه ټکوي.

هندوستان سعیر(۱۷) کشمیر دی زمهریر
زموږ وطن دی یاره خلد بی نظیر
(افغان)

د دې ملك خلق په دینداري اوبه غیرت اوبه زړه ورتیا کی ساری(۱۸) نه لري، اوهیڅوك خپل مخی نه ګی:

---

(۱۲) زښته: ازحد ازحد بسیار (س)

(۱۳) لښتی: جوی خورد (س)

(۱۴) ننتلو: مصیبت زده ګان (س)

(۱۵) تیکاو: جای ارام (س)

(۱٦) رټلی: شړلی، چاته بدرد ویل (ظفراللغات ۵۱۱)

(۱۷) سعیر: آتش افروخته. وزبانه آتش سوزان (منتخب ۲۹۲)

(۱۸) ساري: مثل، سیال (س)

www.libtool.com.cn

که پښتون شی گدا گرد کل جهـــــان | غزیی تلی د پردیو دی تریو نـــان
هسی شان مهمان نوازه خلق نشتـــه | لکه خدای چی پیدا کړی دی افغان
ویرد ووته زمري شي خوبه کورکــــــی | له ادبه ځان مری کی تابه خـــان
دهرچا ځای له چی ورشی بی تکلیفه | کښېوزی درته تیاروی آش ونـــان

(رضوانی (١٩))

www.libtool.com.cn

سلطان سکندرهم دپښتنو په مهمان نوازۍ اوپه غیرت باندي قایل سوي وه پرنگیــــان خوهندوستان ته دسرو زرو مرغی وایی . مگر پهحقیقت کی دازموږ عزیزوطن دسروزرومرغـی دی ولی چی په دي ملك کی هـرقسم غلی، عجب میوې، دجواهراتو معدنونه، دسروزرو کانونه دپستو ځنګلونه دهنجو(٢٠) د ښتو نه اود سروخښتوپیابانونه موجود دي .که مـوږ دخپل وطن مقابلـه دهندوستان سره په دي شان وکړو . نوښایی،یعنی کوه هندوکـش مو همالیه، کوه سفید مو بندیاچل، پغمان مو، مساري، آب ایستاده مودسانبـــــــر جهیل، هیلمند موجهلم، اوبه دګنګاموجوی شیره، ارغنداومو چناب، ارغسان مو د ــ راولپنډۍ لتی . ترنك مؤسوان، کابل مو لاهور، قندهارمولکنهو، هرات موامرتســــر.

---

(١٩) میراحمد شاه رضوانی په ١٢٧٩ هـ ق کال دپیښور په اکبرپوره کی زوکړی دی دصوبـه سرحد په پښتنوکی عالم سری تیرشوي دی. په خپلی مورنۍژبی سربیره په هندي ژبـــــو او انگریزي هم پو هیده . دپښتو ژبی گرامری په اردو ژبه لیکلی دی چې وافیه نومیــــــزي. دوه نورمشهور کتابونه یی چی دپنجاب دیونیورستی دپښتـــــــــو په نصـــاب کی شامل وو، یو شکـــــرستان اویل بهارستـــان . درضوانـــی پـــــــــه مهمو کتابوکی یی اثــــرتحفـة الا ولیـاء دی . دی په ١٣٥٣ هـ ق کـــال وفات شوي دپښتــــــو ژبـــــــی شاعـــــــر هم وه، دیوان او نـــــور آثارهم لري .

(پښتانه شعراء ج ٢ ص ٦٥٨ــ ٦٦٠؛ دپښتو دادب تاریخ ١١٩ــ ١٢٠ مخونه .)

(٢٠) هنجـه : هنگ (س)

بلخ مو هستانپور، میمنه موښداراپښ او استالف مو له کشمیرنه پر یرزیات دي . همداسی زموږ دوطن شیان په مقابله دهندکی پر یرلوړ دي،بلکه پر یرښیرونه موچیري نه پیدا کیږي له دې سببه دجهان سترستر باد شاهان افغانستان ته راغلیدل ، اوخپل سرونه یې په دې ملك باندې ماتول ، اولاسونه به یې پس مښل حضرت سلیمان علیه السلام چی نبی اوپاد شاه دانس وجن وه،هغه هم په کوه سلیمان باندې خپل تخت راکوز کړی وه اوسلطان سکندرچی دجهان په نیولو لمخپل ملك راوتلی وه،هغه هم په سنه ۳۲۹ ع کی دحضرت عیسی علیه السلام نه دې ملك ته راغلی وه(۲۱) او په حدود دقندهارکی یې په خپل نامه باندې یوښهرآباد کړ ، او هغه ته به یې سکندرآباد وایه.(۲۲) اونادرچی راغی په هغه جای باندې یې نادرآباد ښهرتیارکړ ، او احمد شاه بابا خو په خپل نوم باندې آحمد اباد ښهرجوړ کی ، او اوس دا هغه قندهاردي چی په سبب دخوز و میوود باد شاهانو نومونه ترې بیرته سول اوخپل ملکی نوم ېې پاته سه .

دافغانستان مشهور څیزونه

دکابل مد رسې ، میزان تحقیقات ،(۲۲) کارخانه جات ، اوزیارت دجابرا نصارصاحب

(۲۱) دلته دموء لف (افغان) مقصد له میلادنه مخکی سنه ده . سکندر په ۳۲۹ ق م کال دژمی په اوایلو (نومبر) کی کابل ته رسیدلی وء .(تاریخ مختصر افغانستان ج ۱ ص ۴۱ ، م ۱۳۴۹ شرکال ، دکابل چاپ ، دلوی استاد پوهاند حبیبی تاء لیف) .

(۲۲) سکندر د ۳۲۹ ق م په اوړي کی آراکوزي سکندریه داوسنی کندهار په شاوخوا کی جوړه کړه ،(تاریخ مختصرج ۱ ص ۴۰)

دجبی عالی شانه میلی (۲۳) دکمریو (۲۴) منارچکري (۲۵) دللندرتو تان اودهن غار.
دده سبز ختکی ، دچیلیا رهندوانی ، دکزي (۲٦) انار ، دجگدلك یاقوت ، د آ ب
زنگانی سکاره ، دجلال آباد نـارنج ، کنی ، کور ، اودچهاربا غ صفا (حضرت صاحب)
www.libtool.com.cn
اودلغمان ملخیان اوزیات دمهترلام صاحب ، دکنر (شیخ باچاصاحب) او نــــری
وریجی . داوي شیخان ، ددره نوربنایست ، دشینواري سرشوري ، دلعل پــــوري
جواري ، دغوربند بادام ، دپنجشیر دایکان ، دنجراب پوځه ، دپغمان دغره حوض دبامیانو
لوي لوي بتان ، په غزنی کی زیارتونه ، بند د سلطان اوپو ستیـنونه ، په قندهارکـــی

(۲۳) په ۱۳۲۳ هـ ق کال کی جوړ ، شوي دینی تولنه ده ، دسراج الاحکام دتاليــف
تولنه چی پخوا جوړه شوې وه ، او پنځوس تنه دینی علماً پکی شامل وو غړ ي یی لســوتنوتـه
راټیټ شول . اودمیزان التحقیقات شرعیه نوم یی پرکښینود ، حاجی عبدالرزاق اخندزاده
اند ریـی مشرو (دمیرسید قاسم خان له یادښتونو څخه) . (دلوی استاد په منته)
(۲۴) دکابل له پخوانیمیلو څخه یوه هم د جبی میلی ده . دغه میلی به دحوت لـــه
لومړ یه اونی څخه پیل کیدي ، اودنوروز تریوځی بـــه یی دوام کاوه ، دپاچاپه ګډون ـــ
دښارمختلفو طبقاتو به دغو کی ګډون کاوه ، سازونه ، محلی ستدري . لوبی ، اونـــو ر
مراسم به پکی ترسره کیدل . دخوراك شیان پکی جلبی او ماهیان وو (لرمرحله دوهم کـال
۱۲ گنه ۳۰ مخ ۱۳۵۰ ، میله های بهاری کابلی ها)
(۲۵) کمري یوکلی دی چی دکابل ښار څخه جنوب ختیځ لوري ته ۱۸ کیلومتره لیري
دبگرامی په ولسوالۍ کی واقع دی دختیځ طول البلد په ٦۹ درجو ۱۷ دقیقو ۴،۸ ثانیو اود شمالی
عرض البلد په ۳۴ درجو ۲۸ دقیقو او ۲۱ ثانیوکی پروت دي . خلك یی بزګري کوي ۱۰ وزمکی
یی دلوګرله روده خړ وبیږ ي . دمیوو باغونه هم لري هو ایی له کابله یوڅهتــــــود ،
اوداستوګنی لپاره ښه ده . (جغرافیایی قاموس ۵ توك ٦۴ مخ ، ۱۳۴۹ افغانستــــــا ن
اکاډیمی)
(۲٦) استادکهزاد ددغه مناریه باب کاږ ي . ((در افق جنوب شرقی روي تیغ کوهی خط
عمودي سیاه رنگ باریکی معلوم میشود ، این خط عمودي سیاه عبارت ازمنار (چکري) است
منارچکري ازنظر مفهوم جغرافیایی ، تاریخی ، فرهنگی و معماري یکی ازآثارمهم است .
منارچکري که روي تیغه کوه قرار دارد ، بحال موجود درحدود ۲۵ متریابیشتربلنـــــدي
دارد وقطر وقاعده آن درحدود ۷۰ متر است . منارچکري به شکل استوانـه یی ساختــــه
شده به نحوي که قسمت هاي بالاي آن بتدریج نازك شده میرود . حصه سرمنـــــــار
به شکل زنگ شتراست . . . چنین معلوم میشود که درزمانه هاي باستان درحصـــــص
فوقانی منار مذکور (چرخه) یعنی (عرده) که علامه قانون وآئین بودایی بود وضــــع
شده بود ، منارچکري یك آبده مذهبی بوده موجودیت آن از ائین بودایی نمایندگی میکرد
نوموړ ي استاد اټکل کړي دي چی دغه مناریه داشوکاپه زمانه کی دد ریمی ترمیلاد دمخه
پیړ ی په لومړ یه نیمایی کی جوړ شوي وي (وګوری ! افغانستان دربرتو تاریخ ص ۲۰٦ ـــ
۲۰۷)
(۲٦) اصل : کجی .

خرقهٔ شریفهٔ داحمد شاه بابا قبر او عالمان ، په زاره پنهرکی ځای دمیاعبدالحکیم صاحب(۲۷) لخکۍ او چهل زینی (۲۸) دارغنداو شکر پاره ، سیب واروگان (۲۹) دخشکاوې آب جوش ، توري وخکی مميز او انګور ، دپنجوایی انار ، دباباولی صاحب زیارت (۳۰) په خاکریزکی دشاه مقصود بابا کرامت ، په ارغسان کی د داورنیکه نمسیان ، دزمینداور طالبان دسیابند ګدا ن(۳۱) او غوری ، په هرات کی مصلامناري .

---

(۲۷) عبدالحکیم کاکړ مشهوربه ناناجیوصاحب چی په کندهارکی په میاصاحب مشهوردی دشاه حسین هوتك په زمانه کی د ۱۱۴۵ هـ ق شاوخوا دکندهارد خلکو ستر روحاني لارښود و . دزوکړي زمانه یې ۱۰۷۰ هـ ق کال ده او په ۱۳۵۳ هـ ق کال وفات شوی دي . مزاريې دبلوچستان دلورلایی په چوتیالۍ کی دی ، اختصارحصن الایمان ، نسب نامهٔ غلجی ، دطریقهٔ تلقین په نامه پارسی مقاله دده آثاردي په کندهاردشیخیت دطریقو سلسله ده ته رسیږي (دمیافقیرالله پیژندلیك ۳۷-۳۸ مخونه . دلوی استاد پوهاند حبیبی تاٴ لیف) . دکندهارپه زاړه ښارکی دنارنج دمانۍ ترڅنګه يې اوس هم خانقاه شته ، اویو مجاوريکی هستوري .

(۲۸) چهل زینه : لوی استاد حبیبی کښلي دي : ((چهل زینه بر فراز کوه سرپوزه طرف غرب شهر قندهارطاق سنگی درکوه تراشیده شده . که مردم آنرا چهل زینه خوانند . ومحمدمعصوم آنراعمارت ((پیش طاق)) خوانده است وګوید : ((که به فرموده بابرپادشاه درکوهی که موسوم به سرپوزه است ازسنگ بریده اند وآن طاقیست درغایت ارتفاع ودرمدت نه سال هشتاد نفر سنگتراش هر روز درآنجا کارکرده باتمام رسانیده اند . الحق جای نفیس وفرح فزاست . . .)) درطاق چهل زینه کتابه هایی به خط زیبای نستعلیق نشرشده است . ودردو سطر دیوارغربی نوشته اند : که بتاریخ ۱۳ شوال سال نه صدوبیست وهشت محمد بابر پادشاه فتح قندهارنمود ودرهمین سال امرعالی ببنای این ایوان شریف نفاذ یافت . . . ودرنه صدوپنجاه وسه باتمام رسید)) او دکتیبی له مضمونه ښکاري ، چی دجوړیدو کاریې په ۹۳۰ هـ ق کال پیل شوي ، او په ۹۵۳ هـ ق کال پای ته رسیدلی دی . (ظهیرالدین محمد بابر شاه ، ص ۱۱۳-۱۱۴ . د ۱۳۵۱ ش کال

(۲۹) اروګان = شفتالو ګان (س)
(۳۰) دکندهارمشاهیر نومی کتاب لیکوال دده په باب لیکلي دی : ((دي دکندهار مشهور پیر اوبزرګوا رشخصیت دي . چی لویان اوواړه یې زیارت احترام کوي . مزاریې دکندهار دښار شمال لوید یز خواته په شپږ کیلو متری کی واقع دی ، او د کال په ټولو موسمونو په تیره بیا په پسرلی کی زیارت خلک ورځی . په پنجشنبې ، چهارشنبی اوجمعی په ورځوکی هلته لویه میله جوړیږي . دده اصل نوم بابا حسن ابدال و ، دبزرګواري ، خرق ، عادت دخرګند ولو له کبله خلك بابا ولی ورته وایی په (۹۲۴ هق) کی په کندهار کی وفات شوي دی)) .
(دکندهارمشاهیر ۱۱۲-۱۱۸ مخونه ، دمحمدولی زلمی تاٴ لیف د ۱۳۴۹ ش کال دکابل چاپ)
(۳۱) ګدان : دګډ جمع = ګوسفند (س)

او د حکمتیا دنهمهر، په ترکستان کی مزار د شاه اولیاء، د شادیان خربوزي، په بلخ کی دعیارانو برج ، د تاشقرغان انجیر، په میمنه کی زیارت دا صحاب کهف، په ایبك کی تخت د رستم . د سنگ چارك تیکه، د قطغن آسان، د بدخشان لعل، داندخوي قالینی ، په کامرد کی دهاجرچینه، د درانیوحوصله ، دغلجیو بد دماغی، دمحمدزیو شان وشوکت ، د هزارو ومحنت کشی دقزلباشو سلوك، دجبارخیلو خانان دسلیمان خیلو سانگه (۳۲) وهل دحسین خیلو دم وچوف، دناصرو کدري (۴) داندړو اتنونه ، داوتخیلو دوستی ، دازبکو تهرد ترکمانو وشخانی، د شغنان حسن ، د تاجکو کمیني (۳۳) دساکریوستانه توب، داحمدزیوزړورتوب، دمومند ومړنتوب، دتره کو پوونده ماري ، دمنگلو او دتوریو بدي دمرهیلو (۳۴) دولتمندي .

دعلیحضرت شهریاري ، انصاف اورحم دلی ، دنایب السلطنه صاحب دانایی دمعین السلطنه صاحب عدالت، دعین الدوله صاحب غوررسی، دعضدوله اونورو شهزادگانو او نورو کاردارانو صداقت اوخدمتگاري، دمحمودطرزي صاحب فصاحت او بلاغت نهایت مشهور دي (۳۵)

یو اعلان په پښتو کی

اول مقصد مو د اعلان دادی چی زموږ مبارکه ژبه رواج پیداکی او هرڅوك دي په باب کی دترقی دپښتو ښه ښه مضامین په افغانی کی ولیکی ، اویه واسطه ددې اعلان تولوپښتنو ته خبر ورکوم که څوك زما یا دبل چا دپښتو په مضامینو ایرادلري هغه دې خپله مدعا په پښتو کی ولیکی، او د سراج الاخبارمدیرصاحب ته دې راولیږي که بنده ، دهغه له جوابه عاجز سم، هغه ته به پنځوس روپی په طوردانعام ورکړم . اونعد ، هم شپږمیاشتی ده (۳٦)

---

(۳۲) سانگه = نیزه (س)

(۳۳) کمیني = خاکساري (س)

(۳۴) مرهیلو : سوداگران لوهانی وغیره (ایډیټر)

احقرالعباد غلام محی الدین افغان

(۳۵) سراج الاخبار ٦ کال ۱۷ گڼه ۳ ـ ۴ مخونه .

(۳٦) سراج الاخبار ٦ کال ۲۳ گڼه ۴ مخ

www.libtool.com.cn

ننديمه برخه

پښتني فولکلور

www.libtool.com.cn

د پښتو مشهور متلونه

(۱) نمر په گوته نه پټیږي (۱)

(۲) دچا سره او مه پاخه نه خوري

(۳) که هر څو غرلوړ وي بيا يې هم سرته لار وي (۲)

(۴) تل کاله يې فقيري وکړه د جمعې شپه يې ونه پيژندله

(۵) هسې غرهسې کربوړی (۳)

(۶) تروږخ تيري اوبه بيرته نه جاروزي (۴)

(۷) که خان يې په ياران يې

(۸) د ږيرو لرګي د يوه غوزي (۵)

---

(۱) په ((متلونه)) نومې اثر (د مرحوم استاد نوري تاليف کې يې په دې بڼه ضبط کړي دي:
((لمر په د ګوتونه پټيږي)) (ص ۱۲۱، پښتوټولنه د ۱۳۲۷ ش کال چاپ).

(۲) بله بڼه يې داسې ده: ((غرکه لوړ دی لار پر سربيره ده)) متلونه ص ۱۰۴

(۳) بله بڼه: ((دا غرا و دا کربوړی)) شرقي سيمې.

(۴) بل شکل يې داسې دي: ((تروږخ چې اوبه تيرې شي، بيرته نه راګرځي))
(روهي متلونه ص ۹۵ د پروفيسور محمد نواز طاير تدوين او ترتيب د ۱۹۷۵ ع
کال چاپ د پېښور - پښتو اکيډيمي) رحمان بابا دغه متل په خپل لاندې
بيت کې داسې اخيستی دی:

تروږخ تيرې اوبه بيرته نه جاروزي
نه جاروزي سيرساعت په بيرته بيا

(د رحمان بابا ديوان ص ۲)

(۵) بله بڼه: د ږيري لرګي د يوه غوزي (پښتو متلونه، د استاد بينواچان او ترتيب
د پښتو خيرنو بين المللي مرکز ص ۲۳۰، د ۱۳۵۸ ش کال چاپ) بل شکل يې:
((د ږيرو امسا د يوګيږ ی)) (روهي متلونه ص ۲۲۶) بل شکل يې د ږيرو لرګي د يوه ګيډ ی

(۹) که وروړشي ورورشي ورنه څه دخوارځ اورشي (٦)

(۱۰) په خپل کورکی خوسپی هم زمری وي (۷)

(۱۱) شنی خو په غلانه چیچلی کیږي(۸)

www.libtool.com.cn

(۱۲) اخترسپ میږه نه دی

(۱۳) که چرگ نه واي اذان به چا کاوه

(۱۴) چی بادنه وی پاڼه نه خوزیږي(۹)

(۱۵) بی میومست دی

(۱٦) په یو لاس کی دوي هندوانی اخیستی نه شی (۱۰)

(۱۷) خپله خوله قلا ده هم بلاده (۱۱)

(۱۸) دگوریه غاړه دی

(۱۹) د بیزو پرهاردي

(۲۰) ددوبی سخوندر دی

(۲۱) بنیروال دی

(۲۲) تیلی شړ شم زرغونوي

---

(٦) بله بڼه : ((که وروړسوي، وروړسوي، که نه ورځه دخواري خوارځ پرور سـ))
متلونه ص ۱۱۷

(۷) په روهی متلونه ص ۷۲ کی ددغه متل دري بڼی داسی راغلی دي :

((په خپل کورکی پیشو مزری وي))

((په خپل کورکی سپی پیاوړی وي))

((په خپل کورکی میږی هم توریالی وي))

(۸) په متلونه ص ۹۸ کی دغه متل ((خو)) نه لري ·

بله بڼه : چی چرگ نه و، اذان چاکاوه (متلونه ۳۷ مخ)

(۹) چی بادنه وي بوټی نه خوزیږي (روهی متلونه ص ۱۱۸) چی بادنه وي ونی نه
بنوري (متلونه ص ۳۴)

په ځینو پښتني سیموکی د ((ونی)) پرځای ((ونه)) ویل کیږي ·

(۱۰) په یوه لاس کی دوي هندوانی نه اخیستلی کیږي (پښتومتلونه ص ۱۵۵)

(۱۱) خپله خوله هم کلا ده هم بلا (متلونه ص ۲۸)

(۲۳). په بلو لنبو خيژي
(۲۴) د يو سفزيو لوزدی نه خلا صيزي
www.libtool.com.cn
(۲۵) دکچور يو سيلاب دي
(۲٦) زوړ کړ شپ دي
(۲۷) چي اوسی په رنگ په دهغو سی (۱۲)
(۲۸) مچ په پوزه باندي نه پريزدي (۱۳).
(۲۹) په يوه چپلا خه دسلوکسو مخ خوزيږي (۱۴)
(۳۰) دنه مير وملك سه بلو (۱۵)
(۳۱) دکول غوبي دی
(۳۲) دهرچا ته خپل وطن کشمير دی (۱٦)
(۳۳) دکراستی ملابند دي (۱۷)
(۳۴) دکوري آس دی هم بی ختـی هم بی تينـی
(۳۵) دنينو ميره ده
(۳٦) غوز ونه بی گتـل لکئ بی بايله (۱۸)
(۳۷) په سرراو ري بلا ده (۱۹)
(۳۸) ستوري بی الوتی دي (۲۰)

---

(۱۲) چی اوسی په خوی په دهغو سی (متلونه ص ۳۴)
(۱۳) نرمچ په پوزه نه پريږدي (شرقی سيمی)
(۱۴) په يوه چپلاخه دسلو مخ خوزيږي (متلونه ص ۲۱) په يوه څپيړه سل مخـــــه داغيږي (شرقی سيمی)
(۱۵) په متلونه ص ۷۵ کی ((دنه مر وملك سو بلو)) په روهی متلونه ص ۲٦۵ دنه مير وملك سويلو
(۱٦) په متلونه ص ۱۴۰ کی تر ((هر)) دمخه ((و)) نشته.
(۱۷) دامتل نه بلکه اصطلاح ده، د ((کراستی ملابند کيدل)) بی اعتباره (پښتـــو اصطلاحات او محاوري ۲۰۲ مخ)
(۱۸) بله بڼـه: غوز یی گاتـه سربی بايلو (متلونه ۱۰٦ مخ) بل شکل: غوز بـه گټـی سربه بايلی (شرقی سيمی)
(۱۹) بل شکل: په شاراوري بلا ده. (شرقی سيمی)
(۲۰) ددي نوموني (اصطلاح) بله بـڼه داسی ده: ستوري يې لويدلی دی. ستوري لويدلی.. دبدبختئ او طالع اوښتلويه مفهوم کاريږي (پښتو اصطلاحات) او محاوري، ص ۲۵۴، داستان دمرحوم نوري، پښتوټولنه کابل ۲۰ ۱۳کال.

(۳۹) زوړ بهار زین کړی آس دی
(۴۰) دکورشپه په ګورنه وي (۲۱)
(۴۱) دغاړی هاردي
(۴۲) دبنارس‌ټګ دي
(۴۳) دچرګ هندوکی دی
(۴۴) لنګه غوا ده
(۴۵) دژمی اوردی هرخوك بی خانته راکاږي
(۴٦) دتروو مـچ دی
(۴۷) دژمی شپه ده
(۴۸) له آسمانه شور واراکوزوي(۲۲)
(۴۹) دزهروګوټ دی
(۵۰) داوبو ماهی دی
(۵۱) ما رخوړلی خوله پر ي نه ویریږي(۲۳)
(۵۲) تشی شلومبی (۲۴) شاربی
(۵۳) دمازیګرزیر ی نمردی
(۵۴) داوسپنی چنـی چیچل دي
(۵۵) دمرین له ذات نه دی
(۵٦) لټ‌غوین دی

---

(۲۱) روهی متلونه ص ۲۴۸ کی : په لوړه بنهـه ضبط دی، خوږه متلونه، ص۰ ۷کـــی : دګور شپه نه په ګورکیږي، داس هم ویل کیږي : دکورشپه په ګورنه وي، دګورشپه په کور نه وي.

(۲۲) داهم اصطلاح ده : ((دآسمانه بنوروا کښته‌کول)) چی دلوړ قدله پاره دکنایـــی په ډول استعمالیږي(پښتو اصطلاحات او محاوري ص ۱۷۸ــ۱۷۹)

(۲۳) بله بنهـــه : مارچیچلی‌له پـــــــــــــــــري ویریږي (پښتو متلونه ۴۲۱)

(۲۴) اصل : شلنـــی

(۵۷) دپشکال باران دي

(۵۸) دهوا مرغي دي

(۵۹) خالي لوښی دی

www.libtool.com.cn

(٦۰) دسپي غرمن یې په مخ اچولی دی(۲۵)

(٦۱) دجولاتنسته ده

(٦۲) دغشی گذار دي

(٦۳) دسوال سپرلی دی

(٦۴) دقیانوس دکال ده

(٦۵) دبله دگوروان په وشه

(٦٦) کارغه دزرکی تگ زده کاوه خپل یې هیر شه (۲٦)

(٦۷) هلته به دې زده سی چې په ادرک بدرنگ دې شبه سی

(٦۸) ایرابورغواړي بیرانورغواړي (۲۷)

(٦۹) دکونډې دوه غواړي وویوي ووت نه بل ننووت نه

(۷۰) الم نشرح خو هغه الم نشرح ده مگر خوله دملانصر وغواړي

(۷۱) ته به وایې چې ولی یې وهلی دي

(۷۲) داورسوي په اور رغیږي

(۷۳) دپردې زوی نه خپله رنده لورښه ده(۲۸)

(۷۴) دکونډې زوي دی

(۷۵) دخان دملاتسوره ده

(۷٦) دارهټ (۲۹) منگوټسی دی

(۷۷) دخو ورخو میلمه دی

---

(۲۵) داهم اصطلاح ده بڼ دسپي پوست پرمخ غوړول)) دبې حیاکیدلو ، بخیل کیدلو په مفهوم استعمالیږي (پښتو اصطلاحات او محاوري ص ۱۹۸)

(۲٦) بله بڼه : کارگه دزرکی تگ کاوه خپل یې هیر شو (متلونه ص ۱۰۸)

(۲۷) بل شکل : ایرابورغواړي او بیرانورغواړي (روهی متلونه ص ۲ ۳)

(۲۸) بله بڼه : دپردې زوی نه خپله لور ښه ده (روهی متلونه (۲۰۷)

(۲۹) اصل : هرهټ

(۷۸) له خیاله دلونګو لونه کوي

(۷۹) د پوزې پیزوان سه

(۸۰) د شرم توکړ ځ ده

(۸۱) پیازدې وي په نیا زدې وي

www.libtool.com.cn

(۸۲) د بوډۍ ځ خرخه ده

(۸۳) په شو د و سوی اوبه پو کی (۳۰)

(۸۴) د خره ماغزه یې خوړلی دي

(۸۵) لکه تپوس یه نبتی مر زیاندې غوته وهی

(۸۶) د چرګ میخ تبیله ده

(۸۷) پمینه یې ضرر غوښتی دی

(۸۸) سودیې کاوه سودایې بایلله

(۸۹) لا س یې تورسپی ختلی دی (۳۱)

(۹۰) چې په ځان کې وینی په جهان کې وینی

(۹۱) چې درانه بارونه وړي خوراك یې ځوز دی

(۹۲) کونډې کونډۍ ځ اخله د سر سلامتی عوارہ

(۹۳) لنډ یې له اوږ د سره برابراوه له بیخ یې ویوست (۳۲)

(۹۴) د لوګري چې لوته زره نه وي نولوریه لوته اچوي

(۹۵) له نیستۍ نه سپی سکولوي

(۹۶) هیڅ پیت نه لري

---

(۳۰) په شیدو سوی مستی پوکی (متلونه ص ۱۸) بله بڼه: په شودوسوي شرو مبسې پوکوي.

(۳۱) لاس یې تورسپی ختلی دي (متلونه ص ۱۱۹) بله بڼه: لاس یې توري پشکی (پشی) ختلی دي.

(۳۲) لنډ یې د اوږ د سره برابر اوه د بیخه ووت (متلونه ۱۲۲) په ځینو نوروسیمو کی: لنډ یې له اوږ د سره برابراوه لنډه له بیخه ووت.

(۹۷) په مینه یې سپین انګولي

(۹۸) سرې د سرکوزي دی

(۹۹) دمټ شیطان دي

(۱۰۰) دمابین سنډ ادي

www.libtool.com.cn

(۱۰۱) دجوجري کټ دی

(۱۰۲) دخره لکۍ ده چې هره خواته یې کړوي نیم ګز خیژي (۳۳)

(۱۰۳) خرچې دخره پاته سې غوز دي په بېخ کې پریکې (۳۴)

(۱۰۴) غلبیل ولاړ شه کوزې ته یې وویل چې سوري یې (۳۵)

احقرالعباد غلام محی الدین افغان (۳۶)

۱۹ ربیع الثانی سنه ۱۳۳۵ ه ق

PROPERTY OF ACKU 1509

---

(۳۳) دخره لکۍ چې د هرې خوا لویشت کوي یو شان (روهی متلونه ص ۲۱۹) بله بڼه: دخره لکۍ چې له هر خوا لویشت کې دوې لویشتې ده (متلونه ۶۲)

(۳۴) خرچې دخره پاتې شې نوغوز یې پریکړه (روهی متلونه ۱۸۳) بله بڼه: خرچې له خرو پاتې شې غوز یې د پریکولو دی (شرقي سیمې).

(۳۵) غلبیل ولاړ سو کوزي ته یې ویل سوري لرې (پښتو متلونه ص ۳۷۹) دا سې هم ویل کیږي: غلبیل کوزي ته وایې چې په تاکې لوه سوري دي.

(۳۶) دغه متلونه د سراج الاخبار د ۶ کال په ۱۴ ګڼه ۸ـ۹ مخونو کې چاپ شوي دي.

د کابل او ننگرهار د پو هنتو نو نو

لــه خــوا د افـغانډ شپېتـم تلين

په ویاړ دغه لاندی کتابو نه اور سالي

چاپ شــوی دی :

(۱) دغلام محی الدین افغان افکار او آثار
(۲) د افغــان یـاد
(۳) ادبــی څیړ نـی
(۴) پښتـو لیکلار
(۵) د پښتو دنوی ادب لاری
(۶) پـښتو ډرامــه
دوی وروستي رسالـی د افغـان یاد
پــه ملتیا خپر یږی .
(۷) پـښتو متلو نــه (د علوم و دا کاډ یمی
لــه خــوا)

د چاپ شمیر : ۱۰۰۰ تــوکه

دلوړو اومسلکی تحصیلاتو دوزارت مطبعه

www.libtool.com.cn